shafaq

شفق

ارګان نشراتي حزب اسلامي افغانستان

دثورپرکودتا

یوبل مرګاني ګوزار

دکودتا په تل کي هنګامي

د "حزب اسلامي" لدریځ مشروعیت

اودخپلومشرانو تزلزل اوانديښني

دوروړ "حکمتیار"

دکب داتمي نیتي دتاريخي وينامتن

دجنرال شهنواز "تني"

دمطبوعاتي کنفرانس

اومرکي متن



زړه څنګه ډاډمنیدای شي ؟

حضرت ابوحفص (رض) طرطوسی خپله یوه پیښه بیانوی چې زه یوځلې د حضرت ابوعبدالله خدمت ته حاضرشوم اوپوښتنه مې تری وکړه جناب! داراته ووایی چې زړه څنګه نرمیدای شي ؟

حضرت احمدبن حنبل (رح) لومړی دخپلو شاګردانو لوری ته وکتل، بیاترډیره وخته چوپ پاتې شو، وروسته یې سرراپورته کړوی ویل :

« ګرانه زویه! زړه په حلالو خوړونرمیږي » دحضرت خبره زماپه زړه کې کښیناسته ، بیاله هغه ځایه راپاڅیدم ، بشر بن حارث ته ورغلم .... اوتري مې وپوښتل « ابونصرووایاست زړه څنګه نرمیږي ؟ ابونصرراپورته شووی ویل : غوږونه خلاص کړه اووایه وره! دالله تعالی په ذکرزړونه نرمیږي .

ماابونصرته وویل : وروره! زه همدااوس ددې خبری دپوښتلو لپاره حضرت احمدبن حنبل (رح) ته ورغلی وم اوله هماغه ځایه تاته راغلی یم ، ابونصرپه ناآرامي سره وپوښتل هو! هو! ووایاست بیانوحضرت (رح) څه حواب درکړ، ماورته وویل « دحلالي روزی په وسیله »

ابونصر سروخوځاوه وی ویل بیخي یې سمې ویلې دي ... بیازه له هغه ځایه راپاڅیدم ، عبدالوهاب ته ولاړم اوورته مې وویل :

« دابوالحسن زویه ! داراته ووایه چې زړه په څه نرمیږي ؟ هغه هم په سملاسي توګه هماغه آیت ولوست چې ابونصرلوستلی و. هغه ته مې وویل چې زه دهمدې خبرې دپوښتنې لپاره حضرت احمد بن حنبل ته تللی وم ، ددې خبرې په اوریدو دعبدالوهاب خوله له خوشالي نه خلاصه پاتې شوه په ډیره چالاکۍ سره یې وویل ، هو! ژرووایه بیانوحضرت څه ځواب درکړ، ماورته وویل چې حضرت وفرمایل : چې زړه دحلالي روزی په‌وسیله نرمیږي ، وی ویل الله ګواه دی چې ابوعبدالله دتول خبره کړیده .

بسم الله الرحمن الرحيم

شفق
shafaq

ارگان نشراتي حزب اسلامي افغانستان

دوردوم ، سال پنجم ، شماره هشتم ، برج حوت ۱۳٦۸ ش

سال تاسیس ۱۳۵۹ ش

فهرست

پیغام شفق	۲
دثورپرکودتایوبل مرگاني گوزاز	٤
غرب درتلاش بهره برداري ...	۷
دکودتاپه تل کي هنگامي	۱۳
دورور"حکمتیار" وینا	۱۵
دجنرال شهنواز"تني" مطبوعاتي کنفرانس	۲۳
دلویدیزوالوخپلمنځي اختلافات	۳۱
بي رنگه کرسي	۳٤
نگاهي به اقدام اخیرارتشیان ...	٤۰
کابل شهرحماسه وخون	٤٤
په اسلام کي حکومتي نظام	٤٦
حکومت اسلامي چگونه ساخته میشود	۵۲
پراخ بنسټه حکومت دغرب سترارمان	۵۸
عدم موفقیت نظامهاي سرمایه داري وکمونستي	٦۰
دکابل ملحدرژیم دخپلمنځي بي باوري په اور...	٦۳
باوجوداصلاحات گورباچوف ...	٦۷
دجنوب غرب حوزي له دریوقوماندانانوسره مرکه	۷۲
قرآن اوجهاد	۷٦
د۱۹۸۹ کال مهمي پیښي	۷۹
په اسلام کي دتفاهم اومشوري اصل	۸٤
دبدرغزا	۸۷
حقیقت شعایرازدیدگاه اسلام	۹۲
دمسلمان وژلوجریمه	۹٤
پیام راستین به مجاهدافغان	۹٦

مدیرمسئوول :

فدامحمد"فایض"

اعضاي نویسنده :

محمدرحیم "خنجر"

فضل مولا"لتون "

کمپوززران :

عبدالقدوس "هوتك "

خواجه محمداسحاق

ادرس مکاتباتي :

پاکستان ، پشاور، یونیورستي تاون

پست بکس ۱۰۲۸

مدیریت مجلهٔ شفق

نمبرتلفون ٦۳۷۸۹

PROPERTY OF ACKU

شفق

حزب اسلامي افغانستان
قيام سربازان اردو
تبليغات منفي

درزمان حکومت فاسد ظاهرشاهی ، که تحریکهای غیراسلامی درکشور به کمك باداران خارجی شان پایه گذاری گردید وضمناً ازحمایت ظاهرشاه وخاندان فاسد آن نیز برخوردار بود ارزشهای مادی ومعنوی کشور راخطرجدی تهدید می کرد. درین فرصت حساس ضرورت به منجی بود تاکشوررا ازورطه هلاك نجات داده به سوی ساحل نجات رهبری کند.

حزب اسلامی افغانستان بحیث یگانه حامی کشور وارزشهای مادی ومعنوی آن برای نجات ملت درزمان حکومت فاسد ظاهرشاه ازطرف افرادصالح ، مومن ومتعهد ودلسوزبه اسلام وملت کشوربنیانگذاری شد وبرای رسیدن به سرمنزل مقصودکه همانانجات ملت از بیراهه هاوسیه روزیها وتاسیس یك نظام اصولی اسلامی بود تلاشهای پیگیری براه انتید رهبران ومتعهدین این تنظیم ازطرف نظامهای مزدوروقت مورد تهدیدهاقرارگرفتند ، روانه زندان شدند وبخاطر نجات ملت ازسقوط درگرداب کفر وضلالت ازطرف نظامداران مزدور وقت به شهادت رسیدندوآنهایی که از چنگ ظالمان نجات یافتند راه هجرت درپیش گرفتند.

گرچه محیط هجرت چنان شد که افراد دیگری نیز دست به تشکیل تنظیمهابزنند ولی ملت مومن وآگاه مااز همان آغاز شاهد این همه جریانات بوده است ودرین دوران یازده سال انقلاب نجات بخش اسلامی خوب تمیزداده است که ، که برای نجات ملت قاطعانه مبارزه نموده است که حیثیت فردفردملت مومن مارا وقعی مي گذارد وکه هاآنهارا فاسق وفاجرو..... میخوانند.

حزب اسلامی افغانستان وقیادت خبیر وآگاه ودلسوز آن همیشه کوشیده است برای نجات ملت ازآلام ورنجهاوپیروزی جهادمقدس ودوران سازماراههای مفیدومثمری را اتخاذ نماید زیرا امروزمی بینیم که

دشمنان سوگندخورده ماکه تحمل یك افغانستان اسلامی برای آنهاخیل دشوارتمام می شوددرراه پیروزی انقلاب اسلامی مامشکلات گوناگونی را ایجادمی کنند وشکی نیست که برخی ازدوستیان ما نیز باآنهاسرموافقت می جنبانند .

دشمنان دوست نما خواستند، انقلاب مارا درآخرین لحظات پیروزی بابن بستی مواجه سازند وبه ملت ماومردم جهان چنان تاثربدهند که دیگر مجاهدین نمیتوانند راه خودرا بازکنند چنانچه درجنگ جلال آباد درآخرین لحظات پیروزی مشکلاتی ایجادکردند ومجاهدین مجبورشدند عقب نشینی کنند .

این کارفرصت بهتری به غرب داد واینك یکسال می شود که صدای امریکا وبی بی سی تبلیغ می کنندکه آنطوری که پیشبینی می شد مجاهدین نتوانستند حکومت نجیب را از پادرآورند . گویا هدف غرب ازین تبلیغات این است حال که مجاهدین نمیتوانند کاری ازپیش برند باید راه دیگری راجستجو کرد وآن همانا آوردن ظاهرشاهی است که مسئوولیت حالت امروزی کشور بردوش اوست وباید درقضای اسلامی محاکمه شده به جزای اعمالش رسانده شود .

حزب اسلامی افغانستان همواره قاطعانه اعلام داشته است که ملت مومن ما برای وصی وقیم ضرورتی ندارد، ملت ما صلاحیت واستعداد آنرا دارد تامسایل مربوط بخودش را حل کند حزب بخاطر نجات انقلاب اسلامی ازبن بستها همیشه طرحهای ابتکاری راپیشنهاد نموده است چنانچه طرح انتخابات به اساس نمایندگی متناسب ازابتکارات مهم حزب اسلامی افغانستان بشمار میرودولی غربیها دربن مورد نیز دوستان خودرا مشتعل ساختندوعلیه حزب تبلیغات سوء وزهر آگینی براه انداختند که گویا انتخابات یك روش اسلامی نیست ودرراه تعمیل این روش حلال مشکلات ماموانعی ایجادکردند که این روش عملی نبوده ولی انتخابات درولایت کونر که اخیراً پیروزمندانه صورت گرفت حقانیت ومعقولیت موقف حزب اسلامی راعملاً به اثبات رساند .

همچنان درقیام افسران اردو که بتاریخ ۱۵ حوت براه انداخته شد، ابتکارحزب نقش اساسی رادارد . قیام کنندگان اظهارداشتندکه هدف آنها هرگز بدست آوردن قدرت سیاسی کشور نبودبلکه مامیخواستیم نجیب جلاد ازبین برود، خونریزی کنونی کشورخاتمه یابد . به این اساس فیصله ماابن بودکه به آغوش بازملت برگردیم، درپهلوی ملت بایستیم وبرای ازبین بردن رژیم مزدورنجیب مبارزه نماییم تادرصورت استیصال حکومت نجیب قدرت سیاسی کشور به یك حکومت منتخب اسلامی سپرده شود . ولی برخی از دوستان ماکه گویاحزب اسلامی بقدرت رسید وماهمینطورماندیم لفانهایی سردادند، بیهوده گوییها راآغاز کردند اماحزب اسلامی به صراحت ابراز داشت که هدف ماازتایید این قیام فقط ازبین بردن نجیب مزدور وتشکیل حکومت موقت است تا درمدت شش ماه برای انتخابات زمینه سازی کندورنه حزب اسلامی نمیخواهدازطریق کودتا بقدرت برسد ونه این قیام را میتوان کودتا خواند زیرااین قیام همراهی ملت راباخودداشت واین قیامی بودبخاطر نجات ملت اززیر کوله باررژیم دست نشانده نجیب وبمیان آمدن یك حکومت منتخب اسلامی .

بناءً تبلیغات آنانی که میخواهند به زوردیگران وغیرقانونی برگرده ملت سوارباشند موردی ندارد ونه برملت مجاهدماتاثرسوئی داشته میتواند . آنان میخواهند بااستفاده ازین تبلیغات نظرملت رابسوی دیگری معطوف دراند تاازیك سو عمر حکومت غیرقانونی شان چندروزی طول یابد وازطرف دیگر یکباردیگر حزب اسلامی رابنفع دوستان شان تحت تبلیغات شان قراردهند .

تبصره سیاسي

دثورپرکودتا یوبل مرګاني ګوزار

سباوون ،مومند

وروستیو پیښو وښوده ، چې دنجیب لاسپوڅي حکومت ، دګینوداد عاپرعکس ، دومره ځواکمن نه دی .

له افغانستان نه دروسي پوځونو دوتو په ورځوکې به دنړی سیاسي اوپوځي تړلیو داسي خوشبینانه تبصری کولې ، چې دنجیب حکومت دځوورځو میلمه دی . لیکن دیوليږعواملو لامله نوموړی حکومت نه یوازې له منځه لانړ ، چې دغه دځواکمنې سندری غږول هم پیل شوی .

داریانتیا وړداده چې دغه سندری به همغه چا زیاتې ویلې چې دمجاهدینو دوستان ګڼل کیدل . تردې چې په اصطلاح دمجاهدینودغودوستانو به ورته په یوه پهرا خ بنسټهې حکومت کې دنجیب خیلو دراشریکولو مشوره ورکوله . اوپخپله نجیب خوبه تردې هم جګه باروله .

بنایې دنجیب ددغه کاذب متهولیت پرلامل داو ، چې نوموړی دخلق اوپرچم ډلو دیوموټهې کولو له لاری خپل کورنی مشکلات تربحرانږیرکم کړی اوپراوضاع نسبتاً مسلط معلومیده .

په داسې حال کې چې وړاندنیویي پرګنهو ستونزو سربیره دخلق اوپرچم ډلو دتربګنۍ ستونزه هم په مخکې ارله . لکه تره کی اوامین چې دواړه خلقیان اونوك او وری ګڼهل کیدل ، دخلق اوپرچم پرسرنیودبل تربوران شول . کارملشاه اونجیب شاه خودخلق اوپرچم تربګنۍ په ژوندله هیواده ورك کړی وو . چې بیایې دروس لمن پرسرسیوری کړه اوهله افغانستان ته راغلل چې خلقي امین یې تورو خاوروته لیږلې و .

له روسي یرغل سره سم ، کارملشاه ددی له پاره پرتخت کښینول شو ، چې نوموړی دپرچم ګوندد پیژندلې څیری ترڅنګ یوهې کینې شخص و . روسانو داګڼله چې دده پرراوستوبه دخلق اوپرچم دښمنی دتل له پاره ختمه کړای شي . کارمل هم پرخپل وارخلقي عناصروته ډیری غوړی زیړی وویل ؛ خوځه نتیجه یې ورنکړه ؛ اوپه دی توګه دخلق اوپرچم تربګني پرتربګنۍ پاتې شوه ، بل خواروسي واکمن دمرګ په تبه پراته وو ، یوبه یې لانښخ کړی نه و ، چې بل به خوله وازه نیولې وه . پردی اساس روسي مشرانوته دخلقیانو اوپرچمیانو دستونزی داواری پوره وخت په لاس نه ورته .

هیاکله چې نسبتاً ځوان ګورباچوف داقتدارپرګدی کښیناست ، نودبریژنیف راوستي کارملشاه پرځای یې نجیب شاه اویادنجیب په خپله اصطلاح نجیب الله رامنځته کړ . دبیرك پرځای دنجیب واکمنیدو دخلق اوپرچم ډلو په پوخلاکیدوکې ډیره مرسته کولای شوه ، ځکه ، دنوموړیو ډلو په جوړښت کې ژبې اوپلو(سمت) پوزه رول درلود .

په پرچم کې زیاتره پارسیوانان اودخلکوپه ګوندکې پښتانه راغونډدي . نونجیب چې له پرچمي توب سره سره پښتون هم دی ؛ ددغې ستونزې په اواری کې یې پوره

لاس کړلای شو.

که یو پو نجیب دژبې له مخې دخلقیانو دمننې وړشخص و، او روسانو کولای شوو دده پوسیله دخلق اوپرچم ددوښمنې اورمرکړي! نوپل پلوداسلام اومسلمانانو په وړاندې یې سخت دریځ ی دی نورهم دگورباچوف دمننې وړگرځاوه .

پردې اساس ، لکه داڅوکاله دمخه چې ماپه خپل یوه مضمون کې، چې عنوان یې دی :« آیاروس به دنجیب په رامنځته کولو سره له ورپیښ سرخوره ځان خلاص کړای شي ؟!» ورته گوته نیولې وه ، گورباچوف هم افغان کشاله دزورله لارې حل کول غوښتل . په بله وینا، گورباچوف دخلق اوپرچم دپیاوړې جبهې دجوړولوله لارې دمقاومت پرځاکنه دمرگانې گوزارد کولونیت درلود .

که څه هم دخلق اوپرچم مصنوعي اتحادخوتریوه وخته دسیاسي تهولیوسترگي وبریښولی ، اونجیب په دې برخه کې یوڅه بری ترلاسه کړ. خونومورې بیا دمقاومت په ځپلوکې پاتې راغی .

اوله ناچارۍ یې دملي پوخلاینې نغاره وډنگوله .

اوس ، نجیب ته یوه لارپاتې وه، اوهغه دخلق اوپرچم ډلو دیوموټي ساتلو لار. لکه دمخه موچې ورته نغوته وکړه نجیب په دې باب له ځانه پوره انعطاف وښود. اودهمدې نرمښت په نتیجه کې دخلق اوپرچم ظاهري اتحادپوڅه ممکن شوی هم و.

په داسې حال کې چې د زید، ای ، سلهري ، په خپل کتاب « مسأ له افغانستان » کې دنجیب رامنځته کیدل دمقاومت ځواکونو په وړاندې دنوموړي دانعطاف اونرمښت له مخې گڼي ، ښایي « سلهري صیب » دگورباچوف د«گلاسنوس » او «پرویستروېکا» تراغیزلاندې دغه

> که څه هم دخلق اوپرچم مصنوعي اتحادخوتریوه وخته دسیاسي تهولیو سترگې وبریښولې اونجیب پدې برخه کې یوڅه بری ترلاسه کړ خونوموړی دمقاومت په ځپلوکې پاتې راغی

نظرورکړی وی ، اوکه نه داسې به څوک وي چې دنجیب په سرتمبگې کې شک وکړي ؟ نجیب خان خوپه سرتمبگې اوناړامۍ کې نوم لري ، اوله همدې کبله داافغانانوترمنځ په « غوېي نجیب » مشهوردی .

نجیب چې دخاددریاست په دوره کې کوم څه کړي ، قلم دهغوله کښلوعاجزدی .

بل ، دببرک غوندې یې له بهره راوستل اودخاد دنام ریاست ورسپارل ، داټول ښیي چې دروسانونجیب زموږنجیب ملت ته مخ نلري . اوپردې حقیقت باید روسان هم پوه وي ، خودڅه له پاره چې دببرک ددې روسي شاه شجاع پرځای نجیب داروسي دیکتاتور عبدالرحمان خان پرتخت کښیناوه شي ، هغه همغه دگورباچوف د خلق اوپرچم ډلو دیوموټي کولو، داسلامي ځواکوپه وړاندې د خلق اوپرچم دپیاوړې جبهې دجوړولو اوبیاله همدې لارې دمقاومت دټکولو هیله ده . پاتې شوه دملي پوخلاینې خبره ! نوهغه خولکه دمخه موچې هم ورته گوته ونیوه، له ناکامه پکې راغله. اوکه نه نجیب خواصلاً داسلام دمونداپستوله پاره اقتدارته رسول شوی و.

دخلق اوپرچم ډلو دمصنوعي اتحادپرده یې هم داردو دمبارزو افسرانوپاڅون وشلوله ، اودایې وښودله چې دنوموړوډلو په یوموټي کولو کې هم پاتې راغلی دی .

البته ، پورته چې څه وویل شوو، په ښه توگه دغلته دروسي منصوبو اوچلوټو دتسنسیدوپه ارتباط دی ، اوکه نه داردودافسرانوقیام .

له یوې بلې زاویې هم څیړل کیدای شي . اوهغه ددغوافسرانوپه اذهانوکې دبدلاته اوتحول دراتگ خبره ده . اوښایي دپاڅون آرلامل هم همداوي .

په دې وروستیوکې، په کمونیستي هیوادوکې یولړداسې بنسټیزبدلونونه رامنځته شول چې تصوريې هم نشو کیدای . له افغان جهادڅخه په الهام اخیستنه لومړی په پولینډ اوبیادختیزې اروپاپه نوروکمونیستي هیوادوکې وگړې دروسي تسلط اوبرلاسې پرخلاف راپاڅیدل، اوورسره کمونیزم یې دروسي واکمنې دحاکمې ایډیالوژۍ په توگه مستردکړ. نورخولاتورچې پخپله په روسیه کې یې هم ایلې ولسونه پرضد راولټیدل اودخپل خپلواکۍ دترلاسه کولو له پاره یې توري ته لاس کړ .

اوس ، نوکه تنې اوملگري یې دنجیب اوکمونیزم پرخلاف راپورته کیږي ، نودا کومه اریانوونکې پیښه نه ده. ښایي تنې اوملگري یې هم دې ټکې ته ځیرشوي وي چې کمونیزم چې په ختیزه اروپاکې راوپرځول شو؛ نوپه افغانستان دغه دمجاهدواتلانوپه هیوادکې

خوښ شکله هم واکمنی نشي
کولای ، اوله دی لامله یې
تاریخ اوملت ته دځان سپینولو
له پاره دمجاهدوملګرتیاغوره
کړی وی .
دمبارزو افسرانو دکودتا
اوقیام دبری اولری په دواړو
صورتوکی ټولو نړیوالواوپه تیره
دنړی سیاسی ټولیوته داحقیقت
ښه ترانځرګندیدای شی چی
نجیب لکه داسلامی مقاومت په
ځپلو کی چی پاتی راغلی و،
همداسی دخلق اوپرچم ډلوپه
اتحاداوپیوستون کی هم پاتی
راغلی دی . اودده داپاتی راتګ

اوس نوکه ټني اوملګري يې
دنجیب اوکمونیزم پرخلاف
راپورته کیږي داکومه
اریانوونکي پیښه نده ،

دکریملین دطراحانو پرراتلونکیو
پروګراموزښت زیات اثر
غورځولای شی .
که تردی دمخه روسی
واکمنو زړه نازړه دنجیب
دبدلانه خبری کولی ، اوخپل
وخت به یی پاساوه ؛ اوس
مجبوردی چی دنجیب پرځای
یوی بلی مهری پلټه کی شی
. اوښایی چی داځلي مهره یی
ظاهرشاه وي .
خدای (ج) مکړه ، دمبارزو
افسرانو دمقاومت دناکامی په
صورت کی روسی پروپاګندی
دستګاه ته موقع په لاس ورځی
، چی ترپخوازیات دظاهرشاه
په ګټه تبلیغات وکړی .
دروسی واکمنوله دیپلماتیکی
هلوځلو څخه خوڅرګندیږی چی
هغوی خولاله پخوادظاهرشاه
راوستوته لېوالی ناست وو .
خوبل خوابه یی چی کتل چی
جهادی ځواکونه دنوموړی
سرسخت مخالف دي .
اودنجیب په شان ورسره
دجهاد کولو خبری کوی ؛
نوخپله خبره به یی غلی کړه .
خوکیدای شی
دمبارزوافسرانودقیام دناکامی په
صورت کی خپل پروپاګند په
دی شکل پرمخ بوځی ، اوس
چی دافسرانوقیام هم وټکول
شو ، دظاهرشاه له رامنځته کولو
پرته بله چاره نشته . ممکنه ده
دروسانوتبلیغات موثرهم ثابت

اوس دادجهادي قوتوکاردي
چي دجهاداواسلامي انقلاب
پرضددنړیوال
استکبارتوطئو ته پوره
ځیراوسي او انقلاب له
کړلاري نه وژغوري .

شی .
اودنه موثریت په صورت کی
یی هم روسی واکمن مجبوریږی
، چی دظاهرشاه لمن ونیسي
اوپه افغانستان کی له وړپیښ
سرخوره پری ځان خلاص
کړای شي ، له کومه یی چی
پرنجیب ځان نه وخلاص کړی
.
لکه چی ښکاره ده په دی
کارکی یی ورسره امریکا هم
یوه خوله کیدای شی .

اوس دادجهادی قوتوکاردی :
چی دجهاد اواسلامی انقلاب
پرضد دنړیوال استکبارتوطئوته
پوره ځیراوسي . اوانقلاب له
کړلاری وژغوري .

برادرشهادتیاروشهیدمظلوم سیدجمال ولید .

غرب درتلاش بهره برداري ازجهادافغانستان

اعزامي

اگرديروزفريادبرآورده می شد که غرب دشمن اسلام ومسلمین است ونباید برآن اعتمادکرد، کمترکسی حاضربقبول این امربود، طمع وحرص چنان مارا مات ومبهوت کرده بود که حتی به هشدارهای قرآنی مبنی بردشمنی طبیعی یهود ونصاری بامسلمانان وقعی نمی گذاشتیم. ولی امروز که جهاد بمرحله حساسی قرارگرفته ومجاهدین میخواهند ثمره قربانی هاومجاهدت های دوازده ساله شان راکه همانا تأسیس حکومت اسلامی درین سرزمین است، بردارند، غرب دیگر بااین آرمان توافق ندارد وهنگامه برپائی حکومت بیطرف باقاعده وسیع را دامن میزنند. چقدرساده لوحی بود ازغربی که سالیان درازی برای سرکوبی مسلمانان دست یازیده، تمنای تایید وهماهنگي داشتیم، ولی امروزکه ازتایید ماانکار نموده ودر صددکسب وبهره برداری منافع خوداست، نمیتوانیم اززیربارمشت های آن خودرا رها نیده، موضع اصل خویش را برگزنیم، -

حقیقت امراینست که غرب ازهمان وهله آغازجهاد هیچگونه علاقه ودلسوزی به مجاهدین ومهاجرین افغان نداشت وفقط اهداف استعماری آتی آنرا واداشت تا برسردادن سروصداهای پشتیبانی ازمجاهدین خودرا وصی، قیم وفرمانده جهاد افغانستان جابزند:

۱ـ ابرقدرت های علی الرغم وجه مشترك دردشمنی با اسلام ومسلمانان، درساحه بین المللی درگیر یکسلسله رقابت های استعماری اند وهریك درتلاش آنست تاازهمدیگر سبقت نموده درابعاد سیاسی، نظامی واقتصادی بررقیب خود تفوق حاص کنند. چنانچه اگریکی به یك کشورلشکرکشی نموده استقلال سیاسی وتمامیت ارضی آنجارا خدشه دارمی سازد، آندیگربنوبه خود کشوردیگری را مورد تاخت وتاز قرارداده، اهداف استعماری خودرا تعقیب مینماید. چنانچه اشغال افغانستان توسط قشون سرخ به امریکا فرصت دادتاعلاوه ازیك سلسله زدوبند ها با کشورهای مجاور افغانستان، امتیازات دیگری نیز درسایر نقاط جهان ازروسها بدست بیاورند. لهذا مسابقات غرب مبنی برتایید جنبش مقاومت کدام واقعیت عینی نداشته بلکه این حربه ای بودبدست غرب

... فنا رگرفتن رقیب به خواسته ... خود دست یافت .
... اضطراب دیگر غرب ازلشکرکشی روسها درافغانستان آن بودکه خلیج فارس ... ومنطقه نفوذامریکا مورد تهدید ... قرارگرفت . از آنجائیکه این منطقه برای غرب بمثابه شاهرگ حیاتی اهمیت داشت ، چلوگیری قوای سرخ از دستیابی برآن از وجایب هیئات حاکمه امریکا به شمارمیرفت . هدفیکه طرح آنرا سالها قبل تزارهاریخته بودند که باتوسل به آن روسیه بربحروبرآسیا قابض می شد . مگر غرب که این حقیقت را ازسابق درك نموده بود وباتاسیس پایگاه های مستحکم نظامی واتحادیه های مقتدر سیاسی درجوارسرحدات شرقی وجنوبی روسیه کمربندامنیتی غیر قابل نفوذی رادربرابر روسها بوجود آورد . جسارت روسها درتجاوز بخاك افغانستان دلهره غرب را فزونی بخشید که گویا روسها قصد درهم شکستن محاصره راداشته ومیخواهند باعبورازکمربند ازهم گسسته غرب به اهداف مورد نظر خویش نایل شوند . غرب ازین تحول باسراسیمگی واردصحنه شد وباسردادن فریادحمایه ازجهاد افغانستان ، روابط ومعاملات ازهم پاشیده سابق رایکباردیگر تجدید نموده وبرای مقابله باروسها درآسیا بمعامله گری های جدیدی نیزمتوسل شد . طبیعی بودکه اگر غرب برای این هدف خوددست حمایت ازمجاهدین را به سینه نمی کوبید ، درمیان کشورهای اسلامی جای پای نداشت ونامکن بودبه اهداف خود برسد .

۳- هدف دیگرغرب ازشایعات پشتیبانی ازجهاد افغانستان آن بود که غرب وشرق متفقاً از بوجود آمدن یك بلاك مقتدرسیاسی که به محوراساسات اسلام میچرخید ، ناراضی بودند .
همانطوریکه روسهابافعالیت های منظم فکری و عملیه اشغالگری برای تضعیف

این جبهه تی رومند اقدام گرفت ... سالها قبل ازین نیرومندی این جبهه بزرگ رادرك کرده بود وحتی رژیم های دست نشانده متعصب ولجوج راچون غده های سرطان درسرزمین های اسلامی نصب کرد ، یقیناً که دشمنی غرب با اسلام درتاسیس وحمایت ازدولت صهیونیستی اسرائیل کمتر ازدشمنی روسها درلشکرکشی به افغانستان ، بامسلمانان نیست . غرب بااین ادعا که پشتیبان جهاد است ، خواست بجهانیان ثابت کند که قوت مستقل بنام اسلام که قادربمقابله علیه روسها باشد ، دردنیا وجودندارد واین غرب است که یادردست داشتن این قوت ، درحقیقت وصی وقیم مسلمانان میباشد . غرب باحك کردن سنگ وابستگی برجبین مسلمانان ، قصدبدنام کردن اسلام ووابسته نمودن مسلمین را داشت چنانچه رسانه های تبلیغاتی روسیه مکرراز همین رمز پرده برمیدارد وجهاد اسلامی رانه بحساب قوت مسلمانان بلکه تحت سرپرستی غرب وانمودمیکند .
غربی ها ازین تبلیغات روسها نه تنهاجلو گیری نمی کنند ، بلکه حظ هم میبرند واین کار را از بزرگترین افتخارات دیموکراسی می شمارند .
الحاح وپافشاری غرب دردعوت ازرهبران مجاهدین افغانستان وبه نمایش گذاشتن ملاقات آنها با سران کاخ سفید وپنتاگون بهترین شاهداین مدعاست . اگر چنین نبودزمامداران غرب ازملاقات بارهبران مجاهدین چه توقعی داشتند ؟ تاکید براین دید ووادید ها همه وهمه بخاطر خدشه دارکردن جهاد وانتساب دست آوردهای آن بحساب غرب بود . غرب هرگزهم ازمسلمانان راضی نخواهدشد تاآنکه مسلمین ازخواسته های شوم آنها پیروی نمایند و غربی ها ازهمان روز آغازجهادمسلمانانه ازتعاون به مجاهدین کراهیت داشته ومیدانستند که روزی اینها در رخ غرب پنجه میکشند .

ولی آنچه که آنها را وادار به این کار کرد این بودکه عوامل وچهره های مورد نظر غرب حوصله جهاد وفداکاری را نداشتند، آنها اغلباً عبارت بودند از عناصر عیاش، فرصت طلب وخوشگذران وتوان حضور درسنگر ومقابله با عساکر سرخ ورژیم مزدور را نداشتند. به استثنای یکعده معدوداکثریت آنها فراربه خارج رابرقرار درمحیط هجرت ترجیح دادند. غرب اگرچه آنها را سوگندهم داد، اگریکروز هم به محیط هجرت وجهاد حضور یابند برایشان چنین وچنان میدهنداگر آنها ازترس اینکه مبادا گرد جهاد برسروروی آنها بنشیند ویاکدام مرمی سلاح دوربرد روس درکنار آنها اصابت کند، از سهم گیری درجهاد وهمدردی بامهاجرین طفره رفتند.

اکنون که فداکاریهای مجاهدین ببارنشسته وبزرگترین طاقت نظامی دنیا سرافگنده وورشکسته از افغانستان عقب زده شده است غرب باتشریع فعالیت های به اصطلاح دیپلماتیك درصدد آنست تااین افتخار بزرگ را یکسره بخود تخصیص بدهد ومجاهدین را چون جنگجویان بی هدفی وانمودکنند که گویا به ایما واشاره آنها می جنگیدند. حالا که وقت تعیین سرنوشت وچگونگی طرح تاسیس نظام آینده درپیش است، غرب پیشترازمجاهدین آستین هارا بالازده باحریف استعماری اش (روسیه) واردمعامله گری شده و برای افغانستان طرح حکومت می ریزند. آنهائیکه از تعلق به غرب وملاقات باسران آنها ابائی نداشتند، حالا منتظراین واقعیت تلخ هم باشند که تعاون وسیستم غربی ها دربرابر رهبران مجاهدین بیهوده نبود وآنها برای چنین روزی سرمایه گذاری میکردند. توقع غرب ازمجاهدین فقط جنگ وشکست دادن روسها بود، حال که ین خواسته برآورده شده است، جاهدین دیگر مردمان مطلوب برای شرف نیستند زیرا بزعم غربی ها مجاهدین مسلمان بجرم بنیادگرائی وداشتن عقیده ناب اسلامی شایستگی حکومت کردن را درآینده افغانستان ندارندواکنون باید راه برای بازگشت همان عناصریکه طی دوازده سال درکمین فرصت بودند، گشوده شود. چنانچه چندی قبل پیترتامسن فرستاده ویژه امریکا درامورمجاهدین باصراحت بیان داشت که غرب درافغانستان حکومت اسلامی میخواهد و مردم افغانستان هم حکومت اسلامی میخواهند چنانکه قبلا درزمان ظاهرشاه هم درافغانستان حکومت اسلامی نافذبود یعنی الگوی حکومت اسلامی موردنظرغرب درافغانستان همانا رجعت به حکومت مروج دوران ظاهرشاه است می بینیم که غرب تاچه حد به سرنوشت ملت هابازی می کند وخواست وآرمان وعقاید مسلمانان راچگونه بباد مسخره می گیرد! ملتی که طی دوازده سال جهاد ودادن متجاوز ازیك ونیم مليون شهید وشش مليون آواره وصدهامصیبت دیگر توانست قوای سرخ راشکست بدهد، ولی بزعم امریکا چنین ملتی حق تاسیس حکومت دلخواهش رانداردزیرا آنهامسلمان اند ومسلمانان باید منتظرآن باشند که امریکا درموامره باروسها برای آنها حکومت درست کند.

غرب ازهمان روزهای اول جهاد تاکید داشت که ظاهرشاه رهبری گروههای اپوزیسیون رژیم دست نشانده کابل را بعهده بگیرد، مگر قاطعیت عده ای ازگروههادرتردید شاه مخلوع وعدم تحرك وجرئت شاه نامبرده درپذیرش این امر باعث گردید که این نقشه به آینده موکول شود، ولی غرب هرگز ازین نقشه خود دست بردارنبود، چنانچه سال یکمرتبه ازطریق رسانه های گروهی ودیدوادید ها باشاه مخلوع مسئاله را همچنان برخلنها نگهمیداشت.

امضای معاهده ژنو میان پاکستان

وحکومت دست نشانده کابل تحت نظارت ملل متحد و حضورنمایندگان امریکا وروسیه حین امضای این پیمان که درآن حضورمجاهدین رانادیده گرفتند، ضربت بزرگی بود برعظمت وابهت جهاد اسلامی ، زیرا پیمان ژنو بجهانیان چنان ثابت ساخت که گویا قضیه افغانستان ، معضله فیمابین امریکاوروسیه است ومجاهدین درحل وفصل این قضیه هیچکاره ای نیستند، پیامد بزرگ پیمان ژنو برای جهاد اسلامی این بود که شرق وغرب منافع مشترک شان را درافغانستان بهم پیوند داده وهردو ابرقدرت در مورد چگونگی نظام آینده به توافق رسیده اند . آنها متفق شدند که تاسیس حکومت اسلامی بدست مجاهدین بنیادگرا منافع امریکا وروسیه را تهدید میکند وبایست چنان رژیمی درافغانستان بقدرت برسد که هم بنیادگرایان مسلمان را سرکوب کند وهم به امریکا وروسیه بیك چشم نگاه کند . این خیال ابرقدرت ها فقط با اعاده سلطنت وبازیگری ظاهرشاه تحقق می یافت . شاه مخلوع تاآنوقت که تنها برای غرب چهره مطلوب بود ، از آن زمان ببعد، روسها نیزبه او بدیده احترام نگریستند ومامورین عالیرتبه روسی ورژیم مزدورکابل گهگاهی به دیدار اومیشتابند شاه مخلوع ازارادت هردوابرقدرت یکمقدار جرءت گرفت و بادرسرپروراندن هوس دوباره سلطنت ازعشرتکده مدیترانه ای خود یگان پیام همدردی ای هم به مجاهدین ارسال داشت .

باوجودیکه خروج روسها ازافغانستان بهمت وفداکاری مجاهدین صورت گرفت ، اگر زمامداران کرملین این عقب نشینی رانتیجه تفاهمات ژنو قلمداد کرده وبجانب غرب چنان القا کرد که با برون رفتن قوای روسی ازافغانستان دست ازپشتیبانی مجاهدین بردارد، غرب بتاسی ازموافقات فیمابین درپروسه کمك رسانی به نیروهای مقاومت ازراههای غیرمستقیم خدشه وارد کرد، حالانکه طی همین مدت رژیم مزدورکابل ازحمایه بیدریغ نظامی روسها برخورداربود. تقویه رژیم مزدورکابل وتوطئه محاصره اقتصادی ونظامی مجاهدین ، جهاد اسلامی را درمرحله حساسی قرارداد وهمین فشارها برای آن اتخاذشد تامجاهدین ازفیصله ابرقدرت ها سربازنزده وبه طرح توافقی ایشان تسلیم شوند.

شاید غلطی غرب دربرابر جهاد اسلامی تااین اواخر هم برای بعضی ازعناصر خویش باوروغبی قابل لمس نبود وامریکا را همواره بمشابه قبله آمال خویش می پنداشتند، مگر دیداراخیر وزرای خارجه امریکا وروسیه درماسکو وآشکارشدن این انعطاف پذیری امریکا که موجودیت نجیب درجریان عملیه مذاکرات صلح باکی ندارد، پرده ازروی سازش های مخفی ابرقدرت ها درقبال قضیه افغانستان برداشت واکنون شاید کمترکسی باقیمانده باشد که به غلطی امریکا در برابر مجاهدین پی نبرده باشد وکسانیکه درچنین حالتی بازهم ازنیکخواهی غرب نسبت بجهاد حرف میزنند، آنها عمال وجواسیسی اند که درمیان مجاهدین وظیفه ستون پنجم دشمن را ایفامیکنند.

آنچه که مایه تاسف مجاهدین است و برای جهاداسلامی لکه ننگ پنداشته می شود، همانا حمایت بعضی از عناصرمجاهدنماازظاهرشاه است. نمیدانم



دښمن تخریب شوي وسایل

چه وجه مشترک وجود دارد که این
عناصر دست بدست روسها وغربی ها
داده وبه تبانی همدیگر برای اعاده شاه
مخلوع فعالیت میکنند، اگر شاه مخلوع
عنصرمعینه ومصلح برای افغانستان است
پس چرانجیب وگربه چوف وبوش برای
روی صحنه آوردن او تلاش دارند و همه
باهم دراعاده او توافق نظردارند؟ واگر
شاه نامبرده عنصر پلیدومفسد است پس
چرا مجاهدنماها بخاطر تشریف آوری او
دقیقه شماری میکنند؟ بادشمنان ازهویت
اصلی شاه مخلوع بیخبرند وبه نیت اینکه
اویک عنصر لبرال ، عیاش وفساد پیشه
است ، اورا پسندکرده اند ویادوستان
بدون اطلاع ازهویت ذاتی وی به نیت
اینکه نامبرده یک عنصر مسلمان ،
وطنپرست وانقلابی است ، درصدد آوردن
مجدد او برآمده اند . آنچه مسلم است
اینست که مواضع مجاهدین ودشمنان
جهاد هیچگاهی توحید نمی شودودشمن
هیچگاهی عنادوکینه ذاتی اش را
دربرابرمسلمانان فراموش نمی کند، رژیم
وقائدی راکو دشمن برای ما تعیین نماید،
آن رژیم وآن قائد بدردملت مانمیخورد ،
سوزجهادواخلاص اسلامی دراوسراغ
نمیشود . زیرا دشمن مادامیکه ازخبث
باطنی وانحراف ذاتی انسانی مطمئن نشود
واورا نزدخود تحت تربیه وتجربه نگیرد
هرگز، اوراتایید نمی کنند .

برکسانی که درفرازونشیب سنگرهای جهاد
وسردوگرم محیط هجرت چند سبائی
راسپری کرده اند، لازم است تاازتائید
وپشتیبانی وکسانیکه مورد تائیدوپشتیبانی
دشمنان است ، دست بردارندو اعمال
نیک گذشته خویش را بااین اشتباه حبط
وضایع نسازند .

حرص وآز غرب برای تأمین منافع
استعماری اش بحدیست که حتی از تائید
حکومت نجیب هم ننگی ندارد وحاضر
است که درجریان عملیه مذاکرات اورا
برسریرقدرت به رسمیت بشناسد .

ازانکشافات اخیر چنان استنباط میگردد
که میان روسها ، غرب وحکومت نجیب
نوعی ازتفاهم بمیان آمده است . زیرا
اخیراً نجیب اعلان داشت چونکه
ساختارتشکیلاتی وماهیت فکری حزب
کمونست خلق برای اکثریت مردم قابل
قبول نیست کذا حاضر است دربرنامه ،
نام وتشکیلات حزب تغیربیاورد تااصول
دیموکراسی وآزادی ها درداخل حزب
بیشتر تأمین گردیده وبرای مخالفین
زمینه شمول مساعد گردد، این حرف
نجیب چراغ سبزی است برای غرب
وعمال غرب تابااحساس آرامش به او
بپیوندند، هکذا دعوت های مکرر حکومت
نجیب ازشاه مخلوع ودیدووادید های
هیئات های طرفین باهمدیگر دلیل دیگر
ی است مبنی برتقسیم قدرت میان عوامل
شرق وغرب درافغانستان .

خصومت وکینه عمیق غرب وعوامل آن
وحتی دربرابر جهاد اسلایم خوبتر برملا
گردید که اخیراً داکتریوسف نخست وزیر
اسبق شاه مخلوع طی مصاحبه رادیو بی
بی سی طرح سلطنت طلبان راغرض حل
قضیه افغانستان راچنین بیا داشت که
معضله افغانستان فقط ازطریق تاسیس یک
حکومت بیطرف ودیموکرات که اعضای
حزب کمونیست خلق عناصر متعهدبه
گروههای جهادی درآن شرکت نداشته
باشد، قابل حل است وبس ذهنیت
سلطنت طلبان بحدی مسخ شده است که
قربانی هاوفداکاری های دوازده ساله
مجاهدین را درالتزام تشون سربی وبی
اعتبارجلوه دادن کمونیزم درافغانستان
کاملاً نادیده می گیرند وحاضر نیستند که
حتی گروهها ی مجاهد رادرحکومت آینده
سهیم بدانند، هرچنداین طرح سلطنت
طلبان خواب است وخیال است وجنون ،
ولی آنچه که ازین حرف ها باید درس
بگیریم همینست که شاه دوستان وغرب
گرایان درمخالفت بامجاهدین دست کمی
از کمونیست ها ندارند .

مایه تعجب است که جهانیان از اقدامات [illegible]
شرق گرفته وتاانتهای غرب دربرابر
شجاعت واستقامت و کفایت مجاهدین
سرتسلیم فرود آورده وخراج تحسین
پیش میکنند، ولی یك نخست وزیر اسبق
افغان حتی حق شرکت درحکومت آینده
افغانستان را به مجاهدین نمیدهدودست
اورد آنهارامال عناصر فراری خودفروخته ،
خوشگذران وعیاش میداند. ازبرکت خون
شهدای جهاد افغانستان ، بطلان کمونیزم
وانقراض امپراتوری سرخ درجهان
مسجل شد وکشورهای بلاك شرق
وریاست های محکوم روسی یکی پی
دیگرباالهام ازقیام افغان ها با سلطه گری
ماسکو خداحافظی می کنند ، ولی
غربگرایان سرمست ازباده قدرت خواهی
دربرابراین افتخاربزرگ مجاهدین خمی
برابروهم نمی آورند توگوئی که روسها
رادرمیدان جنگ همین عناصر شکست
داده باشد.
هدف ازاظهارات اخیر سلطنت طلبان
درمورد آینده افغانستان اینست که آنها از
جانب غرب اطمینان داده شده اند که به
مجاهدین موقع داده نخواهدشدکه حکومت
اسلامی دلخواه خودرا بعدازسقوط نجیب
اقامه کنند، پس این تکنوکرات ها اند که

درحکومت [illegible]طرف، درای [illegible]ده وسیع
نقش اساسی رابازی می کنند. نکته ان
که خدمت کمین نشستگان قدرت عرض
شوداینکه غرب وشرق شایددرعقب
درهای بسته ودرقالب الفاخ برای معضله
افغانستان راه حل درست کنند که در آن
مایه اطمینان شاه وحواریون اوباشد، ولی
همانطوریکه مجاهدین باادامه جهاد
بیهودگی قرارداد های ژنو راثابت کردند،
توامرات پیدا وپنهان غرب وشرق
رادررابطه باچگونگی بافت ایام آینده
افغانستان خنثی خواهند کرد.
تحولات اخیر درافغانستان وفتوحات تازه
مجاهدین یکباردیگر قوت وکفایت عملی
مجاهدین رابه نمایش گذاشت وهمگان
اذعان داشتندکه هیچ تحول منهای اراده
مجاهدین بوقوع نخواهد پیوست.
مامورین ملکی وکارمندان لشکری که
تادیروزعلیه مجاهدین قرارداشتند، بادرك
حقایق و حقانیت موضع مجاهدین ، میله
تفنگ خودرا بسوی رژیم مزدور توجیه
کرده ودسته دسته به مجاهدین پناه می
آورند، ولی غرب وغربگرایان هنوزدرتلاش
آنند که چگونه ماحصل قربانی های
مجاهدین را ازآن خودساخته وچون زالو
ازآن بهره برداری کنند.



د"حزب اسلامي" ددریځ مشروعیت او دځینومشرانو تزلزل اواندیښني

یاسرعلي

لږی ورځی ړومبی دجهادی زمزمو په یدرگه دثوردکودتا په تل اوژوروکی گوړاگیانو ته دمرگ ویروونکی زنگ وغږید، اویوخل بیایی دسیمی اونړیوالوپه اذهانوکی دغوی د نامشروع ، غیرطبیعی اوزوال منونکی حیثیت یاد ... کړ. داپوځی قیام چی دمجاهدینو په ملاتړچرته په ځپواوچرت بیادوخت ، فرصت اومصلحت په نظرکی نیولو سره په نسبی ډول خاموش اوچوپ ښکاری ، همداسی دوام لری. دافغانستان داسلامی انقلاب له بری نه ویرېدونکی گرد، ښکیلاکگراوبیا په تیره تیره لویدیزوال خوداوپروخت په رنگارنگ پروپاگنداخته وو، او دخپلو ډلو ایزو وسایلو په مرسته یی دهرچا غوږو ته رسول وه ، چی مجاهدینو ونه شوکولی ، دنجیب حکومت رانسکورکړی ، اوترڅولو عجیبه خولادلوه ، چی دجلال آباد دښارنیول یی بیخی دیوه سمبول په توگه مجاهدینو اونړی ته مخکی مخکی کاوه ، او دیوه پیغورپه ډول یی عنواناوه ، خوله دی نه خبرنه وو، چی داسلامی انقلاب دمجاهدوشاځلمو دقربانی ریښی ډیری ژوری تلی ، کابل خولاڅه چی دځمکی دی تنابونو مسکو کلاهندکړی ، بری نه ده ، چی دغی په ښکودو سره امپراتوری له یومخی چپه اوپرمخی رانسکوره شی . دښمنانو داخبره گرمه کړی وه ، چی دجنگ اوږدیدل نورد مجاهدینو په گټه نه دي ، نړیوال کومکونه اوبیا په ځانگړی ډول هغه مرستی چی لویدیزوال یی کوی ؛ په پوځی برخه کی لاڅه چی په عبادی ساحه کی هم په ودریدلودی. او همداډول بی اتفاقی روانه وه ، خوپه مقابل کی کمونستی حکومت ورځ په ورځ په ډول ډول وسلوا اوداړتیا وړپه غذایی موادو تقویه اوسمبالیده ، دانورڅه نه وو، یواځی اویواځی دختیز لویدیز ښکیلاک ترمینځ تړون و، چی داسلامی انقلاب دماتی لپاره یی یوه خوله کړی وو.

که پرگوړاگی حکومت دایرغل دجهاد اواسلامی انقلاب په سترگو وکتل شی، نوپه مشروعیت او رواوالی کی به یی هیڅ شك پاتی نشی ، موږمخکی یاده کړه ، چی نړیوال متحدکفرد مجاهدینو بری پخپل دشمنانه اندازشکمن گڼیه ، خو دغه پوځی پاڅون یی سترگی وغړولی ، اودمجاهدینولپاره دامریکادمنافقانه دریځ مطرح کوونکی استاځی په پاکستان کی اعلان وکړ، چی موږ به له مجاهدینوسره خپلی مرستی جاری وساتو، خوپه ډیر تاسف باید ووایو، چی کله څرگنده شوه ، چی دغه پوځی یرغل دحزب اسلامی له خوارهبری کیږی ، نودجهادی تنظیمونو دځینو مشرانو په ډیری بی دردی اوسپین سترگی خپل مخالفت اعلان کړ. اودومره دتذبذب اوتزلزل ښکارشول، چی یوه مشر پداسی حال کی چی دایرغل یی ردکړ، په همدی محفل اودهمدی صحنی په جریان کی یی پسی جوخت داخبره زیاته کړه ، چی که څوك موږته تسلیم شی ، دهغوی سراومال به په امن وی . اوپدی ډول یی

لږي ورځې ږومبي دجهادي زمزمویه بدرګه دثوردکودتاپه تل اوژوروکي ګوډاګيانوته دمرګ ویروونکي زنګ وغږید.

دافغانستان مجاهد ملت ته داخبره سپینه کړه ، چې له انتخاباتو نه ویره اوهمداډول دهر روا خوځښت تردیدزموږ منصبي اوچوکي پالي فرض دی .

خودومره دعظیمواوسترو قربانیو متحمل اوزغمونکي ملت به تري خامخا داپوښتنه کوي ، چې داپوځي پاڅون کښه دستاسو ترراداری (دمنحل اعلان شوی عبوری حکومت) لاندی وي ، نوروا، او جایزو، اوکه دهغي رهبری دافغانستان دمجاهدینو دنماینده ډلې (حزب اسلامي () په لاس کې وی نوبیا دکمونستانوسره اتحاد اوکفرشو، یوبام اودوه هوا، دالا کوم منطق کومه تګلاره اوکوم اصول دي ؟ نه پوهیږو، دوی به دخپل داډول منطق لپاره څه دلایل تراشي ، اودخپل دغي لړزیدونکي دریځ دفاع به څنګه کوي ، له انتخاباتو نه سرغړاوی ، اوورپسې داډول اعلانونه چې ځان ته یې روا اوبل ته یې ناروا ګڼي ، څه ډول به دافغانستان مؤمن ملت اوبیا ګرداسلامي امت ته خپل مخ سپینوی ؟

داسلام په تاریخ اوبیادصدراسلام په پیښو کې داډول ځرګونه ترسترګوکیږی ، تردی چې عظیم الشان قرآن د« موالفة القلوب » دټکو روسانوونکی دی ، اوبیا داسلام ستر پیغمبرصلی الله علیه وسلم چې دمکی دفتحې اوله هغې وروسته له ناامیدواوفراری دښمنانو سره کومه تګلاره خپله کړه ، دحزب اسلامي په باب دفتواو دابهیرتموی . داسلامي حکومت دجوړولو په نقش کې داډول هره حربه د« ضرب مومن » مانالري ، اوله اغیزمنتیانه یې سترګی نښی پټیدلې .

اسلامي تولني درغاوی له پاره داسې یواقدام بیخی لازم اوداړتیاوړ خبره وه پداسې حال کې چې شرق وغرب دقربانۍ په ډګر کې نه بلکې په زهرجنو تبلیغاتو دمجاهدینو مورال راغورځولی و، تردی چې دمجاهدینو دوستان یې هم پدی قانع کړی وو، چې دامسئله دی نوره دجنګ دمیدان پرځای دخبروپه میزحل شي . دویم غوره ټکی دمجاهدینو پلاس دمات شوی پوځ لپاره دختیزي اروپا بدلونونه وو، چې څه ډول په نوروهیوادو اوبیا په ځانګړی ډول « چایسیسکو » له تخت نه تختی ته ورسید ، اوپدی ډول دهغو هیوادونو پوځیانو له خپلو غاړونه دکمونستی غلامۍ کړی لیری ، اوپه ځګوسترګودخپل ولس ترشاودریدل . دریمه خبره دروس دننه ګډوډی اودسری امپراتوری توپانی ، حالت و، روسی ګوډاګیان اودهغوی په « اصطلاح انقلابونه » چې ږومبی به نیغ په نیغه دروس له خوادهغوی هرډول اداره کیدله ، دروس ددننني خوځښتونو اودهغې دپه ځان اخته کیدنی نه ورته داتمه نه وه پاتې ، په وړاندی یې سرخوړلی و . څلورم لامل ، دحزب اسلامي جامعیت ، هراړخیز توب او ارتباطات وو، ځکه حزب دشور داړی ته ږومبنی لا د« داودخائی » په کودتا کې دی ته متوجه شوی و، اوځوکلنه تجربه یې لرله ، دبری لندوی اواوږدی لاری ورته څرګندی اوهغه یې څارلې . اودادی پداسې مناسب وخت کې داسي اقدام چې هیچایې تصور نشو کولی ، په کودتا

که دګوداګي حکومت په وړاندي داقیام دجهاد اواسلامي انقلاب په سترګووکتل شي ، نوپه مشروعیت اورواوالي کي به یي هیڅ شك پاتي نشي .

مرګانی ګوزار له آسمانی تندرکم نه و اویوځل بیایې دمجاهدینو په لوردنړیوالو نـزدی اوستی پام راواړاوپه همدی اړوند پدی هکله هم بایدغوروشی ، چې دنجیب پرضد دپاڅون هنګامو نړیوال اذهان اوبیا په ځانګړی ډول دروس دریځ ، چې دکابل دګوډاګی حکومت سره یې دمنځنی آسیا دمحکومانو له پلوه دلچسپی یوپه څو ده ، څنګه دی ؟

سیاسی کتونکی پدی عقیده دی ، چې روسان به پخپل هغه دری پړاویز پلان له سره بیا نوی کتنه پیل کړی ، اودکابل دلاسپوځي حکومت دناپایداره هیئت له کبله به دمجاهدوځواکونو سره نیغ په نیغه خبروته چمتوشي .

دورور "حکمتیار"

دکب داتمي نيتې دتاريخي وينا متن

دکب په ۸ مه نیته په خیات آبادکی دمجاهدینو اومهاجرینو یوالك اوپنحوس زره کسیزی ستری اوتاریخی غونډی ته دحزب اسلامی افغانستان دمجاهدامیر ورور(حکمتیار) دلوری تاکونکی وینا پوره متن :
السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته
الحمدلله وحده انجزوعده نصرعبده واعزجنده وهزم الاحزاب وحده وصلوه والسلام علی من لانبی بعده .
فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم
بسم الله الرحمن الرحیم
وردالله الذین کفروابغیظهم لم ینالو اخیراً وکفی الله المومنین القتال وکان الله قویاً عزیزا وانزل الذین ظاهروهم من اهل الکتاب من صیاصیهم وقذف فی قلوبهم الرعب فریقاً تقتلون وتاسرون فریقاً و اورثکم ارضهم ودیارهم واموالهم وارضا لم تطئوها وکان الله علی کل شی ء قدیرا . صدق الله العظیم
زمادایمان اوعقیدی ورونو! زمونږ دنن ورځی داشانداره اوستره تاریخی غونډه دکشمیر دآزادی غوښتونکو مجاهدینو، دتاجکستان ، ازبکستان او آذربایجان دمسلمانومجاهدینو دقیامونو دملاتړ په خاطر جوړه شویده . لله الحمدد جهاددتاریخ پدی ستره غونډه کی زمونږ تریونیم لکونه زیاتو مجاهدواومهاجرو ورونوشرکت کړی ، ډیرونورومهاجرینوهم په دی کی ګډون غوښت ولی متأسفانه چی دافغانانو له منځ نه ځینی مفسدانو پاکستانی مقاماتو ته شکایت وکړچی ددی ستری غونډی مخنیوی وکړی . دمهاجرینو په سلګونو موټری چی له کمپونو نه راخوځیدلی وودلاروپه اوږدوکی ځای پرځای دپولیسو له خوا دروول شویدی . مونږ دغو دوستانو ته وایو چی ته چی له خپل ملت نه ویریږی اوله پاکستانی مقاماتو اوپولیسو نه په استفادی سره دغسی دغونډو مخنیوی کوی سبا به د زموږملت اوتاریخ ته څواب څه وی ؟ متاسفانه دی مفسدانو دامم ویل و چی ګویا مهاجرین اروان دی او دموقت حکومت دفتر وله اشغالوی پدی خاطر باید ددی غونډو مخنیوی وشی خوزه وایم چی مغه موقت حکومت چی خپل دفترونه په پاکستانی پولیسو ساتی زه نه پوهیږم هغه به له خپل قوم سره څنګه مخامخ نیږی ؟ سبا ته به څه کوی ؟ زه تری پوښتنه کوم چی یامغوی غواړی په پیښورکی د افغانستان دحکومت په نیش پاتی شی که هیوادته دننه هم دتلو اراده لری ؟

دلته به ددوی دفترونه څوك ساتی؟ زه متأسف یم چی په زرګونومهاجرینوونشوکړای پدی ستره غونډه کی برخه واخلی . مونږ ددغسی ګن شمیر نورو غونډوهم اراده لرو. پدی غونډه کی یوازی دپیښورمهاجرینو برخه اخیستی ده، یعنی په دی غونډه کی دپیښورپه کمپونو کی دمیشتومهاجرینوله هرکورنه تریوکس نه زیاتو برخه اخیستی ده. دباجوړ،کرم ایجنسی او وزیرستان دکمپونو مهاجرین دی غونډی ته ندی راغوښتل شوی اوداپه څرګنده ښیی چی افغان ولس دحزب اسلامی ترشاولاړدی اوافغان ولس دحزب اسلامی د مواقفو تأیید کوی اوحزب اسلامی له خپل خدای سره پدی خبره عهدکړی چی ترپایه به دخپل مظلوم قوم په څنګ کی ولاړدی .
حزب اسلامی پدی خبره فخرکوی چی دمظلومانو ملګری دی .
غریب او مظلوم ولس ئی ترشاولاړدی ، هغه به دخپل قوم په ملګرتیا اکتفا کوی . پدی لاره کی دټولی دنیا ددښمنی منلوته تیاردی، دخپل ملت دګټواومصالحولپاره ، دخپل ملت دملګرتیا اوخپلو مظلوموخلکوددفاع په لارکی هغه دهرچادښمنی منلوته تیاردی ، دبرخوالو پرله پسی (تکبیرونه).
ورونو! لله الحمد روس زمونږ دزړورو باایمانه مجاهدینو په لاس ماتی وخوړه ، له افغانستان نه په وتلو مجبورشو. لکه څنګه چی مونږ دمخه ویل چی په افغانستان کی به دروس ماتی اودمجاهدینوبری دتاریخ مسیربدلوی اوپدی سره به دروسی سری امپراتوری زوال پیل کیږی ، همدغسی لله الحمد ګورو چی نن دروسی امپراطوری زوال پیل شوی په داخل کی سټونزو اخته ده اوپه ځای ځای کی محکوم ولسونه دخپل آزادی لپاره دمسکو پرخلاف قیام کړوی او مسکو دیته اړشوی چی ددی قیامونو په وړاندی سرټیټ او نتائج کی تسلیم کړی . (دبرخوالوتکبیرونه)
نن روس له دینه شکایت کوی چی ، افغان مجاهدین دتاجکستان په پیښورکی لاس لری اودتاجکستان له آزادی غوښتونکو مجاهدینو سره دوسلومرسته کوی .
مسکوپه خامه توګه حزب اسلامی پدی خبری متهم کوی چی هغه دتاجکستان په پیښورکی لاس لری اوتاجکانوته یی وسائل ورکړی دی حال داچی دتاجکستان ،

آذربایجان اوازبکستان قیامونه دهغومحکومو ملتونو د آزادی له جذبی نه راپیداشوی مقاومتونه دی، داقیامونه له بهرنه اود بهرنیو لاسوهنوپه نتیجه کی نه دی شروع شوی . بلکی داپه افغانستان باندی دروس له تیری نه اردلته دسره پوځ دماتی اودشکست په وجه پیداشوی ، ن دټولو شعارهمدادی چی که افغانان دروسی پوځ په مقابل کی ودریدای شی هغه په شاتمبولای شی ، خپله آزادی ترلاسه کولای شی.

ولی ددی دافغانانو لاره نه غوره کوی ؟ ولی هغوی د آزادی لپاره دمجاهدینو په شان دبهرنی پوځونو په خلاف ونه دریږی ؟ مونږ دمحکومو اسلامی ریاستونو ددی قیامونو ملاتړکوو، دهغوی د آزادی لپاره دعاکوو. انشاء الله هغوی به هم خپله آزادی دافغانانو په شان ترلاسه کوی . (دحضاروتکبیرونه)

روس دپوځونو په لیږلو اوله توپ ټانک نه په استفادی سره، ددی قومونوقیامونه، نشی خپه کولای لکه څنګه چی هغه په افغانستان کی دمجاهدینو دمقاومت له ځپلو نه عاجز شو، انشاء الله همداسی به په تاجکستان ، آذربایجان اوازبکستان کی ددی قیامونو له ځپلواوخپه کولونه هم عاجزوی . مونږ دخپلو کشمیری وروڼو په څنګ کی یو، دهغوی دقیامونو ملاتړکووپه کشمیرکی دهندتیری په کلکه غندو، کشمیربه دافغانانو په شان خپله آزادی ترلاسه کوی . هند باید په افغانستان کی دروس له ناکامی تجربی نه پند واخلی .دکشمیر دقضیی حل یوازی په دی کی دی چی کشمیریانوته دخپل سرنوشت دټاکلوحق ورکړشی نورله دینه پس دوسلی په زور په ماتونوحکومت کول ګران دی . (دبرخوالو تکبیرونه)

داعصردمحکوموقومونود آزادی اودقیامونو دپیل اوبری عصردی . انشاء الله داپیړی به داسلام پیړی وی . پدی پیړی کی به یوپه بل پسی اسلامی تحریکونه په خپلو ملکونوکی اسلامی حکومتونه جوړوی . همدارجه ده چی ن مسکوا وواشنګټن پدی خبره په خپلومنځونوکی سلاشوی چی داسلامی پاڅون دځپلولپاره راهسدریځ غوره کړی .

ګوری مسکوپه رومانیا، هنګری ، چکوسلواکیا، شرقی المان اوپولیندکی دولسونو دقیامونوپه وړاندی چوپ پاتی کیږی ، دهغوقیامونونتائج تسلیموی ، دغوملکونوته دفوځونو له لیږلونه ډډه کوی . برعکس ددغوقیامونوپه نتیجه کی چی کوم حکومتونه جوړشوی له هغوسره دمرستو وعده کوی . ولی تاجکستان اوآذربایجان ته پوځونه لیږی . په دغومظلومومسلمانانودټانکونوغوبل جوړوی . غرب ددی په مقابل کی ساکت او خاموش دی اوهغه اجتناب نه منونکی عمل ګڼی، غرب دهند داقداماتوملاتړکوی . کشمیرته دفوځ لیږل تأییدوی . داښیی چی دواړه لوی طاقتونه ددی اسلامی پاڅونونونه په ویره کی دی یوبل ته یی لاس ورکړی چی دهغودځپلو لاری چاری ولټوی . لکه چی قرآن عظیم الشان فرمائی چی پراسلامی تحریک به داسی مرحله هم راځی چی اهل کتاب به دمشرکینواوکفاروپه څنګ کی ودریږی اودهغوملاتړبه کوی . خوالله (جل شانه) به دوی دواړه له ذلت اورسوائی سره مخامخ کوی ، دغسی به انشاء الله دروس اودامریکا داګډه توطئه الله جل شانه شنډوی اولکه څنګه چی روس په افغانستان کی په خپلوعزائموکی ناکام شو، اوله رسوائی اوذلت سره مخامخ شوواشنګټن به هم له داسی انجام اوسرنوشت سره مخامخ کیږی .

(دبرخوالو له والوله ډک تکبیرونه)

عظیم الشان قرآن فرمائی : « وردالله الذین کفروابغیظهم لم ینالوا خیراً» الله (جل شانه) کافران له خپل غیظ اوخشم سره یوځای بیرته ردکړل اوپه شاییی وتمبول اوهیڅ خیریی ترلاسه نکړای شو. «وکفی الله المومنین القتال » الله (جل شانه) په قتال اوپه جنګ کی مومنانوته کفایت ورپه برخه کړی . الله ددوی دمرستندوی په حیث کافی شو .

«وکان الله قویاً عزیزا» یقیناً چی الله قوی اوغالب دی . «وانزل الذین ظاهروهم من اهل الکتاب من صیاصیهم» اوله خپلوکلاګانونه ئی راکوزکړل داهل کتاب هغه ډلی چی دکافرانوئی ملاتړاوتأییدوکړه اودهغوپه زړونوکی یی ویره اورعب واچاوه.

یوه ډله دهغوی وژنی اوبله ډله یی داسیرانو په شان نیسی او دهغوی ځمکه ملک اومالونه یی تاسی ته په میراث درکړل او هغه ځمکه یی تاسی ته په میراث درکړه

وروړحکمتیار دمهاجرینواومجاهد ینو یوی لویی غونډی ته دوینا په حال کي

چې تاسو کله هم نه وه پایمال کړی «وکان الله علی کل شیء قدیرا» یقیناً چې الله (جل شانه) په هرکار قادر دی، لکه دغه آیت چې سپی داهل کتاب ملاتړ اومرسته کفاروسره ده او په پای کې دهغوی ذلت درسوائی اوشکست طبیعي مقدردی انشاء الله، الله (جل شانه) دلویو طاقتونو داخائنانه توطئه اودسیسه هم شنډوی او اسلامي قیامونه او پاڅونونه به یوپه بل پسې بریالي کیږي.

ورونو! له ځینوسره داتشویش دی چې دافغان جهادځپي ترکشمیر، تاجکستان، ازبکستان اوآذربایجان پورې اودشرقي اروپاترمحکوموملکونوپورې ورسیدی، داڅه وجه ده چې لاتراوسه پورې دکابل رژیم پخپل حال پاتې دی؟ ولې مجاهدین دکابل رژیم له رانسکورولونه عاجزشول؟ په داسې حال کې چې مجاهدین په دې وتوانیدل چې دروس په شان وحشي اومغروروپوځ ته ماتې اوشکست ورکړي څنګه دهغوی دمزدورحکومت له راپرځولو اونسکورولونه عاجزشویدي؟!

حقیقت دادی چې دکابل رژیم په رانسکوریدوکې څه ځنډ څه خاص عوامل لري چې هغه توطئکواوسترو بین المللي سازشونو پورې اړه لري کوم چې ددې جهادپه خلاف روان دي زمونږ دجهادپه خلاف روس اوامریکا په خپلو منځونوکې توافق کړی چې باید په افغانستان کې دمجاهدینوداسلامي حکومت له تاسیس نه په هرقیمت چې کیږي مخنیوی وکړي. ترهغه باید دکابل رژیم پاتې وي، ترڅو چې دظاهرشاه دراوستولپاره لاره هواره شي.

هغوی دظاهرشاه په راوستلو پخپلو منځونوکې توافق کړیدی.

هغه بله داسې څیره نه ګوري چې په افغان ولس یې تحمیل کړي او دراړرته دمنلو وړوي دظاهرشاه. دراوستلو پرتوطئې مسکواوواشنګټن پخپلومنځونوکې سره توافق کړي. خوهغوی اوس ددې لپاره شرایط مساعدنه ګڼي لاپه لاره کې یې سترسترخنډونه دي. دلته قوي اومنظم طاقتونه دهغوی په لاره کې خنډدي. دهغوی په موجودیت کې روس اوامریکا نشي کولای چې ظاهرشاه پرافغانستان تحمیل کړي مسکواوواشنګټن باید دغه طاقتونه وځکوي، تضعیف ئې کړي، په ملت کې ئې اعتبارختم کړي، دا خنډونه له لارې نه لرې کړي او شرایط دهغه دراوستلو لپاره هوارکړي ترهغه وروسته به روس اوامریکا په ګډه ظاهرشاه کابل ته راولي. بیابه ظاهرشاه په کابل کې لویه جرګه رابولي! دالویه جرګه به دملک لپاره اساسي قانون او ثابت اودایمي حکومت جوړوي.

روس اوامریکا په دې خبره توافق کړیدی چې ترهغه پورې چې دظاهرشاه دراوستلو لپاره لاره هواره وي، باید دکابل رژیم پخپل حال پاتې شي. مونږ لادمخه ویل چې امریکاته دمجاهدینوترحکومت یوکمونیستي حکومت غوره اوبهتردی. دیته تیاردی چې په افغانستان کې یوکمونیستي حکومت ومني خود مجاهدینو اسلامي حکومت ورته لوی خطر بریښي دادی غرب چې پرون یې دافغان ولس دملاتړ درواغجنه دعواکوله لله الحمد نن ئې څیره حرګنده شوله، دهغوکسانو اشتباه هم رفع شوه «زه به اشتباه ووایم» کوموچې ګومان یې کولو یایې طمع درلوده یایې ځان دوکه کولو یایې خپل ولس دوکه کولو چې ګیدای شي امریکا زمونږ دوست وي.

دادی ګوري چې نن امریکاستاپه سر، ستادوینو په سر، ستادیونیم ملیون شهیدانو په سر، ستا دلکونو معیوبینو اومعلولینوپه سرله روس سره سازش کوي اوپه دې خاطر چې ستادخوښې اسلامي حکومت په افغانستان کې جوړنشي دظاهرشاه د راوستلو اوپه افغان ولس ئې دتحمیلولو کوشش کوي. د کابل رژیم دژرنه سقوط اونه نسکوریدو عمده وجه دروس اودامریکا همداګډه توطئه ده.

تاسې لیدل چې په کوم محاذاومعرکه کې مجاهدین بریالي شوي چې دعسکري فتحې وروستۍ درشل ته ورسېږي، زمونږ په خلاف داسې توطئې اعمال شوي، اوداسې اقدامات شوي چې نتیجه موورځنډوي، پراخ منفي اودرواغجن تبلیغات دبي بي سي اوصدای امریکا له لارې پیل شوي، ترڅو په مجاهدینو کې شکوک اوشبهات راپیداکړي. هغوی له جنګ نه په شا اودآینده په نسبت ئې مایوس کړي او پرېنږدي چې هغوی په عسکري لحاظ په یوه معرکه اوکشمکش کې کامیابي ترلاسه کړي. په جلال آبادکې چې څه وشول ستاسې به په یاددي. له څوارلس ولسوالیواوعلاقه داریونه دولس آزادې شوي، مجاهدین دجلال آباد آخري کمربند ته ورسیدل. میدان هوائي ئې په لاس کې ولویدلو. خوتاسولیدل چې په همدغه مرحله کې مجاهدین له همداسې ستونزواومشکلاتوسره مخامخ شول چې مجبورشي جنګ متوقف کړي په شاراشې اوحالات همداسې په ټپه ودریږي. په خوست اوکندهارکې همداوشول: ستاعسکري فتحه نه خوښوي. دانه غواړي چې ستامسئله دجنګ په میدان کې حل وفصل شي، هغه ددې کوشش کوي چې ثابته کړي چې مجاهدین دجنګ له لیارې دکابل رژیم نشي نسکورولای. غواړي وښیي چې ګویادجنګ دادامې له لارې دافغانستان دمسئلې حل ممکن ندی دادی مجاهدینو پدې اودغه معرکه کې ماتې وخوړه، ونشوتوانیدلای چې دجنګ له لارې یولوی بنارفتحه کړي، په داسې حال کې چې له دردسوه اوردواتیا ولسوالیو اوعلاقه داریو نه دوه سوه اویوځلویښت آزادې دي اودغوولسوالیوټول بنارونه دمجاهدینو په لاس کې دي تاسې اورئ چې بي بي سي او امریکا غږ وایي چې مجاهدین پدې ونشو توانیدای چې ددې یوه کال په موده کې یوسترښارفتحه کړي. دوه سوه یوځلویښت ښارونه دمجاهدینو په لاس کې دي ولې دغرب تبلیغات همداسې دي چې مجاهدین پدې ونشو توانیدای چې دکابل رژیم دجنګ له لارې نسکورکړي نورله دینه پرته بله څه چاره ده چې روس اوامریکا په ګډه دافغان ولس ذرحې اوقیم اودهغوی ددلسوزاوهمدردپه حیث دامسئله ورته حل کړي، مجاهدین خپل صفوف نشي متحد کولای.

دجنګ له لارې ئه دافغانستان مسئله نشي حل کولای، روس اوامریکا مجبوردي اودهغوی مسئولیت دی چې دمظلومو غریبواوورو سته پاتې ملکونو دسرنوشت په هکله بې اعتنااوبې تفاوته پاتې نشي اوپدې ترتیب له یوبل سره دسلا اوروغې جوړې له لارې دافغانستان مسئله ورته حل وفصل کړي.

(ټولو برخوالوپه یوه آوازدمرګ په روس اوامریکا شعارونه پورته کړل)...

دکابل دحکومت دپاتې کیدو دوهم عامل دادی چې

متاسفانه مونږ ونشواى کړاى چې پوهوى ، پالعتباره اودملت له تأييد اوملاتړنه برخمن حکومت جوړکړو . زمونږ حکومت دپېښورپه کرائي حويليوکې پاتې شو . ملت په دې حکومت قانع نشو . دملت له زړګونوستونزو نه يوه هم دې حکومت حل نشواى کړاى . دملت له ګڼ شميرتوقعاتواوهيلونه يوه هم ددې حکومت ترسره نشواى کړاى . که مونږ پوهوى او موثرحکومت درلوداى اوملت په دې مطمئن شوى واى چې داحکومت دکابل درژيم ځاى نيولاى شي . هغه دملك په اداري قادراوله عهدې ئې وتلى شي ، نونن به دکابل رژيم په ځنګ کې چې ځوك ولاړدي ، که لوځ دى ، مليشه ده ياځنګ ته مجبوردلبه ټول ددى حکومت ترځنګ ولاړوودکابل حکومت به لادمخه ختم شوى و ولي متاسفانه چې مونږ ددې حکومت ترځنګ ونشو کړاى چې يوه مقتدره اوداسې منتخبه شورا جوړه کړو چې دټول ملت نمايندګي وکړي ، ټول پرګنې اوافشارقانع کړي ، مجاهدين په سنګرونوکې اداره کړي ، دادنجيب دمزدور حکومت دپاتې کېدو دوهمه وجه وه .

ستاسې به په يادوي چې تنظيمونو په خپلو منځونوکې په دې خبره عهدوکړچې دشپږومياشتو په منځ منځ کې به انتخابات ترسره کيږي اوداحکومت به ديوى مياشتې دننه داخل ته دروځي . مونږ داحکومت دپېښورلپاره نه وجوړکړاى (داجلاوطن حکومت نه و ، بلکې دا دداخل لپاره جوړشوى) و . خو په شپږومياشتوکې انتخابات ترسره نشول ، ضعيف تنظيمونه چې دخپل قوم له فيصل نه ويريږي په خپل ولس اعتمادنلري ، دجهاد په دوران کې يې خپل امتحان ورکړي ، ناکام شوي ، بې اعتباره شوي ، پوهيږي چې که انتخابات وشول هغوى دنيا اوخپل ولس ته رسواکيږي ، هغوى دانتخاباتو مخالفت کوي . دغه تنظيمونه چې بهرنيو سازشونو ته طمعه لري ، ګومان کوي چې که روس اوامريکا په خپلو منځونوکې سازش وکړدوي ته به په راتلونکې حکومت کې دلخواه برخه په لاس ورشي له دې امله دانتخاباتومخالفت کوي . انتخابات ترسره نشول ، داعقد اوقرارداد نقض شو . نن هم ګورو چې هغوى دانتخاباتو په ځاى ديوې غيرمنتخبې اوانتصابي شورا دجوړولوټينګارته کوي . موقت حکومت داخل ته انتقال نشو . پلمې اوحيلې ئې عنوان کړي ويل ئې هلته خوسکاډميزائيل دي ، هلته خو بمبارې ده ، هلته خو جنګ روان دي ، ځنګه حکومت داخل ته انتقال کړو ؟ داحزب اسلامي څه منصوبې لري چې په دې باندې پافشارى کوي چې حکومت دې داخل ته انتقال شي ؟!

مونږ هغوى ته وايوچې تعهدپردى خبره وچې ديوى مياشتې په منځ منځ کې به حکومت داخل ته انتقاليږي داموئنه ويل چې که جنګ نه و دسکاډ ميزائيلونو دفيرخطره نه وه ، د بمبارى خطرنه و جنګ پاى ته رسيدلى و په ملك کې دسولې اوامن حالت و بيا به ديوى مياشتې په منځ منځ کې داحکومت داخل ته انتقاليږي که ستاسې شرط همداواى نوبايد په فيصل اوتعهدکې داخبره ليکل شوى واى چې که جنګ نه و سوله وه ، دميزائيلو خطرنه و ، دبمبارى خطر نه و بيا به حکومت داخل ته انتقالوو . که په داخل کې دمجاهدينو پرقرارګاوو په قوماندانانو اومجاهدينو بمونه وريږي وروابې نغته ، خو چې مغران دلته په مصئونو اومرفه

کوروونوکې خوندي وي اوهغوى ته خطر اوصدمه ونه رسيږي .

وروڼو! همداد عراکوى چې مونږ انتخابات ددى په خاطر ونکړل چې جنګ دي ، که ستاسو منظور داو ي دجنګ په حالت کې انتخابات نشي کيدلاى نوليکل به موو چې کله جنګ پاى ته ورسيدو ، دکابل رژيم نسکورشو ، قدرت دمجاهدينو په لاس کې ولويدو بيابه دشپږومياشتو په منځ کې انتخابات سرته رسيږي . مونږ خوليکل و چې دمشورتې شورا دجوړيدو له لومړى ورځې نه به دشپږومياشتو په منځ منځ کې له پلاني ورځې او پلانې مياشتې نه دپلانې مياشتې ترپلانې ورځې پورې دشپږو مياشتو په منځ منځ کې انتخابات ترسره کيږي ، بيا به داموقت حکومت له دې منتخبې شورانه داعتمادرايه اخلي . که نه حکومت منحل دي . په کارخوداووچې دغو تنظيمونو دهغه شپږومياشتوله پوره کيدونه پس اعلان کړي واى چې وروڼو! مونږ منتخبه شورا جوړه نکړاى شوه ، حکومت موداخل ته انتقال نکړ ، نوزنومونږ له حکومت نه استعفى کوو بايد ملت پخپله تصميم ونيسي . بيايوه شورا دائره شي اوتنظيمونه پخپلومنځونو کې سره کيني اودراتلونکې حکومت په هکله فيصله وکړي ، مونږ متاسف يو چې پخپله وعده مووفاونشو کړاى ، انتخابات ترسره نشول ، منتخبه شورا جوړه نشوه حکومت موداخل ته انتقال نه کړ ، داحکومت ناکام شو ، په دې خاطر زمونږ لاسونه اوچت دي مونږ استعفى کوو . برعکس ، ګورو چې هغوى ددى حکومت دعمر داوږدولو کوشش کوى ، شپږمياشتې يې په يوکال بدلې کړي . اواوس نورې خندونکې ډرامې جوړوى حيلې اوپلمې په لاراچوى ددى کوشش [illegible] چې ددى حکومت دعمر داوږدولو لپارد پ[illegible]ى ترلاسه کړي ، داوروستې طرحه ئې هم دهمدى لپاره اعلان شوى چې دحکومت دعمر داوږدولو څه پلمه په لاس ورشي وائي چې مونږ انتخابات کړو اودانتخاباتو لپاره مجبوريو چې داحکومت دى تلورمياشتې نورهم دوام وکړي .

ستاسو به په يادوي تلوردنتې دمخه دغو تنظيمونو اعلان وکړچې دهمدې روانې مياشتې په لومړى هفته کې به انتخابات ترسره کيږي . دادى اوس ددى مياشتې وروستي هفته ده . او ددى مياشتې صرف درې ورځې پاتې دي (حکومت دفبرورى لومړى هفته منودلى وه اووينا دفبرورى پر۲۷ مه کيده) اعلان داسې شوى وچې ددمدغې مياشتې په لومړى هفته کې به انتخابات پيل کيږي . خولاتراوسه هم دانتخاباتو پرطرحه توافق ندى راغلى ، يوتنظيم په څرګندو الفاظووايي چې په طرحه کې به دانتخاباتو لفظ او کلمه هم نه ليکل کيږي . بل وايي چې که دلويې جرګې نوم حذف شو زه به له تاسې سره په دې طرح کې نه يم . په ايران کې ميشته تنظيمونه خولاپريږدى .

وروڼو! مونږ انتخابات ددى لپاره نه غوښتل چې دا چناهان دړياست جمهورى اودصدارت له چوکيو نه راکوزشې اودوى لدينه ويريدل بلکې پرانتخاباتو موددى لپاره اصرارکولو چې د حکومت ترځنګ يوه منتخبه شورا ضرورى ده دمنتخبې شورا له موجوديت نه پرته داحکومتونه ځوك نه منې دابه هميشه دکاغذپرمخ اودپېښور په کرائي حويليو کې پاتې دي . زمونه ليده چې دغه حکومت دکنړ ولايت ته والي وټاکلو خو والي

غریب له سرحدنه دتیریدلو جرئت هم ونشو کولای . دکنړ دوالی لپاره په پیښورکی دفترجوړشو. دکنړوالی هم مهاجردی . نجیب هم همدغسی فراری والیان لری ، دکاپیسا دولایت والی په چاریکاروکی دی او دکنړوالی په ننګرهارکی دی .

همداسی زمونږ موقت کاغذی حکومت هم دکنړوالی په پیښورکی توظیف کړ اودلته یی ورته‌دفترخلاص کړ. هغه حکومت چی دهغه په څنګ کی یوه منتخبه اومقتدره شورا نه وی هغه به دکاغذ پرمخ حکومت وی اوهغه په داخل کی هیڅ هم نشی کولای ، مونږ ددی لپاره پرانتخاباتو اصرارکولو چی داحکومت پاتی شی ، دامشران سپک اوبی اعتباره نشی دخپل قوم اوټولی دنیاپه وړاندی بی حیثیته نشی اودنیادهغه په خلاف داتبلیغات ونکړی چی دامشران پرخپل قوم اعتمادنلری خپل قوم ته مخامخ کیدلای نشی او له انتخاباتو څخه ویریږی . مونږ غوښتل چی دمجاهدینو په خلاف ددښمنانو داغلط تبلیغات شنډکړو چی ګویا دامجاهد قوتونه په خپل ملت کی نفوذ نلری . تاسی همیشه دبی بی سی او امریکا غږ له لاری اوری چی همدا درواغجن تبلیغات کوی چی ملت خو له پلاتی پخوانی زعیم سره دی په سلوکی اتیا افغان ولس ظاهرشاه غواړی او داتنظیمونه په پیښورکی محدود دی ، ملت یی نه منی ، له خپل ملت نه ویریږی ، په جهاد کی مطرح ندی داټول تبلیغات ټول دهمدی لپاره وو .

وروڼو! مونږپرهمدی خبری باندی اصرارکولو چی باید انتخابات ترسره شی، دموقت حکومت ترڅنګ یوه مقدره منتخبه شورا جوړه شی اوپدی ترتیب ددښمنانو درواغجن اوغلط تبلیغات شنډشی ، لدی نه پس داموقت حکومت نشته اومونږبه چاته ددی موقع ورنکړو چی داحکومت پرافغان ولس تحمیل کړی ، هغه حکومت چی دخپلو مهاجرینو له اجتماعاتونه هم ویریږی اوپاکستانی مقاماتو ته سوال کوی چی د غونډومخنیوی وکړی چی مبادا مهاجریي پردفترونو حمله ونکړی ، څوك چی زمونږ غونډه نشی منلی زه نه پوهیږم زه به دهغوی حکومت څنګه ومنلای شم ؟ حال داچی مونږ داغونډه دبین المللی پیښوپه ارتباط جوړه کړی وه ، غوښتل موچی افغان ولس تاجکستان ، ازبکستان ، آذربایجان اوکشمیر کی له خپلو مسلمانو وروڼو سره خپل ملاتړ اعلان کړی ، دغسی یوی ستری غونډی ته ضرورت و په کارخوداوه چی حکومت دغسی غونډه دائره کړی وای، ولی حکومت غریب لدی نه عاجز دی چی حتی دمهاجرینو له غونډی سره هم مخامخ شی ، دمهاجرینو غونډی هم نشی دائره ولای خوچی مونږ ددغسی اجتماع بندوبست کوو، هغه دپاکستان حکومت ته سوال کوی چی دغونډو په مخ کی خنډ شی، په ساګونوموټری دپیښورپه مختلفو سیموکی پولیسو ودرولی اوهغوی ته یی ددی موقع نده ورکړی چی په دغه غونډه کی برخه واخلی .

زمونږ موقف دادی چی باید انتخابات ترسره شی راتلونکی موقت حکومت باید دمنتخبی شورا له لاری جوړشی، زمونږ نظر دادی چی کله هم منتخبه شورا جوړه شوه هغه دی دافغانستان لپاره یو باصلاحیته مشر اوزعیم وټاکنی ، بیا دی هغه دخپل خوښی کابینه داعتمادلپاره دی شوراته وړاندی کړی، داسی حکومت نه چی وزارتونه دی په مختلفو احزابو مساویانه ویشل شوی

وی هروزارت دی بیل حکومت اوبیل تنظیم وی . وزیردی دخپل تنظیم دامیراطاعت کوی اوصدراعظم دی لدینه عاجز وی چی کابینه دائره کړی . دکابینی دمجلس له دائرولونه دی عاجزوی ، په کابینه کی دی کشمکش اونزاع اواختلاف وی ، بلکی مونږ وایو چی کله هم منتخبه شورا جوړه شوه دامنتخبه شورا دی شرعی امیروټاکی هغه ته دی ټول شرعی صلاحیتونه ورکړل شی ، هغه دی دخپل خوښی کابینه شوراته وړاندی کړی ، داعتماد رایه دی ترلاسه کړی مونږ هغه حکومت دافغان ولس دشرعی اوقانونی حکومت په حیث منو، دهغه اطاعت کوو، دهغه ملاتړکوو اودهغه په خلاف دقیام او له وسلی نه په استفادی سره ئی پرخلاف دودریدلواراده نلرو. په اعمالویی اعتراضی ، انتقاد ،امربالمعروف اونهی عن المنکر ، دعوت الی الخیردابه دیوه مسلمان او یوه تنظیم په حیث کوو، خو حکومت دحکومت په حیث منواوهغه ته اجازه ورکوو چی پوځ جوړکړی هغه ته اجازه ورکوو چی پولیس ولری ، هغه ته اجازه ورکووچی په ټول افغانستان دادارې لپاره حکومتونه جوړکړی ، مونږ به ددی حکومت ترشاولاړیو. هغه به درسمی اوقانونی اوشرعی حکومت په حیث منو، لدینه پس غیرمنتخب حکومتونه نه منو. لدینه پس له بهر څخه تپل شوی حکومتونه نه منو (دبرخوالو پرله پسی اسلامی شعارونه اوتکبیرونه) .

لدینه پس ذمحدودوکسانو په خوښه جوړشوی حکومتونه نه منو، که دکودتاله لاری راشی ، که ئی بهرنی طاقتونه دراوستلوکوشش وکړی ، که دسازشونوله لاری زمونږ پرملت تحمیل شی، مونږ به دهرهغه حکومت په خلاف په کلکه ودریږو چی دمحدودوکسانو په لاس زمونږ پرملت تحمیل شی یاله بهرنه زمونږ پرملت وتپل شی (دبرخوالو له شوراوڅورنه ډك تکبیرونه) .

وروڼو! موقت حکومت او په هغه کی شپږو تنظیمونو په ګډه ددی حکومت دعمر داوږدولو لپاره طرحه وړاندی کړی . په پیل کی طرحه داسی وه چی ولسوالی به دانتخاباتی حوزو په حیث منل کیږی . هری ولسوالی ته به وندونه ځی ، له خلکونه به غواړی چی دی ته لس لس کسان معرفی کړی . دالس کسان به په خپلو منځونوکی یو کس ولسی جرګی ته معرفی کوی ، ټول لس کسان به دلویی جرګی غړی وی اوپاتی نهه کسان به د ولسوالیوپه سطحه شورا جوړوی له مونږ سره په دی باندی بحث وشو. مونږ وویل چی داطرحه ناکامه اوغیرعملی ده ، د انتخاباتو کمیسیون ته طرحه واستول شوه، دانتخاباتو کمیسیون دا طرحه ردکړه اوویی ویل چی داغیرعملی ده ، باید دانتخاباتو کمیسیون ته اختیارات ورکړل‌شی چی دمنتخبی شورا دجوړولو کارپیل کړی . طرحه جوړه شوی دانتخاباتو کمیسیون پرهغه توافق کړی پدی خاطر باید کارونه ځنډیږی اوانتخابات عملاً پیل شی. ولی شپږو تنظیمونو ورته وویل چی نه ! باید دهمدی طرحی په بنیاد شورا جوړه شی . مونږ وویل چی نوی طرحی ته ضرورت نشته باید دهمغی زړی طرحی له مخی چی دانتخاباتو کمیسیون جوړه کړی منتخبه شوراجوړه شی . دیته هم تیاریو چی په دی طرحی باندی بحث وکړو. خوزمونږ څوشرطه دی :

لومړی داچی مونږ دلویی جرګی نوم نه منو، دلویی جرګی نوم بدنام دی ، لویه جرګه یعنی یوه انتصابی شورا چی دحکامو په خوښه اودهغوی په لاس جوړیږی .

ورونو! بهتره داده چې داټول وروڼه چې لویه جرګه نه منې خپل لاسونه اوچت کړي. مونږ لویه جرګه نه منو (ټولو برخوالو په یوه غږسره وویل چې مونږ لویه جرګه نه منو اولدې سره یوځای دتکبیرغږونه پورته شول).

افغان ولس لویه جرګه نه منې (ټولو حضارود وروحکمتیاردګی خبری دتایید په دود لاسونه اوچت کړل).

افغان ولس انتصابی شورا نه منې (بیاهم ټولو حضاروپه یوه غږد وروحکمتیاردغه وینا هم دتایید په غږونواودتکبیرپه نعروبدرګه کړه).

مونږ ورته وویل چې له زرګونواسلامی نومونونه یوانتخاب کړی مونږ موافق یو. اسلامی شورا، ستره اسلامی شورا، لویه اسلامی شورا، عالی اسلامی شورا، شورای عالی اسلامی، مجلس اهل حل وعقد، هرنوم چې غواړی مونږ ورسره موافق یو.

زمونږ لومړی شرط همداوو چې مونږ دلویې جرګې نوم نه منو، باید ددغه پرځای یواسلامی نوم انتخاب شی، داجهاداسلامی دی داداسلام په نامه پیل شوی، زمونږ هدف اسلامی حکومت جوړول دی، باید زمونږ شوراهم اسلامی نوم ولری.

وجه یی داده وروڼو چې دادامریکا منصوبه ده چې له مجاهدینو نه پدې خبره اعتراف راخلی چې کیدای شی دافغانستان مسئله دلویې جرګې له لارې حل شی چې کله هم مونږ پدې خبره باندې اعتراف وکړو اودنیاته مو اعلان کړه چې مجاهدین هم دلویې جرګې دجوړولو اراده لری اوپدې خبره یې اتفاق کړی. بیا به مو امریکائیان حتی دلویې جرګې جوړولوته هم نه پریږدی. بیا به دغوی لویه جرګه په کابل کې جوړوی.

ظاهرشاه به راولی، ظاهرشاه به لویه جرګه رابولی اوزه اوته به خاموش اوساکت ناست یو، اعتراض به نشو کولای ځکه مااوتا داویل اوداعتراف موکړی چې لویه جرګه دې دائره شی!! دامریکا منصوبه همداده (ټولوبرخوالو په یوه آواز وویل چې مونږ امریکائی طرحې نه منو).

په همدې خاطر مونږ هغوی ته وویل چې دلویې جرګې نوم مونږ ته دمنلووړندی. دوهم اعتراض مو داو چې داوفدونه چې ولسوالیو ته دروځی دولسوالیو په اسګونیوزره خلک به څنګه راغونډوی، هغوی ته به څنګه وایی چې مونږ ته لس کسان رامعرفی کړی. که فرضاً هغوی په یوه منطقه کې راغونډشی. په داسې حال کې چې محال دی، ځکه دهری ولسوالۍ په زرګونوکسان مهاجرشوی، په یوی نقطې کې دهغوی راغونډول ممکن ندی، که فرضاً دغه کسان په یوی نقطې کې راغونډ هم شی ماته ووایاست چې هغوی به دالس کسان له خپلومنځونه څنګه انتخابوی؟ لاسونه به اوچتوی، سربه لوځوی، سربه خوځوی، غږبه کوی هو اونه به وایی، رای ګیری به کوی، ددې لسوکسانو دانتخاب طریقه کومه ده؟ تاسې ولې

دامجهول پریږدی؟ ولې پدې هکله وضاحت نه کوی چې که دلسو کسانو اتفاق ممکن نه و بیا دې په هغه ولسوالۍ کې انتخابات وشی اودانتخاباتو له لارې دې داکسان وټاکل شی.

هغوی وویل چې په ولسوالیو کې قوماندانان معلوم دی، ماوویل چې ته قوماندان څه ته وایې؟ دقوماندان لپاره

نن روس لدینه شکایت کوي چي افغان مجاهدین دتاجکستان په پیښوکي لاس لري اوتاجکانوته یي وسایل ورکړي.

مواصفات کوم دی؟ یودلسو کسانو مجاهدینو په راس کی قوماندان دی، بل دزرګونو مجاهدینومشرقوماندان بولی. په قوماندانانو باندې توافق څنګه ممکن دی؟ زه داسې ولسوالی درته ښیم چې یو تنظیم هلته شپیته غونډه لری.

حال داچې مجموعی شمیر یې شاید دوه سوه اودری سوه کسانوته هم ونه رسیږی. دهروپنځوتنولپاره یی غونډجوړکړی، دهروپنځومسلحومجاهدینوپه نامه یی غونډجوړکړی دی، دکورکورپرسریی غونډونه جوړکړیدی، هغه داټول قوماندانان دغونډونو ګڼی دقوماندانانو پرسرتوافق محال دی. منم! راځی دقوماندانانودټاکلو لپاره معیاروټاکی مونږ ویل څوک چې دیرش مسلح مجاهدین ولری، دوه کاله په جنګ کې پاتې شوی وی، هغه دې دقوماندان په حیث ومنل شی. بیادې دهری ولسوالۍ په سرپه هری ولسوالۍ کې دقوماندانانو شوراجوړه شی، دادقوماندانانو شورا دې یاپه اتفاق سره لس کسان معرفی کړی یا دې دانتخاباتو فیصله وکړی. په ولسوالیو کې دې دانتخاباتو له لارې کسان وټاکل شی.

دامعیاردې خلکوله مونږسره ونه منلو په نوروخبرو تقریباً اتفاق شوی و صرف په څوخبرو باندې اختلاف پاتې شو. یوتنظیم وایی چې دانتخاباتو نوم دې په طرحه کې نه راځی دوهم په لویه جرګه اصرارکوی او مونږپوهیږو چې دهغه دااصرارولې څه ده؟ دریم اختلاف دادی چې ګویا دولسوالۍ دقوماندانانو شورابه په دوه ثلثه دانتخاباتو مطالبه کوی یعنی داچې انتخابات به په هیڅ ځای کې نه کیږی.

مونږ ویل چې یاخوبه فیصله په اتفاق سره کیږی مونږیې منو چې په کومه ولسوالۍ کې متفق علیه شخص وی مونږته هغه دهغې ولسوالۍ دنماینده په توګه قبول دی په کومه ولسوالۍ کې چې متفق علیه شوراموجوده وی، دغه متفق علیه شورا دې لس کسان معرفی کړی مونږیې منو. که متفق علیه شخص یاشورا نه وی اودقوماندانانو شورا په اتفاق سره لس کسان نشی معرفی کولای، دلسو کسانوپه معرفی کولو کې اختلاف راپیداشی نوبیا به فیصله په اکثریت کیږی. داکثریت معلومول له انتخاباتو نه پرته له بلې لارې څخه ممکن ندی، یااتفاق یااکثریت. که اکثریت منی باید انتخابات وشی، له انتخاباتو نه پرته له بلې لارې نه اکثریت نشو معلومولای، مونږ دواړه منو. خوداچې لس کسان دې دلسو تنظیمونونه دتساوی په بنیاد راشی نوردې دورتیرشویدی. دانشی کیدای داسې شوراګانی څوک نشی جوړولای. زه په ډاګه وایم که شپږوتنظیمونو له انتخاباتو نه پرته له بلې لارې نه دشورادجوړولو کوشش وکړ دوی لس لس کسان راوبلل نومونږبه شل کسان راولو دوی دې له هری ولسوالۍ نه لس لس کسان راوبولی مونږبه دهغه په مقابل کې شل شل کسان راوبولو هغه چې له دوی نه پاتې شی مونږبه یې اولو، بیا به وګوروچې ستا شورا، دافغانستان دمستقبل په

برخه کی فیصله کوی که دغه شوراچی مونږیې جوړ وړا؟ که دمسئلی حل غواړی مونږتیاریو، مونږدمجاهدینو وحدت غواړو، په افغانستان کی دمجاهدینو یو قوی حکومت غواړو، وحدت له منتخبې شورا نه پرته له بل لاری نه نشی راتلای . منتخبه شورا دوحدت ضمانت کولای شی، که له بل لاری نه اتحاد راتلل شی دادی مونږ په وارواړ دانوری لاری آزمولی دی، قوی حکومت دانتخاباتو نه پرته له بل لاری نه نشی راتلای . مونږ په همدی خاطر پرانتخاباتوټینګارکوو چی اختلافات ختم شی اویو قوی اسلامی حکومت دی دمجاهدینو په لاس جوړشی ، په حکومت باندی ټول تنظیمونه پخپلو منځونوکی اتفاق وکړی ، په همدی خاطر پرانتخاباتو اصرارکوو موږدی مشرانوته وایو چی دازمونږ غوښتنه نده دادمشورتی شورا فیصله ده ، دانوی شرط ندی . پدی باندی تاسی ټولو توافق کړی .

تاسوتری لاندی امضا کړیده ، مشورتی شوراهم په همدی باندی توافق کړی ، ټوله دنیامو پردی خبره باندی شاهده اوګواه نیولی ده . ټولی دنیا اوخپل ولس ته مو ددی وعده ورکړی چی په شپږومیاشتوکی به انتخابات کوو او انتخابات تاسی منلی دی .

خو ورونو! دلته ځینی تنظیمونه له خپل ولس نه ویریږی ، انتخاباتو ته تیارندی غواړی همیشه دی همدغسی استبدادی ، دځوکسانوپه خوښه جوړشوی حکومتونه په افغانانو باندی تحمیل شی . زه منم ، منم فاسق ته دی درایی حق نه ورکول کیږی خو فاسق هغه دی چی محکمی نی پرفسق حکم کړی وی . زه منم چی سفیه اوجاهل درایی حق نلری . ولی سفیه اوجاهل معلوم دی سفیه او جاهل هغه دی چی یوه محکمه دهغه په سفاهت اوجهالت حکم وکړی . خوښه دی نامه په ټول ولس باندی دسفیه ، جاهل ، فاسق اوفاجر حکم کول داډیره بی باکی اوجرات دی دا قوم چی دولس کاله یی مسلسل ددی اوږده جنګ ستونزی زغملی دی ، یونیم ملیون یی شهیدان ورکړی، په هرکورکی یتیم اوکونډه

داعصردمحکوموقومونودآزادي اودقیامونو دپیل اوبري عصردي .

ده دښمن ته ندی تسلیم شوی ، دښمن ندی توانیدلای چی هغه دوکه کړی ، دښمن ندی توانیدلای چی هغه ودیروی .

دښمن ندی توانیدلای چی هغه واخلی، ستاپه ځنګ کی ودریدلی ، دایمان سنګرته یی ترجیح ورکړی ، ترکلمی لاندی ودریدلی دی .

داسلامی حکومت لپاره یی قربانی ورکړی ، داسفیه دی ؟ داجاهل دی ؟ سفیه اوجاهل هغه دے چی سموخلکوته سفیه اوجاهل وایی ځوک چی مجاهداومهاجرته سفیه اوجاهل وایی واقعاً اوله شك نه پرته چی هغه سفیه اوجاهل دی .

ورونو! تاسوګوری همداوایی چی که قوماندانانو فیصله وکړه چی انتخابات دی وشی ، یاپه ولسوالیو کی ولس وغواړی چی انتخابات دی وشی مونږانتخابات غواړو. زه وایم چی که داخبره ربښتیا وای نو اوس دادی دکنړ شوراپه ګډه فیصله کړی چی مونږ انتخابات کوو، خپل اختلافات ختموو، واحده اداره جوړ وو، دولسوالیو پرسرد ټول ولایت لپاره منتخبه واحده شورا جوړ وو خوتاسوولیدل چی دغو تنظیمونو دکنړ دشورا دمتفقه فیصلی په مقابل کی کوم عکس العمل وښودلو. دکنړ شورا حکومت اوتنظیمونو ته خطونه ولیږل ، خپله فیصله یی اعلان کړه، له هغوی نه یی مرسته وغوښتله ، هغوی ته یی اطمینان ورکړچی مونږ وحدت غواړو، مونږپه کنړکی ددی اختلافاتو ختمول غواړو ، چی کله هم مرکزی حکومت جوړشو. انتخابات وشول مونږ به هغه حکومت تایید وو ، زمونږ اداره به دهغه حکومت تابع وی ، ولی حکومت څه وکړل ؟

له یوطرف نه یی دهغوی په خلاف اعلامیه صادره کړه او دیی ویل چی چادانتخاباتوفیصله کړی هغه ملك تجزیه کوی هغه خرخ شوی ! په چاخرخ شوی ؟ که هغه خرڅیدای نو په تابه خرڅ شوی وو، تاله خپل تنظیم نه په شړلو تهدیدکړل ولی هغه تسلیم نشو، هغه پخپل عهدپاتی دی . تاتطمیع کړه ولی هغه دیته تیارنشو. له یوی خوا دکنړ دقوماندانانو په خلاف اعلامیه صادروي له بل طرف نه پاکستانی مقاماتوته سوال کوی چی مه پریږدی چی دکنړ قوماندانان په کمپونو کی انتخابات وکړی . صحیح ده ته به دکنړ دمهاجرینو دانتخاباتو مخنیوی په پاکستان کی وکړی خو په داخل کی به څه کوی ؟ انشاء الله داانتخابات به ترسره کیږی .

ماته پاکستانی ورونو اطمینان راکړی چی که ددی میاشتی ترپایه پوری دانتخاباتو په طرحه باندی توافق ونشوبیاستاسوچی ځنګه خوښه وي همغسی وکړی . بیا به په کنړکی انتخابات کیږی . اومنتخبه شورابه جوړیږی . همداراز به په نوروولایتونوکی هم انتخابات کیږی . اوس دتنظیمونو خوښه یابه دټولو په خوښه عام انتخابات کیږی ،بیامونږلدی سره موافق یو چی د درولایت په سطحه دي بیل بیل دقوماندانانو په خوښه انتخابات وشی او پدی ترتیب دی دامشکلات حل شی . که فرضاً انتخابات ونشول ، حکومت ختم دی، دکابل رژیم نسکورشواودیوبل موقت حکومت جوړیدوته عاجل او فوری ضرورت راپیداشو ، بیاحزب اسلامی دی خبری ته تیاردی چی بل مؤقت حکومت دی جوړشی خوپدی شرط چی په هغه کی به ټول جهادی قوتونه چی په پاکستان کی دی که په دی حکومت کی شامل وو ، اوکه له دی حکومت نه بهردي ، په ایران کی میشته دی ، ټول جهادی قوتونه باید ددی حکومت په جوړولو کی پخپلو منځونوکی توافق وکړی او دهغوی په توافق اوتفاهم سره دافغانستان لپاره آینده موقت حکومت جوړشی .

زمونږ ددی اجتماع دلویو بنیادی اواساسی خبرومهمو مهمو ټکیوته زه دغونډی په پای کی یوځل بیا اشاره کوم بیا خپل خبري ختموم اودعابه کوو .

مونږ دکشمیر دمسلمان ولس دقیام ملاتړ کوو . دهند دوحشیانه اقداماتو په کلکه غندنه کوو. باید پریږدی چی کشمیر خپل سرنوشت په خپله وټاکی ، کشمیر ته باید دخپل سرنوشت دټاکلو حق ورکړی شی (دهرخوالو پرجوشه تکبیرونه) مونږ دآزادی غوښتونکیو کشمیر یانوترڅنګ ولاړیو اودهغوی دقیام ملاتړکوو. مونږ دتاجکستان ، ازبکستان اوآذربایجان دمسلماتومحکومو

ولسونو دقیامونو ترشالاپهو دمفوی دآزادی لپاره دعاکوو، دمفوی په خلاف دروس دپوځی کاروائي په کلکه غندنه کوو.
مونږدانتخاباتو مطالبه کوو، په راتلونکي افغانستان کی غیرمنتخب اوانتصابی حکومتونه نه منو(ټولو برخوالوپه

> روس اوامریکا پدې خبره توافق کړیدي چي ترهغي پوري چي دظاهرشاه دراوستلو لپاره لارهواروي ، باید دکابل رژیم پخپل حال پاتي شي .

پوآواز سره وویل چی نه یی منو) .
راځی په دی شانداره اوتاریخی غونډه کی یوځل بیا له الله (جل شانه) سره تعهدوکړو چي مونږ به ترهغه پوری به خپل اسلامی اومسلحانه جهادته ادامه ورکوو چی ترڅوافغانستان آزاد شی، دپردیوپه لاس تحمیلی شوی حکومت نسکورشی ، دمجاهدینو په لاس منتخب اسلامی حکومت تأسیس شی،او بالاخره دمنتخبی شوراله لاری دملک لپاره اسلامی اساسی قانون جوړشی اوترڅو دی وروسته د تحمیلی اوغیرمنتخبو حکومتونو لپاره هیڅ مجال پاتی نه وي ، ترهغه وخته به خپل جهادته ادامه ورکوو اوله سنگرونونه به نه راپورته کیږو. څوك چی په دی خبره تعهد کوی خپل لاسونه دی اوچت کړی(ټولو برخوالو دخپل مجاهدامیر ددی وینا دپشپړملاتړپه کوټو خپل لاسونه اوچت کړل اودتکبیرنعري یې پورته کړی) .

اقولو قولی هذا استغفرالله لی ولکم والسلام علیکم ورحمه الله وبرکات .

قرآن او جهاد بقیه

لپاره ځای نه شته .)

دا قرآن چی کله پرچاالغیزکوی په هغه کی یو بدلون اوانقلاب راولي ، اوکله چي په انسان کی بدلون راځی، نو ټوله نړی دهغه لپاره بدلیږي ، دلیدزاویه یي بدلیږی ارزښتونه یي بدلیږی ، خو دغه بدلون له قرآن پرته امکان نه لري .

دقربانی ورکوونکیویوداسی ټولی منځته راشي چي دزړه په کورکي یي قرآن ځای نیولی وي ، نودغه بدلون دیوه نړیوال بدلون اودیوه اسلامی انقلاب بنسټ کیدای شي په صحابه کرامو رضوان الله علیهم

اجمعین کی دایمان ولوله اودالله (ج) ددین دلوړاوی لپاره دایثاراوقربانی جذبه دقرآن مجید په وسیله پیداشوه ، دغه بی سره او بی سامانه ټولی چی کله په یوه لاس کی قرآن اوپه بل کی توره دعربی جزیره نمانه راووتل ، دشلوکالو په لنډه موده کی یی دقیصر اوکسری سترستر سلطنتونه نیست اونابودکړل، له منځنی ختیځ نه واخله ترشمالی افریقایی دالله تعالی ددین خپوراونافذکړ.
اوس هم دانقلابی کوښښونو په دواړو پړاوونو یعنی په مجاهده مع النفس او ایدیالوژیکی کشمکش کی مونږ قرآن ته اړتیالرواو له دغه جهاد بالقرآن پرته موږ ددین دواکوالی اویاداسلامی انقلاب دمنزل په لوروړاندی تګ نشو کولای .

بقیه

په اسلام کي دتفاهم اومشوري اصل

و: داچی وایی : اکثریت په قرآن کریم کی مذموم بښول شوی بالکل باطل دلیل دی ځکه دغه اکثریت دکفر اوګمراهی اکثریت دی نه دمسلمانانو اکثریت ، مسلمانان من حیث کل له فرد څخه بهتر دی رسو ل الله فرمایی :« لاتجتمع التی علی ضلاله» زماامت په ګمراهی باندی نه جمع کیږی .
ددوهمی ډلی دلایل :
ددی ډلی زیات دلایل داوړی ډلی ددلایلو دمناقشی په دوران کی ذکرشول خو دبښی توضیح لپاره یی مختصراً په ځانګړی توګه ذکرکوو.
۱ـ پخوا موږویل چی رسول الله داکثریت په رایه عمل کاوه داحد دغزا جریان یی لویه نمونه ده ، همدارنګه دغطفان له قبیلی سره دصلح په باره کی یي ، چی دمدینی دخرماوو دریمه به دوی ته ورکړی دوی دی جنګ پریږدي ، دسعدبن عباده او سعدبن معاذ څخه مشوره وکړه اودهغوی په مشوره سره عمل وکړ ، (نور بیا)

دجنرال شهنواز "تني" کنفرانس او دمطبوعاتي مرکي متن

ترتیب: خان آغا

دکابل رژیم ددفاع وزیر دکب دمیاشتی په ۱۵مه‌نیټه په کابل کی دنجیب دروس کینولي رژیم پرضد دصاحب منصبانواوعسکرو دپاڅون مشرډگرجنرال شاهنواز «تني» نیازمحمد«مومند» دهوائی دفاع اوهوائی قواوډلوی قوماندان عبدالقادر«اکا» ددفاع وزارت دمخابراتو رئیس بریدجنرال غلام حضرت د۱۳٦۸ش کال دکب دمیاشتی پر۲۳ نیټه دلوګر ولایت ددوبندي په سیمه کی دلوګر ولایت دجهاددولایتي امر الحاج انجنیر احسان الله په یوه قرارګاه کی چی دکابل ښارڅخه تقریباً (۳۵) کیلومتره لری موقعیت لري، په یومطبوعاتي کنفرانس کی زیات شمیر بهرنیواوافغاني خبریالانوپکی ګډون کړی و خبري وکړې، چی دادی موږئیې دشفق مجلې دلوستونکو دخبرتیا لپاره بشپړ جریان نشرته سپارو .

دکنفرانس په پیل کی دلوګر ولایت دجهاد ولایتي آمر انجنیر احسان الله ګډون کوونکو خبرالانوته وویل :

بسم الرحمن الرحیم

ترټولو دمخه درنو میلمنونوته ښه راغلاست وایم ، امیددی چی دلاری ستړیاوو اوزموږ نیمګړتیاوله کبله مو چی په ښه ډول مونږنشوای کولای تاسی ته داسی شرایط آماده کړو چی په راحت اوآرامی سره دلته راشئ، خاطر درونډنشی ، که څه هم موږ فعلاً دمزدوررژیم له ځواکونو سره په جنګ کی زیات مصروف یو اوداقعلاً دمزدورنجیب له قواو سره زموږ جګړه روانه ده ، چی دهغو مثالونه موږراوړی شو، دزیاتوټانګونو اوالوتکو سقوط زموږ دجنګ دجریان دثبوت نماینده ګي کوي . خوموږددی په خاطرچی موږله خپل دی کارنه چی په افغانستان کی واقع شوی، دنیا خبره کړو، موږجنرال تنهی سره ستاسی دخبرو کولو موقع برابره کړه اودلته مو راولو. په اخرکی داوایم چی امیددی ستاسی سفردخوښی سفروي او پخپل راتګ سره زموږ له محیط څخه نیکي خاطری له ځان سره یوسی .

دمطبوعاتي کنفرانس په لمړی برخه کی ډګرجنرال شاهنواز «تني» ګډون کوونکو خبریالانوته وویل :

بسم الرحمن الرحیم

محترمو ژورنالستانو ترټولودمخه ستړی مه شئ اودلته تاسوته ښه راغلاست وایم .

ستاسی له راتګ څخه دلته دزړه له کومی منته کوم، خپل تکلیف موږبنئ چی دلته

راغلی یاست زحمت مووبښئ ، زه خوبش یم چی تاسوسره خبری کوم، هیله من یم چی تاسوته دضرورت وړمعلومات درکړای شم .

اجازه راکړئ چی خپل ځان اوخپل ملګري تاسوته درووپیژنم .

پخپله جنرال شاهنواز«تنی » نیازمحمد«مومند» دافغانستان دخلق دديموکراتیك ګوند دسیاسی بیروپڅوانی غړی دهوائی قواوو اوهوائی مدافع لوی قوماندان جنرال قادر«اکا»، ددفاع وزارت دمخابری رئیس جنرال حضرت اونورملګري .

محترمو ژورنالستانو تاسوته پوره ځرګنده ده چی له افغانستان څخه روسی قواوتروتلو وروسته دافغانستان مسلمان ولس هیله من و، چی په افغانستان کی جګړه پای ته ورسیږي . دوینوتویول بندشی، سوله اوامنیت راشی اوپه افغانستان کی دخلکو منتخب حکومت جوړشی .

خوله بده مرغه چی دافغانستان دمسلمان ولس داهیله ترسره نشوه .

په افغانستان کی دجګړی سترعامل مکاراوجاه طلبه نجیب دئ ، دی دخپل اقتداردپاینښت په خاطر په هیڅ چاباندی زړه نه سوزوی ، نه یوازی ملت وژني بلکي دخپلو ملګرو له وژلو څخه هم ډډه نکوي .

هیوادپالونکو پوځیانو غوښتل چی په افغانستان کی جګړه پای ته ورسیږی ، اوپه بی ګناه خلکو باندی دزی اوبمباری ختم کړای شی ، پدی دول وطن پالونکی پوځیان غواړی چی په افغانستان کی له بهرنه تحمیل شوی حکومتونه ختم کړای شي اودافغانستان خلك دخپلی خوښی حکومت جوړکړي .

تاسی پوره خبریاست چی نجیب دملی روغی جوړی اوسولی ناری وهي ، ولی دی دخپل ناولی اقتدارپه خاطرله قدرت نه لاس نه اخلی اودافغانستان خلك داورپه لمبو کی سوځوي .

نجیب پرهیچاباندی اعتماد نکوی اودنجیب سره هیڅوك نشته اویومحدوده کړی ورسره دخپلو شخصی ګټوپه خاطرملګری ده پدی خاطر دافغانستان اردو پریکړه وکړه چی په افغانستان کی لکه څنګه چی مامخکی وویل ، چی جګړه پای ته

دګرجنرال شهنواز"تني " له کورنیو اوبهرنیو ژورنالستانو سره دمرکي په حال کي

ورسیږي ددې په خاطر دافغانستان داردو قوماندانان دمجاهدینو جهادي قوماندانانو سره دتفاهم په واسطه سره یوه موقتي اداره جوړه کړي اودشپږومیاشتو په اوږدوکې منتخب حکومت ته قدرت ورتسلیم کړي .

نوڅکه موږدحوت دمیاشتې په ۱۵ نیټه دغرمې په یوه بجه دڅمکنیو اوهوائي قوتونو په ګډون دنجیب دطرفدارانو په نظامي قوتونو باندې برید وکړ اودنجیب طرفدارانو اوپخپله ده ته مو سخت ګوزار ورکړ.

دسوق او اداري ځایونه له دارالامان اوبګرام څخه اداره کیدل. دجګړې په اوږدوکې دلوړې ارتفاع نه دروسي د هوائي الوتکو اوسکاډ پواسطه سره زموږ دقوماندې ځایونه بمبارشول .

اوزموږ نژدې قوتونه چې په کابل کې موجود وو له هغوی سره زموږ مخابروي ارتباطات وشلیدل پدې خاطر موږمجبورشوچې دسیارې قوماندې ځای نه خپل طرفدارقوتونه اداره کړو .

اوس موږ دکابل د شپږ کیلومترۍ یادکابل دشاه وخوا (چهاراطراف) نه دمجاهدینو دجهادي قوماندانانو په مرسته خپل طرفداران اوخپل قوتونه دمختلفو لاروچاروپواسطه اداره کوو. خپلو قوماندانانو اوطرفدارانوته موهدایت ورکړی دی چې دقطعاتو په جزوتامونو کې دننه دنجیب پرضد وسله والې مبارزې ته دوام ورکړي اودمشکل په وخت کې دجهادي قوماندانانو سره یوځای شي اوپه ګډه سره دنجیب دمنفوررژیم په ضد خپلې وسله والې مبارزې ته دوام ورکړي ترڅودنجیب منفوررژیم نسکورشي .

موږبه دمجاهدینو په مرسته په راتلونکوکې نجیب ته سخت ګوزارورکړو، خپل ملت اوتاسي ژورنالستانوته اطمینان درکوو چې ، دنجیب عمرلنډدی اوپه راتلونکې به دده منفوررژیم نسکورشي .

موږستاسي دسوالونو دپاره چمتویو، تاسي کولای شئ چې سوالونه وکړئ .

دامریکا غږ خبریال :

پوښتنه : له ټولونه تعجب آوره داده چې تاسي څنګه له ګلبدین حکمتیارسره سیاسي اتحادکړی دی ځکه چې تاسي دواړه یوبل سره دعقیدې په لحاظ ډیرمخالف کسان یاستې اوډیرمجاهدین داسې فکرکوي چې تاسي دافغانستان له خلکو سره ښه رویه نده کړې نوپدې خاطر بیا څنګه ممکن شوه چې تاسي داکاروکړ؟

ځواب : موږدحکمتیارصاحب سره دافغانستان دملت دګټوپه خاطریو ځای دنجیب دمنفوررژیم پرضد خپلې مبارزې ته دوام ورکوو او په دې خاطر مو ګډون کړی .

دپاکستان دمسلم اخبارخبریال :

پوښتنه : تاسي چې مخکې په مجاهدینو باندې حملې کړې اوپه خوست، هرات کې موهغو ته تاوانونه اړولي ، تاسي خپله غلطي منئ ؟

ځواب : مامخکې وویل چې موږه پوهیدو اودغه زموږعمل اوپاځون دابښیي چې موږه ددې اوسني رژیم په ضد راوپاریدو ، داداستې ښیي چې دلته اشتباهات شوي خپل اشتباهات موږه منو، او دازموږ عمل ، پاڅون چې موږه وکړاودغه ته موږه دوام ورکوو داخپله دابښیي یعنې پاکوي دازموږه اشتباهات ښیي چې موږدملت په څنګ کې ودریدو.

دکویت دالمجتمع خبریال :

پوښتنه : ستاسي تصورله اسلامي دولت څخه څه دی ؟

ځواب : شکل یې زماپه نظرسره څنګه چې دافغانستان خلک مسلمان دي اومسلمان ملك دی باید دحکومت شکل یې هم اسلامي وي .

دیوبل خبریال پوښته چې ځان یې معرفي نکړ:

پوښتنه : مطبوعات داوائي چې تاسي ددباهدینو په مقابل کې دیونظامي حل

طرفداروئ اوهغه نجیب و چې صلحه ئې غوښتله ستاسې نظر په دې هکله څه دی ؟

ځواب : ماخوعملاً وښودل ، ماوښودله چې زه دملت په ځنګ کې ودریدم ، دادنجیب ډیر کرغېړن تبلیغات وه چې نه یوازې ماپسې اوځماپه شان دغسې کسانو پسې چې هغه دملت طرفداردی اوجګړه نه غواړی اوصلحه غواړي ، دې کرغیړن تبلیغات کوی اواوس به موږنجیب وګورو چې نجیب دخپل قدرت څخه لاس اخلی اوکه نه اخلی دملت په خاطر اودملت ددګټو په خاطر.

دعربی مجلی الجهاد خبریال :

پوښتنه : تاسې دنجیب دمهمو طرفدارانوله جملې دنجیب دنسکورولو لپاره کولای شول نورې لارې هم اختیارکړې وای ، ولې مودکودتا لاره غوره کړه .

ځواب : ماځکې وه ویل چې نجیب دملې روغې جوړې نارې وهې ولې ده دغه پروسې ته انکشاف نه ورکاوه، موږله ده سره خوځلې پدی ارتباط غږیدلی یو او بالاخره ماوویل چې وطن پالونکی پوځیان دی ته مجبورشول چې وسله وال پاڅون وکړي .

دبی بی سی خبریاله :

پوښتنه : اوله برخه ، دغه وخت (تایم) چې تاسې دپاڅون لپاره انتخاب کړ، آیا دادډی په خاطر وه چې تاسې ته نجیب ویل چې تاسې مستعفی کیږی اوله وظیفی څخه یې ګوښه کولې اویاداچه هغه افسران چې محاکمه کیدل په هغې پورې اړه درلودله .

دوهم برخه : یاداچې نجیب غوښتل چې واقعاً اصلاحات راولې اودهغې له ځینو برخوسره تاسې مخالفت کاوه ، یا تاسې په هغې کې درهبرۍ رول غوښته اوکه څنګه ؟

ځواب : زه فکرکوم په فکری لحاظ ماستاسې دغو سوالونو ته ځواب درکړ یعنې ماخپله مفکوره تاسوته په مقدمه کې ټوله وویله ، چې موږدقدرت په خاطر داکارندی کړی ، ځکه چې ماوویل چې ماڅه غوښتل یاداافغانستان اردو څه غوښتل ، تکرار ته ئې ضرورت نشته ماځکې وه ویل ستاسې په یاد بایدوی ، ولې تاسې ټول خبر [illegible] ت چې زه په افغانستان [illegible] ددفاع وزیروم اوددی نه لوی قدرت زمادپاره ضرورت نه و او دقدرت په خاطر موږداکارندی کړی بلکې

نیازمحمد مومند

دملت اودملت دګټو په خاطر موږداکارکړیدی .

پوښتنه : موږپوهیږوچې تاسې زیات قدرت نه درلود څکه چې په سپیشل (خاص) ګاردباندې ستاسې اداره نه وه اوتاسې اعلی سرقوماندانی هم غوښته پدې خاطر تاسې پاڅون وکړ؟

ځواب : زه فکرکوم چې په ټوله نړۍ کې ستندرد داردوپه سرکې ددفاع وزیر، داسترقدرت دی .

پوښتنه : موږپوهیږو چې افغانستان کې داسې نده ؟

ځواب : نورځنګه چې تاسې پوهیږئ هغه ستاسې خیال دی، ماعملاً وښودل اواوس دی نجیب هم وښیې زه له قدرت څخه تیرشوم اوس به یې موږه وګورو چې دافغانستان دخلکو په خاطر نجیب له قدرت لاس اخلی اوکه نه .

پوښتنه : آیا داسې ممکن نه و، هغه کسان چې محاکمه کیدل چې تاسې ئې هم پدې اقدام محاکمه کړی وای اوتادهغه نه مخکې اقدام وکړ؟

ځواب : دادنجیب کرغیړن تبلیغات دي، داغلط دی، دروغ دی .

دپاکستان دنوای وقت خبریال :

پوښتنه : تاسې پخپل بیان کې مخکې وه ویل چې پرموږ روسی الوتکو دنجیب په ملاتړ بمباری وکړ ولې روسان تراوسه پورې دافغانستان دملی منافعو په خلاف اقدام کوي ؟

ځواب : دروسانو په هکله زه فکرکوم چې ټول نړی ته څرګنده ده چې دوی په افغانستان کې څه کړیدي اوکوم اشتباهات ئې کړیدي اواوس ولې لاس نه اخلی ، داهم په دوی پورې اړه لري، ولې زماپه نظر سره زه داسې عقیده لرم چې نور روسان له افغانستان څخه لاس واخلی دابه دافغانستان دملت اودوی په ګټه وي . اوزه هیله من یم چې دنړۍ نورهیوادونه هم پدې هکله په روسانو فشار راوړي چې دافغانستان نه لاس واخلی اوداپه راتلونکوکې دافغانستان اونوروهیوادونو په اړیکوکې ښه رول ولوبولئي.

دکنفرانس پدې برخه کې نیازمحمد« مومند» دبي بي سي راډیو له خبریال لیزدویست څخه داسې وپوښتل : تاسې په کابل کې ډیره موده تیره کړې ده.ولې تاسې له یومحدودې حلقې نه بغیر دبل چاسره تماس نه نیوه ؟

چې ځواب ئې یوازې پته خوله پاتې کیدل وو .

یوبل خبریال چې ځان ئې معرفي نکړ :

پوښتنه : له اقدام څخه وروسته تاسې په ډیر مخفي ډول پاکستان ته راغلی اواوس دلته یاست په دی هکله څه وایاست ؟

ځواب : زه تراوسه پورې پاکستان ته نه یم تللی، اوماڅکې تاسې ته ځواب درکړ چې زه په سیارشکل دمختلفو لارو چارو پواسطه سره خپلو طرفدارانو سره دمجاهدینو په مرسته ارتباط ساتم اواداره کوم یې .

پوښتنه : ستاسې کورنی پاکستان ته تللی ؟

حواب : هو، زما کورنی پاکستان ته تللی ده .

له قاهرې اولنډن څخه په یووخت خپریدونکې دالحیاء الاسلامی جریدې خبریال :

پوښتنه : اوله برخه : داچې حکمتیارصاحب له تاسې سره همکاری وکړه آیا ګمان کوی چې دمجاهدینو نوری ډلې به له نجیب اوپرچمیانو سره همکاری اوکمک وکړی .

دوهمه برخه : تاسې پخپله وینا کې وه ویل چې موږدانتخاباتو طرفداریو اوڅوک چې له انتخاباتو سره مخالفت کوی له هغوی سره به په شدت سره مقابله کوی .آیا تاسې پخپله په انتخاباتوکې ګډون کوی اوکه چیرې ګډون کوی په څه شکل تاسې په انتخاباتو کې ګډون کوی اودافغانستان دقضیې دسیاسی حل په اړه څه نظر لرئ ؟

ځواب : زماپه نظر دغو ټولو سوالوته ماپه مقدمه کی ځواب ورکړ یدی دلی بیا به هم تماس ونیسم .

موږهغه څه پیل کړیدی چی ټولو مجاهدینو غوښتل اوزه هیله من یم چی ټول مجاهدین ددغه وسله وال پاڅون څخه ملاتړ وکړي ، دمجاهدینو قوماندانان اوس له موږ سره پدغه پاڅون کی کمک کوی .

زمادا پوښتنه جنرال عبدالقادرته متوجه ده :

پوښتنه : آیا اوس هم تاسی په ځینو هوائی قواوباندی تسلط لرئ او تراوسه پوری هم هغوی ته قومانده ورکوئ ؟

ځواب : موږځینی طرفداران لرو او داوخت څه ځندپکی راغلی دی . ځکه چی زموږ الوتکی له تخریب سره مخامخ شوی دي .

دواشنګټن پوسټ خبریال :

پوښتنه : بی له حکمتیارڅخه نوریوجهادی مشرهم ستاسی سره دهمکاری اوتائید اعلان ونکړ که چیری تاسی کامیاب شوی نو بیا په افغانستان کی تاسی له حکمتیارسره اتحادکاوه ؟

ځواب : مامخکی ددی سوال ځواب درکړ چی موږه څه غوښتل اوڅه موکول .

پوښتنه : له څومره وخت راهیسی تاسی له حزب اسلامی سره په تماس کی وی ؟

ځواب : زموږ دګوندونو په مینځ کی کومی اړیکی موجودی نه وې ، البته فردی تماسونه موجوددو .

پوښتنه : تاسی دډیرسرسخته کمونست په نوم مشهورياست او دمجاهدینوپرخلاف وی اواوس مسلمان اومجاهدياست ، څه وخت مجاهد اومسلمان شوی ، خپلو خلقی انډیوالانوپه مقابل کی څه واياست اوڅومره قوت درسره دی ؟

ځواب : مامخکی وه ویل چی موږ دمجاهدینو په مرسته خپل مبارزی ته دوام ورکوو اوزموږ دافغانستان خلك ټول مسلمان دی ، زماموږ، پلار اوکورنی ټوله مسلمانه ده ، موږه ټول مسلمانان یو له پخوانه موږمسلمان یو اوزه مسلمان جنرال شاهنواز«تنی» یم داچی نجیب اوغرب وائی هغه تبلیغات دی چی ماپسی يې کوی . هغه ضد خلك دی . ځکه چی ماعملاً وښودله چی زه څوك یم .

دیوبل خبریال پوښتنه : تاسی مسلمان ځان ته وائی اوکه کمونست ؟

ځواب : نیازمحمد«مومند» نه موږمسلمانان یو .

جنرال «تنیی» موږکمونستان نه یو اونه و دازموږ په ضدتبلیغات دی .

پوښتنه : تاسی مخکی و ویل چی تاسی مخابراتی مراکز بمبارشول اوپدی اساس اخلال مینځته راغی نوداددی معنی نه ورکوی چی تاسی خپله کودتاه درسته نه وه پلان کړی اوبل هغه قوه چی تاسی تراوسه هغې ته منتظر یاست چی تاسره به کومك وکړی ، هغه څه ډول خلك دی ، کوم قطعات دی اوکوم وخت کی به رژیم سقوط وکړی ؟

ځواب : [illegible] چی [illegible] دا[illegible] ارتفاع څخه دبهرنیو الوتکو پواسطه بمبارشو اوزموږ قوتونه زیات دی اوزموږ هغه قوتونه دمجاهدینو په مرسته به دقطعاتو دجزوتامونو په دننه کی مبارزی ته دوام ورکړی اودمشکل په وخت کی به له مجاهدینو سره یوځای شی . بیاهم دنجیب دړژیم دنسکورولو په خاطربه مبارزه وکړی اوزه باورلرم چی دنجیب رژیم به ډیر ژرنسکورشی .

پوښتنه : جنرال عبدالقادر! آیاتاسی پلان لری چی بیاهم هواته پورته شی اوبمباری وکړی ؟

حواب : موږه آمادګی نیسو .

یوبل خبریال چی ځان ئی معرفی نکړ :

پوښتنه : هغه افسران چی له تاسره متعهددی تعدادئی څومره دی ؟

ځواب : په وسله والو پوځونو کی زمادطرفدرالنو شمیر زیات دی ، ویلی شم چی اکثریت دی .

پوښتنه : آیا ویل شی چی دوه یادری زره ؟
ځواب : هوزیاتدی په زرهاو.
دپاکستان دمسلم ورځپاڼی خبریال :
پوښتنه : که داسی وی نو بیاولی ډیروځایونو ستاسی په طرفداری سقوط ونکړ تاسی خو پوازی په بگرام اوکابل کی وی اوپه نورو ځایونو کی ستاسی په طرفداری هیڅ جنگ ونشو ؟
ځواب : په نوروځایونوکی هم جنگ شوی دی .
پوښتنه : په کومو ځایونو کی جنگ شوی دی ؟
ځواب : په خوست کی ټول زموږ طرفداران دي .
پوښتنه : نوولی بیا سقوط نکوی ؟
ځواب : ماهخکی وه ویل چی موږ ورسره دمختلفو لارو چاروپواسطه ارتباط نیسو، هغه به په نژدی راتلونکوکی سقوط وکړی، دااوس دکابل شمالشرق اوشمال غرب خواته زماگروپونه موجوددی چی هغه له ماسره ارتباط لری اودوی خپل فعالیت ته دوام ورکوی .
دبی بی سی رادیو خبریال :
پوښتنه : ولی دفعتاً خوست سقوط ونکړ چی کله تاسی اقدام وکړ چی هغوی خبرشول ؟
ځواب : دهغوی په مقابل کی داسی ځوك نه وچی له هغوی سره جنگیدلی وای، دمخالف طرفداران نه و. دچاپه مقابل کی ئی جنگ کړی وای چی سقوط ئی کړی وای . اودمجاهدینو سره ماهخکی تفاهم کوردینه نه درلودله ، ولی په مقابل کی ددولت مخالف قوت موجود نه و چی دوی ورسره جنگیدلی وای .
پوښتنه : تاسی په جلال آباد اوخوست کی له خپلو طرفدارانو سره ارتباط نیولی د، چی څنگه اقدام کوی هغوی به ستاسی طرفداری کوی ؟
ځواب : هو له هغوی سره ماتماس نیولی وه .

پوښتنه : بیاهغوی له تاسی سره متعهد پاتی شوی ندی ځکه هغوی ځان تسلیم نکړ ؟
ځواب : ماهغوی ته دتسلیمیدو قومانده نه ده ورکړی .
دیوبل خبریال پوښتنه :
ستاسی ترینگ ډیرمسلکی دی اودیواعلی پوځی افسر په شکل تربیه شوی یاست اوپه پوځ کی موپه یوشکل کارکړیدی اومجاهدین چریکی جنگ لری ، تاسی غوړای چی مجاهدین په عسکری شکل تربیه کړی ؟
ځواب : زما مسلك کوماندو دی اوپخوادکوماندوی قوماندانی هم کړیده اومسلکی یم اودمجاهدینو په تکتیکونو اوپدلولو اوپه منظمه جگره ئی هم زه پوهیږم ، غواړو چی ددواړونه په ښی استفادی سره گټه واخلو. ترڅو چی پدغه وسله واله مبارزه کی ښی نتیجی ته ورسیږو .
ددی ځواب په دوام کی نیازمحمد« مومند» وویل :
یعنی زموږ طرفدارقطعات له داخل نه گذارکوی اومجاهدین زموږ طرفدران حمایه کوی پدی ترتیب باندی نجیب ته ډیر ژرسقوط ورکوو.
دپاکستان دمسلم ورځپاڼی خبریال :
پوښتنه : آیاته خپل ځان دحزب اسلامی بندی محسوسوی ؟
ځواب : نه که زه بندی وای نوبه زه په افغانستان کی گرځیدم ؟ نه یوازی بندی نه یم بلکی دمجاهدینو دقوماندانانو اوپه خاص ډول دحکمتیارصاحب نه دزړه له کومی مننه کوم چی موږ سره ئی ډیرکومکونه کړیدی اوکوی یی .
پوښتنه : ولی ستاسی کودتاناکامه شوه ؟
ځواب : ناکامه نده زموږ پاڅون دوام لری په اخرکی له تاسی ټولو ژورنالستانو څخه مننه کوم زحمت موویښی اوهیله من یم چی زما پیغام زموږ پوځیانو اونړیوالوته داسی ورسوی : چی زموږپوځیان به په

د ګرجنرال عبدالقادراکا

قطعاتو اوجزوتامونوکی دننه خپل پاڅون ته دوام ورکړی اودمشکل پروخت کی له مجاهدینو سره یوځای شی ترڅو چی دنجیب منفوررژیم نسکورشی له نړیوالوڅخه هیله من یم چی ټول واقعیتونه دخلکو غوږو ته ورسوی اوزموږ له پاڅون څخه ملاتړ وکړی .

دکنفرانس په پای کی یوبل خبریال چی ځان ئی معرفی نکړ :

پوښتنه : تاسی لوګرته څه وخت راغلی اوله کوم ځای نه ؟

ځواب : زه دعملیاتو په خاطر دلوګر شاه وخواته دمحمد آغی ولسوالۍ له لاری راغلم اودلته اوس هم جګړه دوام لری یو ټانک نیول شوی دی ددولت څوموټړ تخریب شوی اوزیات تلفات رسیدلې دی اویوه طیاره ئی هم نسکورشوی ده ، زه پرون ورځ کله چی له ماڅخه غوښتنه وشوه دلته راغلم .

پوښتنه : آیا نجیب کولای شی وطنجارستاپه مقابل کی استعمال کړی دهغو کسانو په باره کی چی د(خلق دګوند مربوط دی اودنجیب طرفداری کوی څه تبصره کوی ؟

ځواب : وطنجاریو تطمیع شوی شخص دی چی دخپلو شخصی ګټو په خاطر دهرچا په څنګ کی دریږی اوله هرڅه نه تیردی کومه ملی مفکوره نلری .

دلویدیزوالو خپلمنځي اختلافات په ختیځ کې دځانګړیو ګټو پربنسټ دي

ژباړن فضل مولا "لټون"

« یوه انګلیسي شاعرکپلنګ ویلي وو چې ختیځ به ختیځ وي اولویدیځ به لویدیځ، دواړه هیڅکله نه شي یوځای کیدای » .

داخبره که څه هم دیوه ادیب اوشاعرله خولې چې دشلمې پېړۍ په لومړیوکې مړشویدی وتلې ده ، خوداپه حقیقت کې یوه فکري تګلاره ده .ځینې وختونه داسې کیږي چې یودول ځانګړې فکراوتصورپه کومه ټولنه کې ومنل شي او دخلکو دجذباتو اوعقایدوپه جوړولوکې یې ځانګړې لاس وي ، بیاهماغه نظریه اوفکري تګلورې کوم شاعراواد ب په خپلو ځانګړیو کلماتو کې دخپلې ټولنې اودګړد دترجمانې لپاره ترتیبوي ، چې دمتل په شیرپه ټولنو کې خپریږي ، او بیایې راتلونکې نسلونه هرځای تکراروي اودیوې کلیې اواصل په توګه پرې باورلري .

لویدیزوال که څه هم دخپل دین (عیسویت) په باب دومره شکمن اوتړی نه بیزاردي چې دهمدې دین داغیز دکم والي له امله پکې دول دول فلسفي اونظریې رامنځته شوې او ځینې یې دالحاد اوبې دینۍ ترحده هم رسیدلي اوکه نوریې ځانونه په ظاهري دول دخدای (ج) منونکي اودعیسویت پیروان بولي ، خو په اصل کې ددین په پرتله ماده پال اوګټه نمانځونکي دي ، دوی که پخپلو منځوکې دخپل دین په باب هردول فکر ولري خو دختیځ اوختیځوالو (په ځانګړې توګه مسلمانانو) په باب کلک اوپاخه عیسویان دي .

دلویدیځ تمدن له رامنځته کیدو څخه ترننه لویدیزې نړۍ (عیسوی اویهودي) استعماري پلان جوړونکیودماغونو په دې باب پرله پسې هڅې کړي چې څنګه ختیز (او په ځانګړې توګه هغه سیمې چې مسلمانان پکې اوسي اوپه مادي لحاظ له خاموموادو ډالامال دي) هیوادونه دخپلوګټو په خاطرسره وویشي اوداسې دښکیل دامونه وغزوي چې پخپله پکې ځانونه ونښلوي ، ځینې وختونه که په ښکاره سړی ته دهغوي ترمینځ اختلافات ښکاري خوداپه حقیقت کې دځانګړیو ګټو پرسرد رایواختلاف دی ، چې ددریم یامقابل څواك دراپورته کیدو پروخت له منځه ځي اوهغوی بیا دنوي څواك دټکولو له پاره سره یوځای کیږي ، هغه لویدیز څواکونه چې په ښکاره دوه نړیوالې سیاسي نظریې اوسیاسي نظامونه ښکاري ، په حقیقت کې دیوه وټه ایز(اقتصادي) ښکیلاکګر نظام دوه ګړنلاری دي چې دخپلو ګټوپه خاطر نړیوالوته مخالف قطبونه ښکاري، دوه نړیوال استعماري بلاکونه تل هڅې کوي چې دخپلمنځي

اختلاف په ترڅ کې خپلې ښتې خوندي وساتي هغوی کوښښ کوي چې خپل هرډول دښمن ته یوځان دوست او بل ورته مخالف سکاره کړي اوپاداسې باید ووایو چې دخپل مخ یواړخ ورته سپین اوبل ورته تورونښیي ، اودنړۍ دمستضعفو ملتونو په منځ کې یې ځانته دګټود ترلاسه کولو بازارتود ساتلی دی .

له تیرو تاریخي پیښونه څرګندیږي چې هرکله عیسویان پدی پوهیدلي چې مسلمانان دیوه داسې قوت په حیث راپورته کیدونکی دی ، چې دنړیوال ماده پال عیسوي ذهن ته تري خطر پیښیدای شي نوبیا دخپل ابدي دښمن یهودیانو سره هم دمسلمانانو په مقابل کې له دوستي نه دریغ نه دی کړی ، په همدې اساس که اوس پر نړیوالو حالاتو یوځغلند نظر واچوو اوپه نړۍ کې دمسلمانانو او نامسلمانو له خوا دراولاړو شویو آزادی له غورځنګونوبه داڅرګنده شي چې دوه سترمادي ځواکونه دخپلو هم ګروهو او [illegible] دنړۍ غوره کوي اوځه ډول یو شمیر وګړیوته دآزادی لاره برابروي اونور «مسلمانان» دناروا تیری او منافقانه دسیسو په وسیله ټکوي .

اوریدلي به مو وي چې دبالتیک دبحیرې پرغاړه دروس دعیسوی ایالت لیتوانیا خلکو چې دخپلې آزادي لپاره هلې ځلې پیل کړې او مظاهرې یې وکړې نوګورباچوف پخپله دغه ایالت ته ولاړ اودهغه ځای دخلکو احساسات اوغوښتنې یې ځانته معلومې کړې اودښاریه کوڅوکې یې له خلکو سره په آزادانه ډول خبرې اترې وکړې ، خو څوورځې دمخه چې کله دآذربایجان مسلمانان دخپلې آزادی دترلاسه کولو لپاره راولاړشول نودهغوی دغلي کولو لپاره یې څلویښت زره وحشي پوځونه ولیږل ، دتوپونو اوټانګونو مرمۍ یې پرې واورولې اودهغوی دټکولو لپاره یې له هرډول زوراو قوت نه کاروا خیست ، دګورباچوف دغه دوه مخیرسیاست هم نړۍ حیرانه کړه ، خولویدیزوالوپرې هیڅ ډول تاثرونښود اوامریکا یانو هم دروسانو دغه عمل ونه غانده ، لامل یې دامریکا دباندنیو چارودوزارت ښځینه ترجمانی داسې بیان کړچې امریکا دلیتونیا ، لیتوانیا اولستونیا ایالتونه دروسي برخه نه ګڼي ، حکه چې په ۱۹۳۹ کې دروس ـ جرمني پټې معاهدې په ترڅ کې دغه ایالتونه دهغوی دخوښې پرخلاف په روسی پورې تړل شوی وو .

اودې پرخلاف امریکا له همیشه راسې آذربایجان دروسیې یوه برخه ګڼي ، نوکه ددغه ایالت وګړي آزادی وغواړي امریکایي ملاتړ نه شي کولای .

اوس نوکه تاسې دتاریخ پاڼې وګورئ نودرمعلومه به شي چې آذربایجان په ۱۹۲۰ کې روسي پوځونو په زوره پخپل هیوادپورې تړلی و ، تردې دمخه اودروسي انقلاب له رامنځته کیدو وروسته دآذربایجان خلکودلینن ددی اعلان نه په ګټه اخیستو «چې کومې سیمې تزاری حکومت دخپل استعماري سیاست له مخې هضم کړي وي ، که هغوی له روس نه جلاکیدل غواړي ، نودروسیې دسوسیالیستي حکومت پرې هیڅ اعتراض نشته » آزادی ترلاسه کړې وه ، خودغه آزادی تردووکلو دزیاتې مودې لپاره پاتې نه شوه اودلیننی انقلاب استعماری خوبونه ډیر ژرنړیوالوته څرګند شول او سوسیالستي پوځونودخپل وحشت په زور آذربایجان دویم ځلې غلام کړ .

له تیروتاریخي پیښونه څرګندیږي چې هرکله عیسویان پدي پوهیدلي چې مسلمانان دیوه داسي قوت په حیث راپورته کیدونکي دئ چې دنړیوال ماده پال عیسوي ذهن ته تري خطره پیښیداي شي نوبي دخپل ابدي دښمن یهودانو سره هم دمسلمانانوپه مقابل کي له دوستي نه ددریغ ندي کړي

اوس دامریکا یانو یاپه اصطلاح دلویدیزوالو دوه مخیز توب وګوری چی دهغوی په نظرچی روسانو کوم ایالتونه دپټی معاهدی په ترڅ کی په ځان پوری تړلی وو، هغوته باید آزادی ورکړای شی او کومی سیمی چی دزوراو وحشت په وسیله روسانوپه خپل استعماری هیوادپوری تړلی وي ، هغه دی دروسانو یوه برخه وګڼل شی ، په حقیقت کی دامریکایی دریځ ترشایوبل احساس کارکوي اوهغه داچی :

واك کی پاتی شی، داده دلویدیزوالو جمهوریت خوښوونکیو آزادی خوښوونه ، دهغوی په نظر دآزادی حقداریوازی سپین نژادی او یادهغوی هم مذهبی عیسویان دی ، مسلمانانو ته باید هیڅکله داوخت ورنکړای شی . چی هغوی هم له استعمارنه آزادشی .

په همدی ډول که تاسی دروسی یهودانو دفلسطینی مسلمانانو په خاوره کی دآبادولو چاری ته وګورئ ددغی لړی یوه کړی ښکاری ، دغه ډول له دی نه هم

نمایي ازشهرتالقان که فعلاً دردست مجاهدین است .

یوی امریکایی مجلی نیوزویك پخپلی اوسنی خپرونه کی دلویدیزوپوهانو دانظررانقل کریدی چی آزاد آذربایجان به دمسلمانو بنیادپالو آمرانه حکومت وی اودادعیسوی آرمینیا لپاره دخطر لامل کیدای شی ، نو غوره همداده چی دغه ایالت دروسانو په

یوي امریکایي مجلي نیوزویك پخپلي اوسني خپرونه کي دلویدیزوپوهانو دانظررانقل کریدي چي آزادآذربایجان به دمسلمانو بنیادپالو آمرانه حکومت وي اودا دعیسوي ارمنیا لپاره دخطرلامل کیداي شي .

تاسی اټکل کولای شئ چی امریکایانودروسانو تر وتلو وروسته له مجاهدینو سره مرستی څنګه کمی کړیدی ، لامل یی همدادی چی دیوه آزاداو خپلواك اسلامی حکومت مخه ونیولای شی په همدی توګه که تاسی دنړی تیرتاریخ ترنظر تیرکړئ درمعلومه به شی چی کفری ځواکونو څه ډول په ګډه دمسلمانانو دراپورته کیدومخه نیولی ده،نوداسلامی نړی مشرانوته پکاردی چی لویدیزو بلاکونو ته له هیلو اواسروپرته دخپل ژوندانه دسمون لپاره کوښښونه وکړی او دچاروپای عظیم اوتوانا ذات (ج) ته وسپاری .

بې رنګه کرسي

افسانه

خالد "پاسوال"

دسهارهواتیاره غونی شان وه ، لمر لاته وراختلی ، هغوی دری واړه دومره په کراره روان ووچی دیوه بل دپښو ښکالویی په آسانی سره نشوای اوریدلای ، کټ مټ لکه دپخو غلو ، دپښوښکالوچی په توره تیاره اوکندوکپرلاره کی هم نه اوریدل کیږي .
یوګس یی مخکی په شمیرلو قدمونو روان و اودوه نورروپسی دو په وروپسی دوه کسانو کی یی یوښی اړخ . ته نژدی روان واوبل کین اړخ . ته .
دمخکینی پراخه تندی ، لوړې ونې ، ګونځی ، ګونځی مخ اومړاووبی نوره سترګوپه همدایوه وخت کی دهغه دلرغونی څواك اواوسنی بی څواکی ، کمزوري غمازي کوله . دکینی خواملګری یی ځنګ ته ورنژدی شواوورته وی ویل : جنابه ! هیله ده دتیرو ورځواوبیګانی شپی دخبروپه هکله ستاسی له وروستی پریکړی نه خبرشم مخکینی یواځی سرسری شان ورته وکتل نوریی هیڅ ځواب ورنکړ . له یوی بنی شیبی ځنداوچوپتیانه وروسته دښی خوا اوکینی خوا دواړوکسانو یوه بل ته وکتل ، په تمسخرسره یی په مخکینی پسی شوندی بوځې کړې او ، اوږی یی پورته واچولی .
دکینی خواسړی دښی اړخ . سړی ته په همدی ترڅ کی دمخکینی په لوراشاره وکړه . له اشاری سره سم دښی اړخ سری هم مخکینی ته ورنژدی ساوپه ډیرادب یی ورته وویل : عالی جنابه !
زه هم ستاسی وروستی پریکړی ته په بی صبری سره انتظارباسم . مخکینی په ډیروقاراومتانت ورووروروان و یوه بنه شیبه خوداسی ووتله تابه وی چی هیځ یی ندی اوریدلی . وروستنیو دواړوبیایوبل ته په استفهامیه اندازوکتل . په دی شیبه کی مخکینی پرته له دی نه چی شاته راوګوری ، دبیزاری اواستغناپه لهجه وویل : اقتدارزماتښتیدلی اونافرمانه مریی دی ، اوس بیا سروهلی بروهلی زمادوره ترشاولاړدی ، خوسره له دی هم سرله غروره جګ وړی ، دازمالپاره لزګرانه ده چی دهغه په وینو لړلی خیرنی اوناولی جامی اوس زه پری مینځم ، دهغه پرلمن زمادادلس دوینوبی شمیره داغونه دی . وروستنیو دواړه په یوه آواز وویل : عالی جنابه ! ستاولس اوس یوناجی ته ضرورت لری . تاسی داقتدارلپاره نه بلکه دخلکواوولس دنجات لپاره زموږغوښتنه

ومنې. مخکيني پرته له دې چې ځواب ورکړي ، هماغسې ورو، ورو روان و.
دلمرزرينو وړانگو دبڼ دگلپاڼو په ښکلولو پسې دشاوخوا، گورو، ونودشنوپاڼو له مينځه ځانته په سختۍ سره لارپيداکړېوه ، دشبنم څاڅکوپرگلپاڼو باندې دزرينو وړانگو په موجوديت کې دسپينو مرغلروپه ځيرځلاکوله . مخکيني ديرښ ستر گلبوټي ځنگ ته ودريده اودمرغلرو په ننداره بوخت شو. وروستني دواړه هم ورپسې راغلل . ښي اوچپ اړخ . ته يې غلي ودريدل . مخکيني دگلپاڼو پرورغوي پرتوشبنمي مرغلروته ځيرو.
يوه شيبه وروسته چې دوړانگو لښکردباغ دونو پرسرراواووښت اوپرگلبوټويي غيزراچاپيره کړله ، نو دمينې په تودو ځه کې يې شبنمي مرغلرې ټولې والوتلې ، دگلپاڼوورغوي اوس له تخته لويدلې پاچاپه ځيرله مرغلروتش وو.
مخيکني خپلو دواړوملگروته مخ وراړاوه اوپه فيلسوفانه اندازيي ورته وويل :
« داقتدار دمرغلرې عمر او ځلاهم کټ مټ دگلپاڼو مرغلروته ورته ده» ملگرويي ورسره يواځې سروخوځاوه ، داسې چې تابه وې دهغه له فيلسوفانه خبرو سره يې هيڅ دلچسپي نشته . له همدې امله هغه هم نوره خبراوږده نکړه .
پردغه وخت دلمر طلايي وړانگودهغه تندې ځلاوه، خوسترگويي دلمر دطلايي غشوپه وړاندې تورروزمه سترگې (عينکې) سپرکړې وې . مخکيني ورو، ورو دکوردسترميلمستون په لور وخوځيده او دواړه ملگرې يې هم ورپسې وو، خو دپښوښکالويي په آسانۍ سره نه اوريدل کيده، کټ مټ ، لکه دپخوغلو دپښو ښکالو چې په توره تياره اوکندوکپرلاره کې هم نه اوريدل کيږي .
مخکيني (بيرنگ شاه خان) چې خپل مخصوصې کوټې ته ننوت نو، دکينې خواملگرى سورخان اودښي خواملگرى تور خان ته يې بيرته راوکتل او ورته وې ويل : « بيگاه ته به له ډوډۍ نه وروسته پريکنده خبرې وکړو، تاسې دواړه هم خپل وروستي پلان جوړکړئ »
په دې خبره دسور خان اوتورخان په سترگوکې دشيطاني خوښۍ ځپې وځليدلې ، ښکارددام په لورروان و. دښکاريانو خوړې دانې دښکارگ په سړو تودوليدلو سترگو پرڅ ځوړولې و .
بيرنگ شاه خان دخپلې کمزورې ارادې ، رنگين ژوند، غواړه مالواوبې کفايته پلويانو له امله دسور خان دپلويانو دحيلو اودسايسو له امله له پښو غورځيدلې و.
دبيرنگ شاه خان په خانۍ کې دده له بيرنگ خيلو پرته دوه سترې قبيلې ، سور خان خيل او تور خان خيل ... اوسيدلې . ددغو دوه دښمنو قبيلوترمينځ دهغه بې رنگه ، بې خاصيته اوملانصرالديني قضاوتونو هم دهغه په راپرځولو کې ستره اغيزه درلوده .
وايي چې يوه ورځ ملانصرالدين ته دوه تنه دخپل مينځې شخړې دپريکړې لپاره راغلل ملانصرالدين دمدعي دخبرو له اوريدو وروسته سمدلاسه وويل :« ته ښه وايې» ورپسې مدعي عليه داسې دلايل وړاندې کړل چې ټوله پوره يې پرمدعي واچوله . ملانصرالدين پرته له دينه چې خپل مخکيني خبرې ته پام وکړي او يادمدعي اومدعي عليه دادعاگانو ترمينځ بنيادي توپير اوتضادته پام وکړي مدعي عليه ته يې وويل « ته هم ښه وايې » يودريم گړي چې هلته ولاړو له ملانصرالدين نه يې په اريانتيا سره پوښتنه وکړه چې ، ښه نوملامت څوک شو؟
ملانصرالدين هغه ته په خنداووېل : « ته هم ښه وايې » .
هغه وخت چې دبيرنگ شاه خان دواک اوځواک نغارې ډنگيدلې اوقدرت اوپه يې مخپورته رواني وې ، تل به يې دسورخان خيلو، اوتورخان خيلو دشخړو اوادعاگانو ترمينځ هم دغه راز قضاوت کاوه . هغه په ريښتينه له دغو ټولوته بيزاره و، يوازې

دخپلُ اقتدارله پایښت سره یې هینه
وه. ټولوسره به یې له ریااوتظاهر نه
کاراخیسته اوکرکه به یې ترینه کوله په
تیره له شین خان خیلو سره . خو یې
بالکل دهیرې مورسلوک کاوه .

وخت اوحالاتو داسې اړخ بدل کړچې
بیرنگ شاه خان له خپل لمنې اورواخیست
اودخپل کور داقتدارورزي ، لیونشاه خان
دسور خان په ، مرسته پربیرنگ شاه خان
سترگې راوکښلې اوله کوره یې وشاړه .
دسورخان خیلو په لمسون دشین خان
خیلو په مرگ ژوبله لاس پورې کړ .
لیونشاه خان دخپل لستوني مارانو وچیچه
، په دې توگه دسورخان دلیوانو مخه
نوره هم خلاصه شوه ، دشین خان
خیلوورکاوی ته یې ملاوتړله اوخونړۍ
جگړه یې ورسره پیل کړه په دغه پیښه
دتورخان اخې وختلې وایې چې :

یودښمن په بل دسمن چې حواله شي
ددریم دښمن پرې وېره تسله شي

په دې توگه تورخانَ اوس دخیرنه بلکه
دشریه غونډې ناست دی اوددغې جگړې،
اورته بېوزې وهي ، وروسته چې شین
خان خیلو، دخپل ایمان اومیرانې په ځواک
سره دسور خان خیلودبرې هیل له
خاوروسره خاورې کړلې او هغوی پوه
شول چې پرداسې خونې لاره یې مزل پیل
کړیدی چې ژوندې راستنیدل یې ترینه
کیدون نلري ، نودسولې اوروغې جوړې
خبرې یې رامینځته کړې . دغه وخت
تورشاه خان هم په دې تکل کې شوچې
په دغو خړواوبوکې کب تیولوته لیځې
اوپیځې راونغاړي .

له همدې امله دسورخان خیلو اوتورخان
خیلو استاځې سره لاړل راغلل اوشین خان
خیلو ته یې په گډه پیټې پاځه کړل .

ماسخوتن نیزدې ووډې خوړل شویدد ؛
تورخان دبیرنگخلفان . ښې اړخ ته
ناست دی اوپه ولې یې سره اوښنه
ستوری ټکوهل دی اوسور خان یې کیڼ
اړخ ته. بیرنگ شاه خان سره دوه تنه
نژدې خپلوان هم ناست دی .

دکرسي چوپړولو خاص ترکانې اوزنگمال
هم ناست دی بهر دبیرنگ شاه خان
پخوانې غوړه مالان په ډیرم بې صبرۍ
دیته منتظردي چې څه به کیږي .

سورخان اول تورخان ته وکتل اوبیایې
بیرنگ خان ته مخ وراړاوه اوورته دی
ویل :« موږاوتاسې دکرسي دچوپړولو په
هکله مخکې ډیرې خبرې کړیدي ، زه نه
غواړم هغه ټولې بیا تکرارکړم ، غواړم
دمسئلې په عمل اړخ خبرې وکړم ، تاسې
ته څرگنده ده چې وخت سره زردی ،
خوسره زرتیرشوی وخت نشي راگرځولای
یاپه‌ٔوینا سره زروخت کیدای نشي ، دغه
وخت زموږاوستاسې درې واړو لپاره
حساس اوارزښتناك دی . دسیاست
اوسیاسي اړیکو په ډگر کې هرڅه دوخت
اودوه اړخیزو گټو په تله تلل کیږي
اودځواکونوانډول هم په نظر کې نیول
کیږي ، هغو چې وخت ضایع کړیدی
وخت هم هغوی ضایع کړیدي ، داسې
چې بیا دهیچاپه ښه ندي راغلي ، تورخان،
تراوسه پورې غلی و، خودیته یې پام وچې
دبیرنگ شاه خان په څیره کې دشك
اوترددښې نښانې لاموجودې دي، نودهغه
دشك دلیرې کولو لپاره دسورخان په
خبروکې چې بې ځایه تري اوریدلې ،
ورولویده اوورته وې ویل : « ستاپه
اجازه صرف یوه دقیقه خبرې کوم»
سورخان په نه زړه اجازه ورکړه ، تورخان
، بیرنگ شاه خان ته مخ وراړاو. اوورته
وې ویل : موږپه دغه معامله کې ستاسې
پخوانې اواوسنې حیثیت اواهمیت کاملاً په
نظرکې نیولې دی، ان ترددې چې په دغه
برخه کې موږ دراکړې ورکړې
give and take، عام اصول هم
پخپله گټې په نظرکې ندي نیولي ، تاسې به
یقیناً اریان شې که داداورې چې موږ دوه
تنو په دغه څوکۍ کې صرف دوه امتیازه
اخیستې دي او دوه موږوازي تاته پرېښې
دي ، داکارمو ستاسې داطمینان اوحیثیت

په نظرکی نیولو سره کېږیدی، که نه داکاردمعاملاتو د«. راکړې ورکړی» له اصولوسره بالکل برابرندی. په دغه خبره د بیرنگشاه خان اودهغه ددوه تنه ملگرو تندی وغوړیدل . یوه ملگری یی دراتلونکی اقتدارپه مینه کی خوره مسکا وکړه اوتورخان ته یی داسی وکتل تابه وی چی دهغه داحسان اوعالی ظرفی‌منته کوی .

سور خان چی دبیرنگ شاه خان تندی غوړیدلی ولیده نووی ویل : تورخان بالکل سمه خبره وکړه، موږدوه برخی تاسی ته درکړیدی اوهغه داسی چی کرسی موپه څلورواساسی برخوویشلی ده :

۱ـ دوه وروستی پښې .
۲ـ دوه مخکینی پښې .
۳ـ دلاسونو ایښودلوبرخه .
٤ـ دتکیی کولوبرخه .

هغه پردغه وخت له جیب نه یو کاغذ راوایست اودکرسی څلورواره اساسی برخی یی پکی په نښه کړلی، دغه کرسی بی رنگه انځورشوی وه . دبیرنگ شاه خان تندی لاپسی وغوړیده اودکرسی دانځورستاینه یی وکړه، ملگرویی هم . دکرسی دماهرانه انځورستاینه وکړه .

سورخان دهغوی مننه وکړه اووی ویل : دکرسی درنگو لو طرحه هم زماپه جیب کی پرته ده، دهرسړی برخه دهغه په رنگ مشخصه شویده . په دغه کارکی تورخان هم راسره موافقه کړیده، یوازی ستاسی موافقه پاتی ده، زه ډاډه یم چی ستاسی به هم خوښه شی، سره له دی چی په دی خبریم چی ستاسی مخکینی کرسی بی رنگه وه .

خوزه غواړم په صداقت سره تاسی ته ووایم چی ستاسی دکرسی دله مینځه تللو سترعامل هماغه بی رنگی وه هغه کرسی هیچاهم خپله نه بلله، هغه یوازی ستاسی ! کرسی وه، ځکه خو دلویدو پروخت هیچاهم اوږه ورنکړه .

دبیرنگ شاه خان یوه ملگری داعتراض په توگه وویل : خوهغی کرسی پوره څلویښت کاله دوام وکړ . سورخان وویل : ستاخبره سمه ده، هرڅه پخپل وخت قدراوقیمت لری دبیرنگی زمانه نوره مخ په ختمیدوده، بلکه چوره یی ختمه وبوله . زه تاسی نورپه انتظارکی نه پریږدم دادی دکرسی درنگ طرحه اوله دی سره سم یی یوکاغذ له جیبه راوکیښ اوپرمیزیی وغوړاوه. تهولوته یی بلنه ورکړه چی رانژدی شی . دکرسی دوه وروستی پښې دوینو په څیر سره رنگ باندی رنگ شوی وی، دوه مخکینی پښې یی دتوری شپی په څیر توری وی چی دسور خان اوتورخان دبرخو څرگندونه یی کوله . دکرسی مخنی برخه اولاسونه په کمرنگه شنه رنگ رنگیدلی وو، دتکیه کولو برخه یی بی رنگه وه . ددغی رنگینی کرسی په لیدو دبیرنگ شاه خان دوچولی گونځی زیاتی شوی . کمزوری سترگی یی دسره خونړی رنگ څلاوبریښولی او توررنگ یی په زړه اوسترگو تیاره راوسته خپیوه ملگری بی ددغی رنگینی کرسی په لیدوبی واره «واه واه ډیراعلی ډیراعلی» وویل . اووریپسی یی زیاته کړه اوس ددیموکراسی اوجمهوریت زمانه ده اوپه دغه کرسی کی دټولو پرگنو حقوق په ښه عادلانه توگه په نظرکی نیول شویدی، که داهم څوك نه منی نوهسی به یی نه منی، بیرنگ شاه خان خپل ملگری ته دسترگو په کونج کی وروکتل چی غلی شی، خودهغه فکردرنگینی کرسی مینی په ځان پسی رابنکلی و دیته یی هیڅ پام نشو اوخپلو خبروته یی ادامه ورکړه . اوس پردنیا دغه دری حلور رنگونه حکومت کوی تورشاه خان دهغه دتنبیه لپاره وویل :« گومان کوم یوازی دوه رنگه پرنړی حکومت کوی، یوڅوواره بی رنگه حکومتونه هم شته اوشنه هم دحکومت کو

لو لپاره نااهلي هلې ځلې کوي." سورشاه خان دهغه دخبری په تأیید وویل :

خوغربی استعمارته پکارده چی زمونږ دمسلمانان اوتوریالی ولس له تیروکارنامواوهم دروسیی ښکیلاك سره دپوره مقابلی دتوان اوحوصلی ځخه عبرت واخلی اوپریږدی چی زمونږ مسلمانان هیواد وال دخپل راتلونکی فیصله پخپله وکړی اودیته دی نه چمتو کیږی چی زمونږ دملت سره داځل دوی دروسانو په ځیر لاس وګریوان شي .

عدم موفقیت نظامهاي سرمایه داري وکمونیستي .

پیام استاد محمد حامد ابوالنصر مرشد عام اخوان المسلمین :

مترجم : نثاراحمدنوري

برادران تحریك اسلامی !
همه ثناوصفت آن ذات بزرگ وبرترراسزاست که مالك هردوجهان است ودرودوسلام برنبی اوحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم وبرآ ل واصحاب او تاروزقیامت برآن کسانیکه دعوت آنحضرت (ص) راقبول کردند وبرسیرت آنجناب عمل می نمایند بدون شك دعوت اخوان المسلمین مشتمل براصول ازلی وابدی است .

ودرجهان یگانه دینی تنها همین اسلام است که تاروزقیامت انسانهارا بسوی نیکی ویك نظام مکمل حیاتی رهنمائی می نماید . وجامعه منحرف شده رابسوی اصلاح می کشاند . انسان را تلقین می نماید تالزبدی ها دورباشند، وهمه مسلمانها رابایکدیگر به اتحاددعوت می نماید .

دینی که به انسان احساس می دهد تادرهمه اموردینی ودنیوی ازاساسات اسلام رهنمائی حاصل نماید ، وهمینهادعوت اخوان نیزهست .

کرم خاص خداوند تعالی بالای مامی باشد که دلهای مارابا هم یکی گردانیده وهمین محبت بین همدیگر تقاضای ایمان است ، ازفیض ایمان است که همه انسانها بشکل یك جسد واحددرآمده می توانند، گرچه همه تنها، تنها بنظرمی آیند ولی ایمان همه شان یکی است ، احساس شان یکی است وتفکرشان نیزیکی بوده وبرای حصول یك مقصد مشترك به پیش می روند مثلیکه اسلاف مابوده اند .

برادران تحریك اسلامی !
شمابعدازینکه مسلمانان بگروه های مختلف بین هم تقسیم شدند، وازدین بیزارشدند برای دعوت به اسلام برخاسته اید . که آن مسلمانان رایکباردیگر برای یك دعوت ، یك مقصد ویك عقیده یکجانمائید، تاناآرامی های مسلمانان رابنورایمان دورنمائید .

ازمیان ماااکثراً ازترقی وپیشرفت غرب درامورمختلفه اظهارتعجب می نمایند . که آنهاچیزهای تازه تری راکشف می نمایند، حقیقت اینست که همه این امورازمسلمانها بوده وتعلیمات اسلامی انسان را به این آماده می نماید، مگر ازینکه مسلمانان به اان اهمیت ندادند، گروه های غیرمسلمان برخاستند وکارهارابدست گرفته کنترول نمودند ، که امروز ازنگاه مادی درجهان درمنتها درجه ترقی قراردارند . ولی باوجوداینهمه ترقی وتعالی آرامش روحی نصیب ملت های شان نیست ، چرا ؟ زیراکه آنان ازنعمت ایمان محروم اند . دنیای غرب همه سهولت های دنیوی راحاصل نموده مگر هرگزسکون قلبی وروحی راپیداکرده نتوانسته اند . بلکه باوجودترقی وپیشرفت مادی برپریشانی هاوتشویشهای شان افزوده گردیده می

امروزنظام سرمایه داري باهمان ادعاي پیشرفت وترقي خود ونظام کمونستي باهمان ادعاي بهشت سرخ خودباروبسترشان را مي پیچند.

رود .

همینگونه نظام سرمایداری غرب باوجود آنهمه ادعاهای پیشرفت وترقی بناکامی مواجه می باشد . ازجانب دیگر، نظریه دیگری برخاست که انسانها را ازهرطرف اسیرودربندنمود . حق مالکیت راازوی غصب کرد . برتفکرونقل وحرکت وتحریر وتقریر اوقیودوضع نموده گویامطمئن گردید که برای ابدانسانهاراخاموش نمودیم ؛ بل یك طبقه مخصوصیکه حامل این نظربوده اند شاید سهولتهایی برایشان مهیا بوده باشد . آنها دیوارهای بزرگی بنا نمودند که شما یك حرفی علیه آنها وخلاف نظر آنها هم گفته نتوانید .

مگر امروزهردونظام سرمایداری وسوسیالیستی بوضع فجیعی ناکام گشته اند .

وعلمبرداران آن برای پنهان نمودن خود درتلاش پنا هگاه می باشند .

امروز نظام سرمایه داری باهمان ادعای پیشرفت وترقی خود ونظام کمونیستی باهمان ادعای بهشت سرخ خودباروبسترشان رامی پیچند درهرخطه دنیا ایندو نظام را به طرزبدی مستردمی نمایند .

درچنین حالتی، انسانیت ، شدیداً منتظرچنان نظامی است که درهمین موقع آنان را رهنمائی نموده بتوانند وآن نظام تنها نظام اسلامی بوده میتواند وبس .

لهذا به برادران تحریك اسلامی این وجیبه عایدمي گردد که قدم به پیش گذارند . وحقانیت اسلام را برش جهانیان توسط خوبی سیرت وعمل خودثابت نمایند .

همین وقت است که قدم به پیش گذارید ازنورموجوداسلام ، ظلمت موجوده جهان رامحونمائید .

برادران تحریك اسلامی ! شما که علمبردارچنین دعوتی هستید این دعوت کدام دعوت جدیدی نیست ، این تحریك دارای گذشته عالی است که مملوازقربانی های مسلسل درراه خداوند است .

بعداززوال خلافت اسلامی ، امام حسن البناء بانی تحریك اسلامی این تحریك را آغازنمود . واین تحریك باوجود ظلم ظالمان ، انتشاریافته است .

امروز این تحریك ، درمصر، فلسطین ، افغانستان ، لیبیا ، سوریه ، سودان ، عراق ، تونس والجزایر، توسعه یافته است ، بسیاری ازبرادران مادرین راه مرتبه عالی شهادت راحاصل نمودند واکثریت برادران مصروف پیکاراند . اخوان رااین شرافت نیز حاصل است که قربانی ها ی زیاد جانی ومالی تقدیم ، جهاد مقدس افغانستان فلسطین ، فلپاین وجهاداریتریا نموده است .

امروز همین تفکر اخوانی است که بایك قدرت ظالم وقاهروجابر روسی مردانه وارمقابله نموده وآنرابانهایت ذلت ورسوائی به شکست وفرارمجبورنموده است . وهمین تفکر است که درفلسطین توسط سنگ بایك قدرت ظالم ومرتددیگر یعنی

سعي کنید! یقین کامل بذات خداوند کریم پیدانمایید! همه اعمال خودرا صرف بخاطررضاي ذات الله تعالي انجام دهید!

امریکا مقابله می نمایند، همین مفکوره است که درفلپاین واریتریا هم خواب وراحت راازظالمان ربوده است .

انشاء الله که شب های تاریك مظالم ، بالای تحریك اسلامی عنقریب بپایان رسیدنی است ، وبزودی لوای همین تحریك اسلامی درجهان بلند افراشته گردید . اکنون مردم عوام هم حل تمام مشکلات خودرا درنظام اسلامی می بینند این سخن درانتخابات پارلمانی مصر وبعددرانتخابات محصلین ، کارگران ،

وکلا ، دکتوران ، غرض اینکه درهمه چنین انتخابات ازاعتمادمردم به مسلمانان مومن بخوبی دانسته می شود . درانتخابات شورای ملی اردن موفقیت دراماتیکی مسلمانان ، مظاهرات مسلمانان درتونس والجزایر همه اینها علامت آن است که انشاء الله موفقیت ازآن تحریک اسلامی است .

ولی اشتراک درانتخابات ویااکثریت حاصل نمودن درپارلمان ها مقصد ومرام مانیست ، بلکه ماتاآن وقت درهیچ اجتماعی احکام الهی را نافذ کرده نمیتوانیم تاهریکی ازمابطور کامل ومطلق به خداوند ایمان نداشته باشیم ، تاوقتیکه ندانیم خداوند مازماچه میخواهد تاکه مابه این باورنباشیم که اگر به احکام خداوند عمل کننده باشیم دردنیا وآخرت کامیابی ازآن ماست وتاوقتیکه ماانسانهای عادی رابه همین نهج ترتیب ننماییم اشتراک درانتخابات یابراه انداختن تظاهرات برای حصول مقصد یک وسیله وذریعه است ، ماباید ازین مراحل بزودی گذشته به پیش برویم ، تاجائیکه پیش آمد گروه های مختلف برسراقتدار درمقابله باتحریک اسلامی است . تغییری درآن نیست ، حاکم هرمنطقه همینگونه ازتحریک اسلامی خوف زده وبیمناک است .

درجائی توسط ظلم وستم درپی سرکوب نمودن این تحریک هستند، درجائی هم مذاکرات وگفت وشنید میخواهند، مگر ازامواج احساسات ووابستگی جوانان مسلمانان به مذهب ، بیمناک می باشند، ولی مانباید درین موارد بپیچیم ، مادعوت خودرا باحکمت آن ادامه

> درجهان یگانه دیني تنها همین اسلام است که تاروزقیامت انسانها را بسوي نیکي ویك نظام مکمل حیاتي رهنمایي مي نماید .

میدهیم ، مابرای حصول مقصد ورسیدن بمنزل باید ازهرگونه موانع بگذریم ولوبهرطریقی که باشد .

برادران تحریک اسلامی !

سعی کنید یقین کامل بذات خداوند کریم پیدانمائید . همه اعمال خودرا صرف بخاطر رضای ذات الله تعالی انجام دهید واین بیرقی راکه شمابرای بلند نگهداشتن آن برخاسته اید قلباً به آن اخلاص وعقیده پیداکنید، کاردعوت به نیکی ونهی ازبدی هاراسرعت بخشید قرآن کریم وکتب سیرت النبی صلی الله علیه وسلم رابدقت تلاوت ومطالعه کنید، اهتمام ادای نماز های خودرا باجماعت نمائید .

درحالت تنگدستی وراحت نظم خودرا ازدست ندهید ، همه استعدادهای خودرا وقف سربلندی دین خداواستحکام نظام شریعت اودردنیا بنمائید ، انشاء الله که مددالهی هم ماراحاصل خواهد گشت .

دمجاهدینوپه لاس نیول شوي ټانک

دکابل ملحد رژیم دخپلمنځي بې باوري په اور او زمونږ دمجاهدولس دکرکي په څپوکي

میاآروال

په کابل کی دروس مزدورملحدرژیم چی اوس اوس دخپل بدمرغه ژوندوروستی شیبې تیروی نه یواځی دافغانستان دټول مجاهدولس دکرکی وړدی بلکې پخپله دخپل ګوندا ونورو چپوډیموکراتیکوډلوټپلو ترمنځ چی دګوډاګی رژیم دساتلو اوځارلوله پاره دمچانو په څیرراټول شوی دسختی بی باوری ، کرکی ، بی اتفاقی اوسخت اېنځ وډب په مرکزبدل شویدی .
په کابل کی دروس مزدوررژیم پرته له دی چی دداړه مارروسانوله خوا بشپړپوځی ملاترورسره دی یوه اوونی هم نشی کولای چی په کابل کی دسیاست پرګدی واکمن پاتی شی . دغه دپردی مزدوررژیم وروسته له هغه چی روسان پ ډیری سیاسی بی شرمی له افغانستان څخه زمونږ دمجاهداومبارزملت له خواوشړل شول دسترو روسی مدرنواوعصری درنووسلوله پلوه سمبال شو .
ددی نوکررژیم پایښت یواځی اویواځې دروسانو پرپراخو هراړخیزومرستوولاړدی داچې روسان خپل دغه ګوډاګی رژیم ته مدرنی اوعصری وسلې دځمکی له لاری نشی لیږلی یوعلت یی دادی چې دهیوادټولی لویې لاری زمونږ داتلومجاهدینو په واك کې دی . بل علت یی داهم کیدای شی چی روسان له دی ویره لری چی که چیری دغه مدرنی ، عصری اودرنی وسلی لکیه دسکډاواوره ګاز توغندی اودهغوی دتوغولو دستګاهګانی دمجاهدینو په لاس کی ولویږی نوژربه پ کابل کی دکمونیست روسی مزدور رژیم ژوند لندشی اوان داچی دغه وسلې با دافغان مجاهدینو له خوا پخپله دروس پربناړونو استعمال کړای شي .
نوځکه دروس پوځی مشاورینو اوپوځیانو دکابل رژیم ته خپلی ټولی مرستی دهوا له لاری رسول غوره ګڼلی داځکه چی مجاهدین دهوائی قواووضد وسله نلری اودوی (روسان) په ډاډه زړه که څه هم ډیرځل دخدای په فضل دمجاهدینو په عادی وسلو راپرځول شوی خپل پوځی اکمالات کوې یواځی په ۱۹۸۹ کال کی لویو روسی پوځی ترانسپورتی الوتکو دری زره الوتنی ترسره کړیدی .
روسانو دافغانستان پرمجاهدولس باندی دکمونیستی رژیم دټپلو له پاره له بیلو جنایتونواوخیانتونو څخه کاراخستی داچی اوس که دروسانو سره داړونکی پوځونه له افغانستان څخه شړل شوي خودهغوی دسکاډ هرتوغندی زرکیلوګرامه چاودیدونکی موادله لیری واټنونو څخه دمجاهدینو اوافغان مجاهدولس په کلیو، کورونو اوښارونو باندی اوروي . روسانو

افغانستان ته دایران اوعراق دلس کلنی جګړی له تاوانونو څخه زیات تاوانونه رسولی اوله هغو تاوانونو څخه چی د ۱۹۷۵ کال څخه راپه دیخوالبنان ته اوښتی په واروارډیراولوړدی .

خوله نیکه مرغه اودلوی خدای (ج) په فضل روسانواودهغوی درژیم نوکرانو اوډچپو ډلو تپلو مزدورانو ونشوکړای چی دغه په خدای ،دین اوایمان مین مبارز اومجاهد ولس دکمونیزم په ناولتیا ولړي . دافغان مجاهد څواک له برکته نه یواځی افغانستان ، سیمه اودنړی هیوادونه دکمونیزم له شر څخه وژغورل شول بلکی په ټوله نړی کی دکمونیزم واکمن رژیمونه هم دخپلو ولسونو دقهراوغضب په لمبوکی ستی شول .

زموږ دمسلمانو مجاهدینو تاریخی میړانی ، سربښندنی اوځان تیریدنی په نړی کی داسلامی برم جهادی غورځنګ تاند اوپه نړی کی دنړۍ ساړانو پرښندیی دپاشون مبارزی اوژغورنی خوځښت راژوندی کړ. همدغی اتلوالی مبارزی اواسلامی جهادپه کابل کی دملحدرژیم په چټلو راټول کمونستان پخپل منځکی بی باوریو اواختلافاتواخته کړل اوس اوس یواځی دواکمن ګوندپه ډلوکی لس فرکسیونی ډلی چی دیوه بل وینو څښلو ته سره ناست دی شته اودیوبل پرضدسره اخته دی .

که څه هم دروسانو دفشارله امله واکمن ګوند اونوری کمونستی ډلی چی شمیریی په افغانستان کی دننه تریوولسو هم زیاتیږی دافغانستان دچپو دموکراتیکو ډلو داتحادپه توګه جبراً راغونډکړای شویدي خو هیڅکله هم نشی کیدای چی له خپل منځی اړو دوړونو څخه ځانونه وژغوري . په دغه اتحادکی دستم ملی دهغی ډلی یوغړی بشیربغلانی « سازا » په نوم له رژیم سره یوځای شوی اودحکومت دعدلیی وزیردی له همدغه امله یوه ایرانی ژورنالست ته په مرکه کی ویلی چی موږ دواکمن ګوندله مطلق العنانی څخه کرکه

له جاسوسي پرته په نړۍ کي دکمونیزم بقا ممکنه نده

لرو. موږچی چپ اړخی (کمونیستان) یو ددوی له پاره دتحمل اوننلو وړنه یونو څنګه به دکابل رژیم له مجاهدینو سره جوړښی اوله هغوی سره به دقدرت ویش څنګه وکړای شي .

دغه ایرانی ژورنالست چی بناغلی محمدرضافرقانی نومیږی دایران درسالت ورځپانی خبرنګاردی وروسته له هغه چی دایران او روسیی اړیکی ښی شوی کابل ته د۱۳۶۸ کال دمیزان په میاشت کی سفرکړی اوله دوه دری اونیووروسته یی په ایران کی دخپل سفرپه باب څرګندونی کړي .

دغه ایرانی ژورنالست دخپلو سترګولیدلی حال په بیان کی وائی : چی مادرژیم له مشرانو نجیب ، کشتمند، ځینووزیرانواو په کابل کی دروسیی له وزیر مختاراویو شمیر نوروښاری وګړوسره خبری وکړی ماولیدل چی دکابل رژیم یواځی ملی روغه جوړه دیوه تبلیغی ار ځ په توګه استعمالوی خوپه عملی ډګرکې ماددغی ملی روغی جوړی کوم تطبیقی ار ځ ونه موند داځکه چی هغوی له زړه نه نه غوړای چی کومه روغه جوړه رامنځ ته شي .

ماولیدل چی رژیم دملی روغی جوړی ترڅنګ خپل پوځی ځواکونه په تیره بیا« خاد» پیاوړی کوی . همدغه خادپه افغانستان کی دخواشینی اواختناق ځانګری عامل دی . ان تردی چی دواکمن ګوندغړیوهم ترینه دسختی ویری څرګندونه کوله اوداسي بریښیدل چی ګواکی دوی دخادترڅارنی لاندی دي .

ماوکتل چی دټول افغانستان په حکومتی ځایونو کی وګړنی اواسلامی ضدسیاست روان و هیڅ وګړی دحقایقو اوواقعیتونو دبیان حق نه درلود اودملی روغی جوړی کاریواځی یوتبلیغی شعاروهیڅ مفهوم اومحتوی نلري . هغه کسان چی په رژیم



مجاهدین دکونړ له سیند نه دپورې وتلو په حال کې

کې پاتې دي درژیم پلویان نه بلکې درژیم سخت مخالفین دي په تیره بیاپوځیان چې دکمونیستی رژیم له واکمنانوځخه یې سخته کرکه درلوده . پخپله په واکمن گوندکې بیلابیلې ډلې ټپلې وې چې درژیم ملاتړیې نه کاوه داچې هغوی دخپل راتلونکې ژوند له ځرنگوالې ځخه ویره لري نودرژیم خواته پاتې شویدی .

داچې مادکابل په ښارکې له عادی وگړوسره خبرې کولې له دی امله چې کوم حکومتی ترجمان ته اړتیانه وه هغوی دخپل زړه خبری راته کولې هغوی یوه هم رژیم ته په ښه سترگه نه کتل هغوی موجوده دولت دروسانو گوډاگی اودکمونیست گوند نظریه یې باطله بلله .

دوی ښه ویل : داچې نن دکابل رژیم دمسلمانۍ دعوی کوی بیله خبره ده خومونږ دهغوی کمونیستی اووحشی پوټکی پیژنو هغوی سخت درواغجن اوبې ایمانه وگړی دي اوس چې شرایط پری راغلې داخبری کوي که نه مونږدهغوی مسلمانی لیدلې ده،ښه یې پیژنو. دکابل رژیم .هیڅ وگړنی بنسټ نلری یواځې دروسانو پرپوځې اونوروم رستو ژوندتیروي اوکه

زمورد مسلمانو مجاهدینوتاریخي میړاني سرسندني اوځان تیریدني په نړي کي داسلامي برم جهادي غورځنگ تانداوپه نړي کي یي دداړه مارانو پرضدیي دپاځون ،مبارزي اوژغورني خوځښت راژوندي کړ .

دغه مرستی ودرول شی ډیرژربه دکابل رژیم راوپرځیږی .

په کابل کی دروس مزدوررژیم دروسانو له خوایواځی دسکډ لیری ویشتونکی توغندی اودمیگ ۲۹ ډوله الوتکو په استعمال ولاړدی، ترلاسه شوی شمیرنی ځرگندوي، چې دروسانو له وتلو ځخه وروسته په یوه کال کی دسکاډ (۱۰۰۰) توغندی زمونږپرمسلمان اومجاهدولس توغول شوي چې هره سرگلوله یې ۱۰۰۰ کیلوگرامه چاودیدونکی موادلري چې په دی توگه (۱۰۰۰۰۰۰) کیلوگرامه منفلقه مواد له فلزی جوړښت پرته دوی استعمال کړیدی . نه یواځې دغه توغندی ویشتل شوی بلکی دالوتکو، درنوتوپونو، ټانکونو اواوره گان توغندیو استعمالونکو او چلونکو هم زمونږ داسلامی هیوادپه ړنگولو اوویجاړولو کی خپله ونډه ترسره کړیده .

خوروسان له دغو پراخومرستو ورکولو سره سره هم په دی بریالی نشول چې په کابل کې دواکمن رژیم مزدوران سره راټول او یوی لاری ته برابرکړی . یواځې په تیر ۱۹۸۹ کال کې دکابل رژیم پرضد پخپله درژیم دبرخه والووسله والوپوځونو له خوا دوه کودتاګانې ترتیب شوی دي دنیویارک ټایمز ورځپاڼه په کابل کې دکمونیست ګوند دمرکزی کمیټې دپوځې څانګې دمسئوول جنرال عبدالحق علومی له خولې رپوټ ورکوي چې ډاکټرنجیب سرکال له دوو کودتاګانو څخه بچ شویدی . یوه کودتا دشوری اووه ترتیب شوی وه چې په وروستیو شیبو کې کشف شوه او درسم ګذشت مراسم یوه ورځ مخې ته راوړل شول یعنې دشوری شپږمه ترسره شول او دکودتا یوشمیرغړي زندانی شول .

دنجیب پرضد دویمه کودتا هم طرح خو ناکامه شوی وه. ورځپاڼه دجنرال علومي له خولې ایکي چې دکودتاغړي ونیول شول خوپه کابل کې دروس سفیر یولي ورنتسوف ډیر ژرنجیب ته ورغی اودنیول شویو کسانو دخوشې کیدلو توصیه یې وکړه وروسته ډیرژر دروسیې دبهرنیو چاروزیر شیواردنادزی کابل ته راورسید ده دواکمن ګوند مشرتابه اوغړیوته یې دخپل منځې بې باوریو دله منځه وړلو لارښوونه اوهدایتونه ورکړل .

شیواردنادزی دکابل رژیم تهدیدکړچې که دوی سره جوړنښې نوموږبه پرتاسې خپله میاشتنی پوځې مرسته چې (۲۵۰۰۰۰۰۰۰) ډالره کیږی بنده کړو ددغو خبرواترو ترڅنګ داسې آوازی هم خپرې شوی چې روسان غواړی په راتلونکې کې دافغانستان دواکمن ګوند ګوډاګیانو ته جنرال علومي دمشر په توګه وټاکي . روان حالات ښه څرګندوي چې دکابل په مزدوررژیم کې لاتراوسه یوبل ته سختې لنګټې اچول کیږی اودغه دقدرت میدان تل ځانونه دواکمنې پر ګلوی وینې .

موږبه په زغرده اواوچت غږسره نړیوالوته داخبره په ډاګه کړو چې انشاء الله تعالی ډیرژربه زموږاتل اومسلمان مجاهدین په دی بریالی شې چې دکابل دغه دپردیو مزدوررژیم به دهمدغو ناوړه عملونو، کرغیړنو کړوړو، خیانتونو اوجنایتونو په څپوکې هسې لاهوکړی چې بیایې هیڅ افغان دهغه نښه نښانه ونه مومي .

پوره پوهیږو چې دکمونیزم په نړۍ کې له جاسوسۍ پرته شپې ورځې تیرول کومه کیدونکې چاره نه ده . دکمونیستانو اصلی دنده په ټولنه کې دبې باورۍ پیداکول دي اوپه اصل کې دانګریزانودبې اتفاقي واچوه اوحکومت وکړه عمل بڼه ده اوپه تیره بیاد کې ، جی.بی او دخادکارکوونکي چې دبې باورۍ عاملین دي یو په بل پسې دجاسوس اچولودنده لري .

موږویلی شوچې انشاء الله تعالی په کابل کې درژیم پوره خپل منځې بې باوري او رژیم باندی زموږ دنده هیوادوالوبې باوري به دواکمنو کمونیستانو اودهغوی دنورو اندیوالانو هغه واکمنې چې یواځې اویواځې دروسانو پرملاتړ ولاړه ده ډیره ژر راوپرځوی اوزموږدمجاهدځواک په ځواکمنۍ به دنیستي کندې ته وغورځول شي اوپرځای به یې که خدای کول یو منتخب اسلامی حکومت رامنځ ته شي چې داسلام ځلانده وړانګې به زموږ په هیواد کې دکمونیزم توره تیاره دتل له پاره پای ته ورسوی اوزموږمسلمانه ټولنه به دالحادله تورتم څخه وژغورل شي . انشاء الله تعالی .

باوجود اصلاحات گورباچوف

مسکویها ، ساعتها درصفوف مشتریان انتظارمي کشند

نان شب درمدرنترین وخصوصی ترین هوتل مسکو درسال ۱۹٤۰ باسوپ آغازشده وباماهی جوش شده درآب پایان می پذیرد وبقیه غذاهای هوتل نیز پارچه های بی کیف وغیرقابل خوردن اند. ولی درمقایسه باخوردونوش مردمان ، عادی درآنجا این خوراک ها هنوز یکی از خوردنی های عصری محسوب میگردد .
چنین است حالت بیمارقلب کمونیزم که وضع سائراعضای کالبد نیمه جان جامعه کمونستی روسیه رامیتوان ازآن استنباط نمود .

پالیسی بازسازی واصلاحات اقتصادی گورباچوف که امیداندکی رادر خیالات مایوس مردم روسیه پدید ارنموده بود ثمر چندانی ببارنیاورد ، ودرحالیکه چارسال ازاعلان این پالیسی سپری میشودحتی جاده های مسکو یاپایتخت کشوررانتوانست از فرسودگی نجات بخشد .

اعلانات وشعارهای رنگینی که طی ۷۰ سال گذشته گوش های کارگران آنکشور را کرساخته بود وپلان های پنجساله یی که یکی بعد دیگر تطبیق شدند همه رفتند ولی مسکویامهم ترین قسمت کشورهنوزهم نسبت به هرزمان دیگری خاک آلودتروبدبخت تراست

سرجی ستنکویچ یکی از سیاستمداران گانگرس ملی ونوبنیاد روسیه چنین می گوید : «مردم ما خیلی صبوروشکیبا اند ولی شکیبائی هم از خودحدودی دارد .»
بحران اقتصادی وعواید اقتصادی روبزوال روسیه ازیکسو ومطالبات دوصحنه سیاه دیگری به زندگی فلاکت بار مردم روسیه گردیده است .
نخست اینکه اعضای محل حزب کمونست دست بغارت وچپاول ذخایرمواد ارتزاقی زده وموجب بروز نارضایتی های عامه می شوند که این خود ضربه مهلکی بر پالیسی اصلاحات اقتصادی گورباچوف بوده ، حمایت موجوده از ریفورم های وی راسلب خواهدکرد .

صحنه سیاه دومی حتی ازین هم خطرناکتر است وآن اینکه افزایش تشدد وکمبود فزاینده غذا وانرژی ممکن است باعث انارشیزم وبحران همه گیری شود که جبران وکنترول آن مشکل باشد ووقتی کهنه کاران مسکو نخواهند از مقاومت دست بردارند سرحد کاربمبارزه عملی علیه

آنها خواهد شد .
شهر ۹ ملیون نفری مسکو که یکی ازشهر های تقویه شده اقتصادی درروسیه بشمارمیرود ، اکنون چنان معلوم میشود که درمبارزه بخاطر بقای حیاتش به عقب نشینی آغازنموده وبسرحد سقوط ونابودی نزدیک می گردد . صدها تن ازمردم درصفوف مزدحم وطولانی درمقابل مغازه ها انتظارمی کشند ولی این باصطلاح مغازه های عمومی از اموال خالی اند ، کلکین ها کثیف بوده وعمارات کهنه وفرسوده اند سیاحان مسن تراز تماشای این اصطلاح عروس شهرهای بلاك كمونيزم دلتنگ شده ، بستوه می آیند وشهرراترك می گویند بقول همین سیاحان اتاقهای موردِاستفاده عامه بحدی کثیف اند که حتی حشرات گوناگونی نیز درآن منزل گزیده اند .
مقامات رسمی درروسیه می گویند که بیشترازهرزمان دیگر مقداروافرمواد غذائی به مغازه ها میرسد ولی بمجرد رسیدن ، اهالی آن رابه یکبارگی خریداری وذخیره مینمایند گوئی اینکه مردم ازوقوع یک مصیبت ناگهانی ویازمستانی شدید بیم داشته باشند بگفته سفیرامریکا درمسکو ۶۰ فیصد محصولات مواد غذائی درلنبارخانه های آنانی ذخیره ویااحتکارمی گردند که برای دو تاپنج

> بحران اقتصادي وعوايداقتصادي روبزوال روسيه ازيكسوومطالبات دوصحنه سياه ديگري به زنده گي فلاكت بارمردم روسيه گرديده است .

سال مصارف خویش مواد غذائی ذخیره نموده اند .
ازآنجاییکه سیستم اقتصادی روسیه درحال سقوط وکمبود موادخوراکی اهالی آنکشورراتهدید مینماید ، اهالی مسکو حوادث فلاکت بار دیگری نیز حکایت میکنند ، مخصوصاً جرائم جنسی وحمله برخارجیان بکثرت شایع گردیده است حوادثی چون چپاول وتجاوز بعصمت زنان درمیان مردمان عادی یك امیر معمولی شده وجرایم اخلاقی بحدی رسیده است که یك دختر ۱۵ ساله دراکثر حصص روسیه نمیتواند به تنهائی ازمنزل خارج گردد ومورد حمله قرارنگیرد .
وتحت شعاع پالیسی فضای بباز یاگلاسنوست نیزوسایل ارتباط جمعی روسیه حالت مرگبارملت رابه طورواقعی منعکس نمی سازد وکماکان برحقایق پرده ابهام می گذارد .
فضای عدم مصونیت درمسکو دریـن اواخر بجایی رسیده است که به مهمانان هوتل کوزموس ، هشدارداده شده تاازناحیه شب بیرون نروند زیرا جاده های مسکو به پیاده گردی شبانه آنها محل محفوظی نیست .
خارجیان مقیم مسکو می گویند درزمان چرینتکو زعیم قبلی روسیه وضع طوری بودکه هرگاه یك خارجی درمحوطه میدان سرخ ، ویاجاده پیترو شناسائی می شد بلافاصله ازطرف افراد بازارسیاه ویاکیسه برها محاصره گردیده وبنحوی ازانحا مورد دستبردقرار می گرفت .
چندی قبل بریکی ازدیوارهای مسکو پوستری نصب شده بودکه درآن حکومت روسیه رابخاطراینکه بارهبران کارگری انگلستان اظهارهمدردی کرده ولی خودنمیداند که برکارگران سایبریا چه می گذرد جداً محکوم نموده بود . صدها تن از اهالی مسکو بخاطر تماشای این پوستر جمع شده وادعای مذکور را برحق دانستند . روی همرفته امروز مردم روسیه چنان فکرمی کنند که المانی ها بعدازجنگ دوم جهانی می نمودند ، آنها احساس می کنند که فریب خورده اند ، شکارخیالات واهی گشته وحیات خویش را ضایع ساخته اند .

ادوارتاپل یکی از اتباع سابق روسیه نگاهی به وضع کشورش افگنده ومیگوید : باوجودیکه مردم روسیه بامشکلات عظیم وحل ناشده مواجه هستند میخائل گورباچوف به اهالی روسیه چنان وانمودمی سازدکه گویاازوضع راضی به نظرمی رسد چنانچه اعتصاب خط آهن قسمت اعظم مملکت رافرامی گیرد ولی حکومت چنان می پندارد که باکی ندارد .
مارشل گولامن رئیس بخش تحقیق ومطالعه درمورد روسیه دردانشگاه ها رودوضع کنونی روسیه راچنین ارزیابی مینماید .
« اوضاع روسیه بیش از آنچه که انتظارمیرفت بخرابی می گراید . مشکلات اقتصادی آن بسرعت افزایش می یابد وسیاست اصلاحات وعلنیت نیز نتائج مطلوب وموثری ببارنیاورده است .
وی می افزاید که : گورباچوف برباریکه قدرتش استواربنظرنمی رسد زیرااو پیوسته مجبوربوده است تابا همه آنانیکه ازنتایج اصلاحات وی خشمگین می شوند، مشوره نماید .
اوضاع کنونی سیاسی درآنکشور خیلی بی ثبات شده است زیرا سیستم های اقتصادی واجتماعی شوروی درآستانه اضمحلال بوده وشمارجرایم درحالت عروج است . ارتش نیز ناراضی بنظرمی رسدزیرابعدازینکه اله دست سیاستمداران قرارمیگیرد مورد انتقادات شدید واقع میشود، بناءً هرگاه فشاراقتصادی یابه اصطلاح زمستانی سختی قرارشد وضع بی نهایت خراب وهمه چیز دگرگون خواهدشد .
گورباچف درین مرحله اوضاع نابسامان سیاسی روسیه برسر دوراهی قرارگرفته است .
ازیکطرف کمبودشدید موادغذائی وسازمایحتاج اولیه وی رامجبورمی سازد تاپالیسی مشهور اصلاحات خویش را بطی تر حرکت دهد ولی ازطرف دیگر بااین اقدام بامخالفت شدید رادیکال ها مواجه میگردد زیرا آنها ادعامی نمایند که رهبران محافظه کارروسیه میخواهند کشوررایکبارديگربجانب اقتصادتحت کنترول مرکز سوق داده وبازهم تمام احتیاجات وضروریات زندگی مردم را به مغازه های دولتی تحویل نمایند . چنانچه وقتی گورباچف سعی کرد تاموانعی رادرراه اصلاحات که ماه گذشته ازجانب صدراعظم روسیه اعلام شدایجاد نماید بامخالفت شدید روشنفکران وهواخواهان بازار آزاد مواجه گردید درپایان این ارزیابی گولامن ازبوریئیس پرالیستی منشی سابق حزب کمونست مسکونقل قول نموده میگوید ، هیچ گاه چنان جامعه رانمیتوان پسندید که همچو جامعه ٤٨ ملیون انسان آن درنهایت فقر وفاقه بسربرند .
ارقام دولتی وصندوق هایخالی درمارکیت های مسکو ، این ادعا رابوضوح ثابت می سازد ورهبران روسیه نیز اکنون می پذیرند که کمبود موادغذائی ازسال ۱۹۷٤ بدینسو اکنون دربدترین حالتی قراردارند .
طبق یک سروی درروسیه ازجمله ۲۷٦ قلم موادمایحتاج اولیه مردم ۲٤۳ قلم آن کمیاب اند ، بحدی که صابون کالاشوئی نیز درزمره اقلام نایاب بوده وملت روسیه ازدریافت آن عاجز است ، چنانچه دراکثر حصص مردم روسیه مجبورمیشوند تالباس های شان رابااریگ شستشو نمایند . کمبوددرشکرنیز بهمین منوال است .
تقاضا برای موادمصرفی لاجواب باقیمانده است درحالیکه قیمت هابشکل سرسام آوری بلند می روند وتورم اقتصادی برفشارخودمی افزاید . ریزکوف صدراعظم آنکشور دراکتوبر سال گذشته پذیرفت که درسه ربع گذشته سال عایدات ملی ۱۵ فیصد افزایش یافته درحالیکه تولید محصولات مصرفی فقط ۱ فیصد کثرت رانشان می دهد .روسها هم چنان ازکسرعظیم ۲۵۰ بلیون روبل دربودجه

کشورشان آگاهی دارند که ازین جمله ۲، ۶ بلیون به کسر بودجه ملی تعلق می گیرد.

یالستین یکی ازطرفدا ران قبلی اصلاحات گورباچف می گوید: کشوراکنون دریک بحران عظیم اقتصادی درگیرمانده این بحران ممکن است طی ۱ تا ۱۲ ماه آینده به تحول منجر گردد. یالستین کرابتدایکی ازمتحدین سرسخت گورباچوف بود اکنون به این علت مخالف وی شده است.که پالیسی اصلاحات او ازحرکت بازمانده وجسورانه بجلو نمی رود.

نیکولای شیملوف یکی ازاقتصاددانان روسیه ازگورباچف خواست تاازکریدت نامه یاقرضه های متعارف استفاده نموده وبوی اجازه دهد تا لااقل موادضروری وحیاتی مردم چون صابون، کریم دندان، پطلون وجوراب را ازکشورهای غربی واردنماید، وی استدلال نمودکه این نه تنها تورم اقتصادی روسیه رانزول خواهد دادبلکه اعتبار روبل روسی رابه پیمانه بلند خواهد برد که حصول آن باسرمایه ناشی ازعایدات داخلی کشور میسرنخواهدشد.

امامیخائل گورباچف بشدت بااین طرح مخالفت نمود ودرعوض برطبق [illegible]

اوضاع روسیه بیش ازآنچه که انتظارمیرفت بخرابي میگراید مشکلات اقتصادي آن بسرعت افزایش مي یابد وسیاست اصلاحات وعلنیت نیز نتایج مطلوب وموثري ببارنیاورده است.

مشاورین اقتصادی خودترجیح داد تاازکریدت کشورهای خارجی درصنایع سنگین اتحادشوروی استفاده بعمل آید. چندماه بعدبانک «دوچ» المان غربی قرضه ۲/۱ بلیون دالری را به روسیه منظورنمودولی روسیه فقط نصف آن رابدست آورده که برطبق پالیسی اقتصادی آنکشورمقدارانـدکی از آن به کالاهای مصرفی تخصیص داده شد.

سیستم جدید اقتصادی روسیه که توسط ریزکوف صدراعظم آنکشور دردسمبر سال گذشته بمیان آمد تا تهیه کالا های مصرفی راانکشاف بخشد چندان کارگر واقع نشد زیرا قیمت هابرهمان منوال قبل باقی مانده است.

گورباچوف وریزکوف هرگونه پلانی راکه [illegible] سیل بازار آزاد ویا داشتن مالکیت خصوصی باشد رد مینمایند. وازرمان اعلان طرح اقتصادی ریزکوف

دسکاډ توغندي ترلګیدلو وروسته له زمکي نه دوړي پورته شوي

طی دوماه گذشته گورباچف ارگان های اقتصادی زیادی راکه میخواستند بطورخصوصی دراقتصاد روسیه سهیم باشند یاازبین برده ویاهم آنهارا باقانون نوین اقتصادی شوروی که خواهان کنترول بیشتر تمرکز برقیمت ها می باشد موافق ساخته اند .

پلان اصلاحات اقتصادی گورباچف برای اولین بار دربیست هفتمین ۲۷ کنگره حزب کمونیست روسیه درسال ۱۹۸۶ به تصویب رسید که بموجب آن تاکید بیشتر ی برتولیدات داخل آنکشور بعمل مد بگفته انلاس اسلوند متخصص سویدنی دراقتصادروسیه وقتی تولید کنندگان محصولات داخل روسیه دریافتند که ازرنج وزحمت شان نفع اندکی به آنها میرسد دربهبودکیفیت محصولات درساحه صنایع وزراعت توجه ننمودند وبدون اینکه تشخیص دهند که آیا تقاضایی به این کالاها وجود دارد یانه ، به تولیدات خود ادامه دادند .

وقتی پلا ن اصلاحات اقتصادی گورباچف باشکست مواجه گردیداین امرباعث بحران اقتصادی گردیده وکمبود مواد غذائی بطورروزافزونی احساس گردیدسرانجام زعیم روسیه مبجورگردید تاقسمت هایی ازپلان خودرا حذف نموده ودرسال ۱۹۸۸ قوانینی رابطرفداری ازمالکیت خصوصی صادرنمود که بموجب آن یک دهقان میتوانست زمین دولتی را تاپنجاه سال به اجاره بگیرد .

ولی اکثر دهاقین روسیه خاطره های تلخ گذشته رابیاد داشته وهنوز کشتاربیرحمانه زمین داران توسط استالین رافراموش نکرده اند ، لذا به اجاره زمین های دولتی تمایل چندانی نشان نمی دهند . ازجانبی دیگر آنها میدانند که حاصل زمین های اجاره شده را باید خواهی نخواهی به کولکتوهای محل دولتی بفروشند آنهم د صورتیکه تعیین قیمت ها د راختیار دولت باشد

این پروسه اصلاحات گورباچوف نیز ثمره نداد وبگفته متخصصین اقتصادی اتباع روسیه درحالیکه خواهان داشتن ملکیت خصوصی اند اکنون درمیان دوفکتوراقتصادی قرارگرفته اند که متاسفانه ازهردوجناح مفادی نصیب شان نمیشود یعنی اینکه نه بامیتود اقتصادی دولتی مشکل آنها حل میشودونه چانس مالکیت خصوصی به آنها داده میشود .

مالتوک یکی ازدیپلومات ها ی خارجی مقیم روسیه میگوید عده زیادی ازمقامات رسمی آنکشور بمن گفته اند که رهبران روسیه اکنون این رادریافته اند که سیستم اقتصادی آنها هیچ دردی رامداوانمیکند ولی مشکل آنها اینست که نمیتوانند به این حقیقت اعتراف نمایند .

امامشکل فوق بشکل جالبی خودرا ظاهرساخت ، کارگران معادن زغال سنگ دراوکراین وسایبریا دست به اعتصاب زدند که این بذات خود بزرگترین اعتصاب صنعتی درتاریخ روسیه محسوب میشود وگورباچف نیز مجبورگردید تاباوعده تهیه مواد غذائی وکالاهای مصرفی به آنها به اعتصاب پایان دهد وحکومت روسیه به این منظور کالاهای مصرفی زیادی ازغرب واردنمود امانسبت ترانسپورت نابکاروتوزیع نادرست به مردم مصیبت زده هیچ چیزی نرسید . خلاصه اینکه اکنون گورباچف می داند که به تغییرات زیادی ضرورت است ولی ازیکطرف هیچ چیزی بدون ترویج بازار آزادوالغای اقتصادکمونستی نمیتوانند مشکلات روسیه راحل کند وازجانب دیگر گورباچف چنان نمی نماید که این زهر قاتل رابسر کشد .

دجنوب غرب حوزي له دري قوماندانانو سره گډه مرکه

★ انشاء الله نژدې ده چي زموږمؤمن ولس دجاهليت دلاس نه دقدرت واگې په کلي ډول تر لاسه کړي . ◀ عبيدالرحمن "توخي"

★ دافغانستان دمسئالي دسالم حل لپاره غوره لار دمجاهدوقوتونوترمنځ انتخابات دي ◀ استادمحمدحنيف

★ دافغانستان قضيه ديومنتخب اسلامي حکومت په رامنځته کيدوسره حل کيداي شي ◀ ډاکترحميدالله "مسلميار"

١ـ هيله ده دشفق مجلل درنولوستونکيوته ځان وروپيژنئ ؟

٢ـ که پخپل مبارزاتي اوجهادي پس منظرلږه رڼاواچوئ ؟

٣ـ ستاسي په سيمه کي جهادڅه وخت پيل شو اواوس ئي حالت څه ډول دی ؟

٤ـ په سيمه کي ددښمن حالت څه ډول ارزيابي کوئ ؟

٥ـ دافغانستان دراتلونکي په باب څه فکرکوئ ؟

٦ـ دافغانستان دمسئل ديوسالم حل لپاره کرمه لارپيشنهادوئ ؟

٧ـ که دنجيب حکومت دڅه مودې لپاره بيګ شي دابه دمجاهدينو پرروحيه څه اغيزه وکړي ؟

پوښتنه : ګوماندانصاحب هيله ده دشفق مجلل درنولوستونکوته ځان ورروپيژنئ ؟

ځواب : مشکي له دی چي زه خپل ځان معرفي کړم اول خپل سلامونه دشفق مجلې کارکوونکواودجهاد په سنګروکي ناستومجاهدينو ته تقديموم اوله تاسوڅخه مننه کوم چي په داسي يوحساس وخت کي مودخبرومرقع راکړه .

زمانوم سرمعلم عبيدالرحمن "توخي" دزابل ولايت د... ...ون ولسوال

عبيدالرحمن "توخي"

دشهيدحسام الدين دجبهي مسئول .

پوښتنه : مهرباني وکړئ پخپل مبارزاتي اوجهادي پس منظر لږه رڼاواچوئ ؟

ځواب : د١٣٥٨ کال په جريان کي مودمحترم شهيد جمشيد «ناصري» ترقوماندانئ لاندې دزابل دولايت په مختلفو سيموکي عملي جهادشروع کړي اوتر١٣٦٦ کال پوري مودشاه جوی دولسوالۍ په مرکزي جبهه کي دعملي جهادپه څنګ کي دتنظيم اودعرت مسئوليت پرغاړه درلود اوپه ٣ر٣ر١٣٦٦ دمحترم وروړحاجي سيدجلال دلويديزو ولاياتودنظامي چاروسئوول دغوښتني په اساس دابادينی دنظامي ډيپودمسئول په حيث انتخاب اوپه ١٢ر١٢ر١٣٦٦ کال دشهيد حسام الدين دجبهي دقوماندار په حيث انتخاب او فعلاً همدا مسئوليت پرغاړه لرم.

پوښتنه : ستاسی په سیمه کی جهاد څه وخت پیل شو اواوس ئی حالت څه ډول دی ؟

ځواب : زموږ په سیمه کی په ۱۳۵۸ کال عملی جهاد شروع شوی دعملی جهادله شروع څخه تراوسه پوری دلوی خدای (ج) په فضل اودمجاهدینودپوره اتفاق په نتیجه کی پنځه ولسوالی دری علاقداری اوددښمن وړی اوده قوی پوستی لکه ددروازګی [illegible] پوسته چی پوږ روسان پکی اوسیدل دمجاهدینولخوا فتح اوصرف دټلات مرکز چی هغه هم دمجاهدینو ترسختی محاصری لاندی دی اوانشاء الله چی ډیرژر،هغه هم دمجاهدینو دمتحدانه عملیاتو په نتیجه کی فتح شي .

پوښتنه : په سیمه کی ددښمن حالت څه دول ارزیابی کوی ؟

ځواب : ددښمن حالت په منطقه کی په کلی توګه ضعیف اودمحاصری په حالت کی قرارلری اودغذائی اودسونګ دموادودنشتوالی له امله له سخت مشکل سره اخته دی اوخپل مشکل څه ناڅه دهوایي له لاری هغه هم دشپی له طرفه سرته رسوی اودورځی له مخی دټلات هوایي میدان دمجاهدینو ددرندو وسلو ترموشر هدف لاندی نیول کیږی اودښمن خپل پروازونه دورځی لخوا سرته نشی رسولای .

پوښتنه : دافغانستان دراتلونکی په باب څه فکرکوي ؟

ځواب : نژدی ده چی انشاء الله زموږمؤمن مجاهدین دجاهلیت دلاس نه دقدرت واګی په کلی ډول ترلاسه اوپه هغو بنیادونو اسلامی حکومت بیادرول چی دشریعت څښتن (رسول الله ص) منهاج النبوت پرنوم نوموړی دی اوپیوازی دیوه هیواد په اسلامی نظام بس والی ونکړی ، چی داول نه هلته مسلمانان موجودوی ، بلکی داسی توان اونړیوال غورځنګ رامینځ ته کړی چی دهغه نه داسلام اصلاحی اوانقلابی دعوت پرټولو وګړو کی خپورشي، هغه دټول نړی تهذیب شی اودچپ [illegible] فکری اوسیاسی امامت اوریاست داسلام پلاس ورشي .

پوښتنه : دافغانستان دمسئلی دحل لپاره کومه لاره پیشنهاد وئ ؟

ځواب : دانتخاباتو له مخی اسلامی حکومت زموږ دټولنی دفردفردوروستی آرمان دی اودازموږ دهرمجاهددځنګدن شعاردی ، مجاهدقوت چی اوس زموږدټولنی په سرنوشت ټاکونکی ځواك بدل شوی اودحالاتو بدلون ټول بایید دهغوی ترشعاع لاندی وڅیړل شی ، اوس موږپس له هغه ستری قربانی چی دخپل عقیدی ، آزادی اوحریت په لارکی موکړی په هغه پراوکی قرارلروچی دوست اودښمن دواړه پدی اعتراف کوي چی بیله دی ؛ چی مجاهدینوته حکومت پلاس ورکړل شی اوبیله دی چی اوس خپله ولس خپل سرنوشت بی له هرډول بهرنی فشاراوهمدارنګه دآزادو انتخاباتو په لرکی وټاکی ، دافغانستان دمسئلی دحل لپاره بله لارنشته .

پوښتنه: که دنجیب حکومت دڅه مودی لپاره ټینګ شی دابو دمجاهدینو پرروحیه څه اغیزه وکړی ؟

ځواب : دنجیب دملیشایانو ټینګښت به انشاء الله دهغو مخلصو مجاهدینو په وړاندی دوام ونه کړی کوم چی ۱۱ کاله ئی دنړی له سترپوځی قوت سره په تش لاس خو دایمان په وسله سمبال مقابله کړی په یوه مکتبی اوهدفمند مجاهدباندی دیوی بی هدفه اوبی فرهنګه ملیشه ئي قومانده چلول خوشی خیال اوله عقله لری کاردی .له بلی خوانه داهرچاته په ډاګه شوی چی افغانستان اوس دبی هدفه ملیشایانو ، نوکرانو اوچاکرانودحکومت افغانستان ندی .

پوښتنه : هیله ده دشفق مجلی محترمو لوستونکوته ځان وروپیژنی ؟

ځواب : زمانوم محمدحنیف دزابل ولایت دشاه جوی ولسوالی اوسیدونکی یم ، ابتدائی تحصیلات می دباباهوتك په لیسه کی

استاذمحمدحنیف

اودمتوسطی اولیسی دوری تحصیلات می درحمن باباپه لیسه کی ترسره کړی عالی تحصیلات اولسانس می دکابل پوهنتون دادبیاتو اوبشری علومو په پوهنځی کی دپښتو څانګی څخه په ۱۳۵۶ کال کی ترلاسه کړی .

پوښتنه: که پخپل مبارزاتي اوجهادي پس منظرلږه رڼاواچوئ ؟

ځواب : په ۱۳٤۸ کال کې ځکه چې دافغانستان په مرکزکابل کې دوخت دفاسد اوغيري اسلامي حکومت اوله بله پلوه دغيري اسلامي حکومت په غيږکې دشرق اوغرب دزرخريدو کمونستي اولادينه گوندوپه وړاندې د« جوانان مسلمان » په نوم دقرآن حاکميت په منظوري اسلامي تحريک راپيداشو نودمبارزې دې لړۍ ته مې ترنن ورځې پورې دوام ورکړی، ځوکله چې په ۱۳۵۷ کال کې نورمحمد تره کي دنړۍ دستراستعماري قدرت پواسطه دافغانستان دقدرت واگي په لاس کې ونيول دوه ځله داسلام اواسلامي عقيدې په سبب دزندان دتوروشپواوناخواليو سره مخامخ شوم .

ځوکله چې له زندان څخه راووتم په ولسوالۍ کې ديوې جبهې چې شميرېې ۳۰۰ تنو مجاهدينو ته رسيږي دقوماندان اومسئول په توگه وټاکل شوم ، اوس يوازې دجبهې دمسئول وظيفه پرغاړه لرم .

پوښتنه: داوخت ستاسې په سيمه کې جهادي حالت څه ډول دی اوهمدارنگه دجهاددپيل په هکله معلومات راکړئ ؟

ځواب : زموږپه سيمه کې په ۱۳۵۷ کال دعقرب په مياشت کې دکمونستانو په وړاندې ټول مسلمانان په يوه اواز راپورته شول اوپه ولسوالۍ اودولسوالۍ په مربوطوعلاقداريوئې حمله وکړه ، ځوعلاقدارۍ ئې فتح اوډيرکمونستان پکې مردارشول ، ځوځنگه چې له مسلمانانو سره مجهزې اودفاعي وسلې نه وې ، ځوک بنديان او ځنې دپاکستان خاورې ته رامهاجرشول ترڅودژمي سوړموسم تيرشواوپه ۱۳۵۸ کال دحمل په مياشت کې ددويم ځل لپاره په ډيرو لږو شپوکې ټول سرحدي تانې دمجاهدينو لخوافتح اودمجاهدينو جهادي قوت دکابل اوقندهاردلوی لارې په اوږدومتمرکز شو .

سوال : په سيمه کې ددښمن حالت څه ډول ارزيابي کوئ ؟

ځواب : دزابل ولايت په ارتباط دښمن په ټولو ساحو(پوځي، اجتماعي ، اقتصادي) کې له رکودسره مخ دی ، دولايت ټول ولسوالۍ ، علاقدارۍ دمجاهدينو په ولکه کې دي . ددښمن مورال ضعيف اوړوندئې په يوه وړه حصه دقلات يعنې دزابل په مرکزکې ديوقفسي مرغه په شان دمجاهدينو دمحاصرې په کړۍ کې دی . ددښمن ټول ارتباط اواکمالات دهوائي له لارې څخه دپراشوت پواسطه ترسرکيږي .

سوال : دافغانستان دراتلونکي په باب څه فکرکوئ ؟

ځواب : دافغانستان دراتلونکي په باب له هرڅه دمخه بايد وه وايم چې دپاک خدای (ج) وعده حقه ده . دخدای (ج) په وعده کې هيڅ شک اوخلاف نه واقع کيږي ، زه پدې باوري اويقين لرم چې تر پنځلس لکه زياتو شهيدانوويني خدای (ج) نه ضايع کوي اودډيرشولکوپه شاه وخواکې مهاجرينو تکليفونه اومشکلات خدای(ج) وينې دااوداسې نورکړاونه دافغانستان مؤمن ملت په افغانستان کې دقرآن عظيم الشان دحاکميت اويوه سوچه اسلامي حکومت دپلي کيدوپه خاطر کړي نوپه دې توگه دافغانستان دراتلونکي اسلامي انقلاب سباوون ډيرنژدې دی .

سوال : دافغانستان دمسئلې ديوسالم حل لپاره کومه لارپيشنهاد وی ؟

ځواب : دافغانستان دمسئلې ديوه سالم حل لپاره دجهادپه همدااوس مرحله کې چې دښمن په سلو کې ۹۹ له ماتې سره مخامخ دی اوقدرت ئې له لاسه ورکړی دجهادي تنظيمونو ترمينځ يوه غوره حقيقي لارچې مجاهدين وکړای شي دخپل هدف درشل ته ورسيږي ، انتخابات دي .

زماپه نظرکې دجهادي قوت دمعيارله مخې اوياپه عمومي سوله آزاد انتخابات ترسره شي اوپه نتيجه کې دجهادي تنظيمونو يوواحد ځواک رامينځته شي چې پدې سره دتل لپاره ټولې داخلي اوخارجي دسيسې اولاس وهنې قطع کيږي .

سوال : که دنجيب حکومت دځنې مودې لپاره ټينگ شي دابه دمجاهدينو پرروحيه څه اغيزه وکړي ؟

ځواب : ددې پوښتنې په ځبرگون کې وايم چې دافغانستان داسلامي جهاد دطوفاني سيلاب پرمخ داواړه کاڼي اوسخرې نشي تم کيدای ، مرږوليدل چې دنړۍ لوی طاغوتي قدرت (روس) دمجاهدمسلمان ملت په وړاندې په عمل ډگرکې له ماتې سره مخامخ شو، دافغانستان دقضيې اړخ روس دی ، نوچې اصل نابودشي ، فرع (نجيب) به حتماً له مينځه ځي .

څرنګه چې دافغانستان د زمر ولس دایمان ، عقیدی اوالهی مفکوری په اتکا جهادپیل کړی نودنجیب موجودیت داوبو پرمخ دپوکانیی په مثال ده اوانشاء الله دابه ژرختمیږی .

پوښتنه : غیلـ دن درنولوستونکوته ځان وروپیژنی ؟

ځواب : زه داکترحمیدالله «مسلم یار» دزابل ولایت دارغنداب دولسوالی دصحی

ډاکترحمیدالله "مسلمیار"

چارومسئول یم .

پوښتنه : که پخپل مبارزاتی اوجهادی پس منظرلږه رڼاواچوی ؟

ځواب : ماپه ۱۳۵۸ کال کی دتره کی درژیم په مقابل کی په عملی جهادلاس پوری کړاوددښمن په مقابل کی می په ډیروسختو جګړو کی برخه اخستی ده ، اوپه ۱۳٦٤ کال کی پاکستان ته راغلم چی دمجاهدینو لپاره دوا اوخه ناخه لوژیستکی سوات برابرکړم

پوښتنه : ستاسی په سیمه کی جهادڅه وخت پیل شو او اوس ئی حالت څه ډول دی ؟

ځواب : زموږپه سیمه کی په ۱۳۵۸کال کی جهادپیل اولله الحمدتراوسه پوری په ښه توګه وام لري .

پوښتنه : په سیمه کی ددښمن حال څه ډول ارزیابي کوئ ؟

ځواب : زموږپه ولایت کی دښمن له سختی ماتی سره مخامخ دی یوازی اویوازی دښمن په بالاحصار کې متمرکزدی چی هغه هم دمجاهدینو ددرندووسلو ترهدف لاندی دی . تقریباً له یونیم کال راهیسی پردښمنو قواوباندی دزمکی له لاری هرډول اکمالات بنددی ، یوازی دشپی کولای شی څه ناڅه اکمالات دهواله لاری دالوتکو پواسطه وکړی ، انشاء الله ډیرژرده چی هغه هم دمجاهدینو پلاس نابودشی .

پوښتنه : دافغانستان دراتلونکی په باب څه فکرکوئ ؟

ځواب :دافغانستان راتلونکی یوازی اسلامی منتخب حکومت په جوړیدو سرته رسیدای شي ځکه چی دافغانستان مسلمانان راویښ شویدی اوهیڅوک دپخوانی شاه ظاهرشاه په شان دافغانانو ویښی نشی خرڅولای ، ځکه افغان مجاهدین اوس پوهیدلی اوغواړی هغه چاته دافغانستان دراتلونکی اسلامی حکومت واګی په لاس ورکړی چی نه یوازی افغانانو ته خدمت وکړی بلکی دټولی نړی مسلمانانوته خدمت وکړی اوپه ټوله دنیاکی اسلام دلمرپه شان وځلوي .

پوښتنه : دافغانستان دمسئلی یوسالم حل لپاره کومه لارپیشنهادوئ ؟

ځواب : دافغانستان دقضیی دسالم حل لپاره انتخابات دی دادټولو مسلمانانو هدف ته درسیدولاره ده ځکه چی پدی کی دافغانستان ټول مجاهدین مهاجرین ... لري چې خپل دخوښی حکومت جوړکړی اوکه چیری پراخ بنسټ حکومت جوړشی کوم چی دمسلمانانوافغانانو دعقیدی ددښمنانویعنی روس اوامریکا طرحه ده دابه ددوهم ځل لپاره دافغانانو د وینو تویولولار برابرکړی او موږغواړو چی دافغانستان دحکومت لپاره ټولو مهاجرینواومجاهدینوته موقع ورکړل شي ترڅو دخپلی خوښی اسلامی حکومت جوړکړي .

پوښتنه : که دنجیب حکومت دڅه مودی لپاره ټینګ شي دابه دمجاهدینو پرروحیه څه اغیزه وکړي ؟

ځواب : زماپه نظردمجاهدینو پلاس دروسی قواو ماتی دنجیب دحکومت دبقا اودوام چانس له پخواڅخه محال اوله امکان څخه لري کړیدی ، یوازی ... ابار دمزدور رژیم ددوام اوټینګښت اوازه دکابل ، روس اودنجیب دمزدور رژیم دغربی پلویانو تبلیغاتی بی ځایه هڅی دي ، چی انشاء الله داسلامی انقلاب وروستی جهادی پړاوبه ئې ډیرژر نابودی انځورکړي .

قرآن او جهاد

په تیرپسي

ډاکتراسراراحمد

ژباړن فضل مولا "لټون"

طبیعی علوم، مدنی علوم، اقتصادپوهنه، سیاست پوهنه لنډه داچی دپوهنی هره څانګه له الحادا وماده پالنی ډکه ده، یواځی د دینیاتو دیوه مضمون په اضافه کولو دامسئله حل کیدای نه شی، دتوحید پربنیاد دټولو علومو دترتیبولو دستراوعظیم کارکړاوزموږپروړاندی دی، تردی پرسه دنوی نسل ذهن داسلام په چوکات کی دجوړولو کارامکان نه لری، ددی لپاره دداسی زرونوځوانانو اړتیاده، چی خپل غوره پوهنیزاستعدادونه پرقرآن د پوهیدولپاره وقف کړی، خپلوخپلو علمی ډګرونو کی دقرآنی اصولو دلوړاوی لپاره ژوند ولګوي. ښکاره ده چی داکاردومره ستراوعظیم دی اوددی کارلپاره ددومره ستروادارواړتیاده، چی یوازی حکومتونه یی جوړولای شی، ترڅو چی مسلمان حاکمان ددغه کارپراهمیت پوه نه شی، ترهغو دغه کارسرته رسیدای نه شی.

دبلنی اوتبلیغ دکارددویمی اودریمی پوړی یعنی وعظ اوتلقین اومناظری اومجادلی لپاره له ټولنی څخه اغیزمن شخصیتونه هم په لاس راځی، په ملی سویه په مدرسو اودینی ښوونی اوروزنی په ځایونوکی هم ددغه کارلپاره وګړی تیاریدای شی.

اوداکارکه په ټیټه سویه وي اوکه په لوړه خوروان دی، په دی لړکی دانقطه باید په نظرکی ونیسو، چی یوسړی په یووخت کی دبلنی اودعوت دری چاری سرته رسولای نه شی، دهرسړی داستعدادسره سم دهغه لپاره دکارکولو ډګرټاکل ضروري دی. په دینی اداروکی له استعدادونو سره سم دخپلو ځوانانو ددرجه بندی کولو کوم نظام خپلول پکاردی.

دین ته دبلنی یونوی عنوان هڅکوروی اړوپیچ اوفکری ټکرهم دی، تاسی چی کله د«توحید» له پیغام سره ډګرته راووزی، نولرغونی مشرکانه توهمات اونوی فکر اوفلسفه دواړه به سودمقابلی لپاره راځی، چی په نتیجه کی په فکری اوایدیالوژیکی سویه یوکشمکش اوټکرمنځته راځی.

په کومواستعدادلرونکیوځوانانوکی چی په واقعی توګه دین ته دکارکولو هڅه، ولوله او هیله وي، هغه چی ترڅو خپله دنیوی شتمنی ددین دبلنی په لارکی قربان نه کړی اودخپل ژوندانه مقصدیی ونه ګرځوی ترهغه وخته دغسی کارسرته رسول ګران دي دجهاد بالقرآن دادویم پړاودهمت والو دقربانیوانتظارکوي.

دجهاد بالقرآن دریم اوترټولو ګران اومشکل پړاوددین دلوړای کوښښ دی، دازموږ ددینی فرایضو هسک ترین پړاودی، اسلام یوازی یومذهب نه، دین دی، مګر داهغه مهال دین کیدای شی چی کله ورته په ځانګری اوټولنیزه سویه دژوندانه په ټولو چاروکی واك په برخه وی، دانګریزانو داوږدی سیاسی، فکری اوتمدنی غلامی له امله ددین دواکوالی فکردمسلمانانوله ذهن نه وتی دی.

زموږ د دین فکر زیات نه زیات دلومړی پړاویعنی په عباداتو اود حلالواوحرامو په غتوغټو احکامو پوری تړلی دی .
د دویم پړاویعنی دعوت اوتبلیغ لوری ته هم ذهن اوړی ، د دی لپاره کوښښونه هم کیږی خودریم اومشکل پړاویی له سترگو لری دی .
لکه څنگه چی په یوه تیکی کی دوه توری نشی ځای کیدای ، دغه ډول په یوهیوادکی دوه نظامونه نشی چلیدای ، کله هم چی دنظام بدلولو، انقلاب راوستلواوداالله (ج) د دین دغالبولوخبری کیږی ، له لومړی سره دقایمونظامونو پوری دتړلیووگړو سره ټکرپیل کیږی ، له کوموپالوالو ډلو سره چی واك دی اودملت حقوق یی لاندی کړی دی ، هغوی څنگه منلای شي چی خوك دی ددغه نظام دراپرځولو خبری وکړی .
لوی خدای (ج) په سوره توبه، سوره الصف ، اوسوره فتح کی درسول الله صلی الله علیه وسلم دبعثت هدف همدابیان کریدی چی: «هغه (رسول ص) دی دغه دین پرگردونوروډینونو(ژوند ښیزونظامونو) غالب کړی ، که څه هم داکارپرمشرکانو سخت تمامیږی » دعربو مشرکینو داالله تعالی (ج) د دین لوړاوی څنگه زغملای شو، له همدی امله دنبوی سیرت له مخی موږته دلومړیوشته نظامونو سره اودهغی له پالوالو ډلوسره، تصادم اونښته په نظرراځی ، دغه تصام پردری برخوویشلای شو : (Passive Resis Tance)
مکی دور، سوچه صبر، یعنی آدوران و، مطلب داچی پرتوحیدټینگ ولاړاوسی اوپه صبراوزغم سره دقریشودکفاروظلمونه وزغمی ، خوتاسی ته دلاس اوچتولواجازه نشته .
په مدینه منوره کی چی کله مسلمانان دنظم اوځواك څښتنان شول نوداقدام یعنی دمرحله راورسیده، رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکی نه دشام او یمن په لورتللیو کاروانی لاروته عملیاتی گروپونه وه لیږل او دقریشو دغسی پارولوځای یی وچیږه ، چی دقریشواقتصادی دارومدارپرهمدغولارود تلونکیو راتلونکیو تجارتی قافلو په وسیله کیده ، دهمدغه اقدام په ځواب کی قریشودباطل نظام په ملاتړ دیوه کوټلی قوت په وسیله دانقلاب دټلولو کوښښ وکړ، داوه دحضورصلی الله علیه وسلم دانقلابی کوښښونو یاجهاد بالقران وروستی مرحله ، دی ته په نوی اصطلاح کی « وسله واله نښته » اودقرآن په وینا ورته « قتال فی سبیل الله » وایی ، دادجهاد وروستی منزل ترټولو لوړه څوکه یعنی « ذروه السنام » دی ، هدف یی قرآن دابنیي چی فتنه اوفسادپای ته ورسی، درب العزت پرخلاف بغاوت وټکول شي، اودین گردسره دیواالله (ج) لپاره شي .
زیاتره پوهان د« فتنی » بیلابیل تفسیرونه بیانوی ، او په دی کی هیڅ شك نشته چی دفتنو شمیرگران دی ، خوترټولو ستره فتنه چی قرآن عظیم یی دپای ته رسولو حکم کوی کومه ده ؟
هغه فتنه داده چی دخدای (ج) پرځمکه دبل چاحکم وچلیږی ، دادځمکو اوآسمانونو دڅښتن پرخلاف ښکاره بغاوت دی ، دغه فتنه قرآنکریم ترقتل زیاته شدیده اوستره گنلی ده . ددغه فتنی دپای ته رسولو اوداالله (ج) د دین دغالبولو لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپلو ملگرو(رض) سره دخپل قام ، قبیلی اوخپلوانو پرخلاف وکړ اوبالاخره یی په عربی جزیزه نماکي داالله دین واکوال کړ .
له سوچه صبرنه واخله ترقتال فی سبیل الله پوری دادری پړاوونه دی ، دا جهاد زموږدایمان حتمی غوښتنه ده ، له دغه جهادپرته دجهنم نه دخلاصی کوم امید نشته .
اله العالمین فرمایی: ای دایمان څښتنانو! ووایم تاسی ته هغه تجارت چی دجهنم له دردناك عذاب نه نجات درکړی ؟ (هغه دادی) چی ټینگ ایمان لری پرالله (ج) اودهغه پراستازی اودهغه په لاره کی جهاد کوی پخپلومالونواوځانونو سره » .
وژل راوژل دجهاد ترټولو هسکه مرتبه ده

• خوهرڅوک پخپله خوښه جهادنشي کولای ، ددی نوبت هغه وخت رارسیږي چې اسلامي حکومت دنامسلمانو پرخلاف دفی سبیل الله جنګ پیل کوي ، دجنګ لپاره چې دڅه ډول پوځ اونظم اړتیاوي ، حکومت دهغې له پوره کولو وروسته په جنګ پیل کوي ، نوځکه جنګ فرض عین نه، کفایی فرض دی ، خوجهاد پرهرمسلمان فرض دی ، دیوه بنده گردژوندون له جهاد نه عبادت وی ، ددغه جهادلوړترینه هیله په زړه کی ژوندی ساتل هم د ایمان له غوښتنو څخه ده . په صحیح مسلم کی دحضرت ابوهریره(رض) پرروایت غوروکړی .

«رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی څوک په داسی حالت کی ومري چی دالله تعالی په لاره کی جنګ ونه کړی او په زړه کی یی داتمنا اوهیله هم نه وي نو په یوډول منافقت کی وه مړ» همدا حقیقت علامه اقبال (رح) په دې ډول بیان کړیدی :

شهادت هی مطلوب ومقصودمؤمن
نه مال غنیمت ، نه کشورکشایی

که څه هم زه دامکان ترحده نه نویو اصطلاحاتو ځان ساتم ،زمادفکرسورساره دقرآن اوسنت له اصطلاحاتو جوړشوی دي ، خودهردوران یوڅه ځانګړی اصطلاحات وي . چې ترکارولو پرته یی خلکوته پیغام نه رسي اودرسولو اوابلاغ حق نه اداکیږي ، دهمدغه هدف له مخې زه ددی ویلو جرئت کوم چی د« جهاد» لپاره داوسنی دوران اصطلاح انقلاب دی ، او انقلابی عمل پخپله په اصل کی جهاددی .

زه دادعوه هم نه کوم چی په ځانګړی توګه ددین کارنشی کیدای ، حضرت نوح (ع) نه نیم سوه کاله دبلنی اوتبلیغ کارپه یواځی ځان وکړ، ملګري یي پیدانه شول ، تام یې دتوحید بلنه ونه منله، نوځکه دبل ګام پورته کولو مرحله راونه رسیده . ددی پرعکس دویم مثال دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم دی ، هغه (ص) درویشت کاله له ځانګړی بلنی واخله دترتیب اوتنظیم چاري یی هم سرته ورسولی اودعربوپه جزیره نماکي یې دالله (ج) ددین دواکوال کولو کارهم وکړ. زموږلپاره په دې کی درس دادی که یوسړی له مکمل اخلاص سره خپل ټول ژوندون په دې لارکې ولګوي نودخدای(ج) په وړاندی به سرلوړی اوبریالۍ وي ، که څه هم ټولنیزافکارمړه شوی وي اویوملګری هم پیدانه کړی ، دده پکی هیڅ مسئوولیت نشته دروزنی ، تزکیی ، تدریس اوتعلیم ، تصنیف اوتالیف په څیرډیرکارونه په یواځی ځان سرته رسیدای شی اوکیږي ، خوددین دواکوالی کوښښ ، د اسلامی انقلاب دکوښښونو لپاره دتنظیم او ګوند جوړول حتمی دي .

دانقلابی کوښښولپاره دنظم اوضبط ، سمع او اطاعت والاګوند ته اړتیاده ، ددی کار لپاره د حضورصلی الله علیه وسلم دغه لاربښوونه بنسټیز اصول برابروی .

« الله تعالی ماته دپنځوخبروحکم راکړ، دګوندیاجماعت ، اواوریدلو اواطاعت اودهجرت اوالله (ج) په لاره کی دجهاد »

نه انقلابی بلنی وروسته لومړی چوړی دداعیونو وینا وته د« لبیک » ویونکیو دروزنی راځی ، لکه څنګه چی ددعوت لپاره دمؤمن بنده وسله قرآن دی ، همدغه ډول دروزنی لپاره قرآن مجید وسیله ده ، قرآن پخپله وایی چی زه ستاسی دسینو دناروغیو دوایم ، خو موږ دنفس دتزکیی لپاره هرهرځای چیروکړډول ډول فلسفی اونظامونه موترتیب کړل، او قرآن موهیڅکله بیرته نکړاووه موږنه لیده ، اقبال دهمدغه دردپه احسا س ژړلی دي :

صوفیۍ پشمینه پوش، حال مست
ازشراب، نغمه قوال مست
آتش، ازشعرعراقی دردلش
درنمی سازدبقرآن محفلش

یعنی (پشمینه پوش ساقی پخپل حال مست او دقوالی په شرابو بي هوشه دی ، په زړه کی یی د عراقی له اشعاراوربل شوی دی ، خو په محفل کی یی دقرآن

پاتي په (۲۲) مخ کي

د ١٩٨٩ کال مهمي پيښي

عوض الدين "صديقي"

١ جنوری ـ ١١ مرغومی: دکابل گوډاگی رژیم دنوی عیسوی کال له لومړی نیټی څخه دځلوروورځولپاره یواځ‌خیزاوربنداعلان کړ.

١ جنوری ـ ١١ مرغومی : دحزب اسلامی امیروورحکمتیارد« بی بی سی » رادیو پښتو څانگی سره دیوی مرکی په ترڅ کی دکابل گوډاگی رژیم له خواداوربند وړاندیزردکړ.

١ جنوری ـ ١١ مرغومی : استادربانی دجمعیت اسلامی مشراوداوه گونی اتحادویندوی دیوی وینا په ترڅ کی دکابل رژیم له خواداوربند وړاندیزردکړاوویی ویل: داوربند منل دامعنی لری چی نجیب حکومت دی به رسمیت وپیژندل شی .

٢ جنوری ـ ١٢ مرغومی : دروسیی دبهرنیو چاروزارت مرستیا ل وارنتسوف دیوه هیئت په مشری ایران ته سفروکړ، ترڅوداته گونی اتحادله مشرانوسره دافغانستان دراتلونکی په باب خبری وکړی .

٣ جنوری ـ ١٣ مرغومی : داستادربانی داتحاد دریاست دری میاشتنی دوره پای ته ورسیده او «مجددی » داوه گونی اتحاد در یس په توگه وټاکل شو.

٣ جنوری ـ ١٣ مرغومی : وارنتسوف دروسیی دبهرنیو چاروزارت مرستیال په تهران کی د مجاهدینو مشرانوسره ولیدل .

٤ جنوری ـ ١٤ مرغومی : وارنتسوف دروسیی دبهرنیو چارودوزارت مرستیال په تهران کی داته گونی اتحادله مشرانو سره ترخبرووروسته اسلام آبادته راغی ترڅوداوه گونی اتحادله مشرانو سره دافغانستان دراتلونکی په باب خبری وکړی :

٥ جنوری ـ ١٥ مرغومی : دروسیی دبهرنیو چاروزارت مرستیال (وارنتسوف) په اسلام آبادکی دپاکستان جمهوررئیس غلام اسحق خان او بهرنیو چاروزیریعقوب خان سره دافغانستان مسئلی دراتلونکی په باب خبری وکړی .

٦ جنوری ـ ١٦ مرغومی : داوه گونی اواته گونی اتحاد مشرانو په گډه په اسلام آبادکی دروسیی د بهرنیوچاروزارت مرستیال سره خبری وکړی .

٩ جنوری ـ ١٩ مرغومی : مجددی داوه گونی اتحاد ویندوی دیوی وینا په ترڅ کی وویل : موږبه دروسانو سره مخامخ خبروته ادامه ورنکړو.

١٠ جنوری ـ ٢٠ مرغومی: دروسیی دبهرنیو چاروزارت مرستیال « وارنتسوف» دیوی وینا په ترڅ کی وویل : ددی امکان شته چی روسیی پوځونه دفبروری تر(١٥) نه افغانستان څخه ونه وځی .

١٣ جنوری ـ ٢٣ مرغومی : دروسیی بهرنیو چارو وزیرشورنادزی ناڅاپی کابل ته سفروکړترڅو دکابل رژیم مقاماتو سره خبری وکړی .

١٦ جنوری ـ ٢٦ مرغومی: دایران دبهرنیوچارو وزیرولایتی دمجددی سره ولیدل اودافغانستان مسئلی دراتلونکی په باب ئی خبری وکړی .

١٦ جنوری ـ ٢٦ مرغومی: په افغانستان کی دروسیی قواوعمومی قوماندان دیوی وینا په ترڅ کی وویل: روسیی قواوی به دفبروری تر١٥ می دافغانستان څخه ووځی .

٢٠ جنوری ـ ٣٠ مرغومی : بباوری سرچینوړپوت ورکړچی زیاتره اروپائی هیوادونه غواړی په کابل کی دحالاتو دخرابی په وجه خپل سفارتونه وتړی تراوسه دالمان اوانگلستان هیوادونو داکارکړی .

٢٤ جنوری ـ ٤ سلواغه : دمجاهدینو یو هیئت دورورحکمتیارپه مشری ایران ته سفروکړترڅو ایران کی دمیشته اته گونی اتحادمشرانو سره خبری وکړی او هغوی

په مشورتي شوراکي ګډون ته چمتوکړي
۲۷ جنوري ـ ۷ سلواغه : دايران دبهرنيو چارو وزيرولايتي دوروڼحکمتيارسره په تهران کي وليدل .
۲۷ جنوري ـ ۷ سلواغه : دروسيي ددفاع وزير جنرال « يوزوف » کابل ته راغي ترڅودروسيي ځواوپروتلو نظارت وکړي .
۲۷ جنوري ـ ۷ سلواغه : دامريکا او جاپان هيوادونوپه کابل کي دحالاتو دخرابي له کبله خپل سفارتونه وتړل .
۲۹ جنوري ـ ۷ سلواغه : دپاکستان دبهرنيو چاروزير يعقوب خان سعودي عربستان ته سفر وکړترڅودهغه هيوادله مقاماتوسره دافغانستان مسئلي په باب خبري وکړي .
فبروري :
۲ فبروري ـ ۱۳ سلواغه : دايران دبهرنيو چاروزير ولايتي په اسلام آبادکي دپاکستان صدراعظمي بي نظيربوټو سره ترليدني وروسته دمجاهدينو مشرانوسره وليدل .
۳ فبروري ـ ۱٤ سلواغه : داوه ګوني اتحادوينـدوي مجددي دايران دبهرنيوچاروزيرولايتي سره يوځاي تهران ته سفروکړ.
۳ فبروري ـ ۱٤ سلواغه : دافغانستان

پخواني پاچاظاهرشاه ديوي ويناپه ترځ کي وويل :
دافغانستان مسئلي دحل لپاره حاضريم ديوه افغان په حيث په کښي برخه واخلم .
٥ فبروري ـ ۱٦ سلواغه : دروسيي دبهرنيوچاروزيرشورنادزي پاکستان ته سفروکړترڅودپاکستان مقاماتوسره دافغانستان مسئلي په هکله خبري وکړي .
۷ فبروري ـ ۱۸ سلواغه : دروسيي دبهرنيو چاروزارت مرستيال اوپه کابل کي دروسيي سفيروارنتسوف په تهران کي دايران جمهوررئيس خامنه اي سره دافغانستان مسئلي په باب خبري وکړي .
۹ فبروي ـ ۲۰ سلواغه : دامريکا جمهوررئيس « بش » خپله کابينه راوغوښته ترڅودروسيي ځواوتروتلووروسته دافغانستان په باب خپل پاليسي باندي تجديدنظروکړي .
۱۰ فبروري ـ ۲۱ سلواغه : دمجاهدينو(٥۲٦) ګډي مشورتي شوراخپله لومړي غونډه داسلام په مدينة الحجاج کي دائره کړه .
۱۲ فبروري ـ ۲۳ سلواغه : دجبهه نجات ملي ګونديوه ويندوي ذبيح الله مجددي په اسلام آبادکي ديوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کي وويل که دايران احزابوته دهغوي په خوښه دشوراکي دګډون حق ورنکړاي شي موږبه هم په مشورتي شوراکي ګډون ونکړو.
۱٤ فبروري ـ ۲٥ سلواغه : مجددي دامريکا غږراډيوسره په مرکه کي وويل : موږبه ترهغي مشورتي شوراکي ګډون ونکړوترڅوچي دايران احزابوته دهغوي په خوښه دګډون حق ورنکړاي شي .
۱٥ فبروري ـ ۲٦ سلواغه: دروسيي ځواوروستي عسکرپه داسي حال کي دافغانستان څخه ووتل چي دسرحد څخه دتيريدوپه وخت ئي شاته هم ونه کتل .
۱٦ فبروري ـ ۲۷ سلواغه : دروسيي دبهرنيو چاروزارت مرستيال وارنتسوف هندته سفروکړ، ترڅودهندي مقاماتوسره دافغانستان مسئلي په بابا خبري وکړي .
۱٦ فبروري ـ ۲۷ سلواغه : دجبهه نجات ملي مشر صبغت الله مجددي په مشورتي شوراکي ګډون وکړ.
۱۸ فبروري ـ ۲۹ سلواغه : دمجاهدينو داوه ګوني ائتلاف رئيس مجددي ددي دندي نه ايسته کړاي شو اوپرځاي ئي مولوي محمدنبي محمدي دائتلاف رئيس شو.
۱۸ فبروري ـ ۲۹ سلواغه : په مشورتي شوراکي مجاهدينو يوځوارلس کسيزهيئت دجلال الدين حقاني په مشري وټاکه چي دهرحزب دوه استازي په کښي وو ترڅو دشوراد کارونودپرمختګ په لاره کي کاروکړي .
۱۹ فبروري ـ ۳۰ سلواغه : په کابل کي دحالاتو دخرابي له کبله اضطراري حالات نافذ شول .
۲۲ فبروري ـ ۳ کب : په مشورتي شوراکي محمدنبي محمدي دموقتي عبوري حکومت دجمهوررئيس په توګه وټاکل شو. هغه د« بي بي سي » راډيو سره په مرکه کي وويل : زموږحکومت به ډيرژرپه افغانستان کي کارپيل کړي .
۲۳ فبروري ـ ٤ کب : مجاهدينو هغه تشکيلات چي په مشورتي شوراکي

جوړکړی ... برد پل او پرځای ئی انتخابات
وکړل چې د بدلی دجمهوررئیس او
استادسیاف دصدراعظم په توگه وټاکل
شول .
۲۵ فبروری - ٦ کب : دپاکستان
صدراعظمی بی نظیربوټو دامریکا
جمهوررئیس جورج بش سره په جاپان کی
ولیدل او دافغانستان مسئلی په اړه ئی
ورسره خبری وکړی .
۲٦ فبروری - ۷ کب : دروسیی دبهرنیو
چاروزیرشورنادزی دایران مذهبی
مشرخمینی سره ولیدل .
مارچ :
۱۰ مارچ - ۱۹ کب : دمجاهدینو
دعبوری حکومت کابینی خپله لومړنی
غونډه دپکتیا ولایت دخوست ولسوالی په
شاواوخواکی جوړه کړه .
۱۱ مارچ - ۲۰ کب : دفلسطین دآزادی
بښونکی سازمان مشریاسرعرفات دروسانو
په غوښتنه پاکستان ته سفروکړاودمجددی
سره ئی ولیدل په دی لیدنه کی بی
نظیربوټوهم گډون درلود .
۱۲ مارچ - ۲۱ کب : دبحرین
هیواد دمجاهدینوعبوری حکومت په رسمیت
وپیژاند دااعلان دبحرین دبهرنیو چاروزیر
محمدبن مبارک دوروړحکمتیارسره ترلیدنی
وروسته وکړ .
۱۳ مارچ - ۲۲ کب : دسودان حکومت
دمجاهدینو عبوری حکومت په رسمیت
وپیژاند دااعلان دسودان دبهرنیو
چاروزارت یوه ویندوی وکړ .
۱٦ مارچ - ۲۵ کب : داسلامی
هیوادونوپه کنفرانس کی دافغانستان تشه
کرسی دمجاهدینو عبوری حکومت ته
وسپارل شوه .
۲٤ مارچ - ٤ وری : دمجاهدینوعبوری
حکومت مشرمجددی په اسلام آبادکی
دامریکا سفیر« ... » اودامریکا دسنایوه
غړی سره ولیدل .

۲۸ مارچ - ۸ وری :
وروړحکمتیاراودمجاهدینوځینونورومشرانود
مجددی په کورکی دانگلستان
دبهرنیوچاروزیر« جیفری هاو » سره وکتل
.

۲۹ مارچ - ۹ وری : په ملگروملتوکی
دروسیی سفیردملگروملتودمشرکوئیارسره
ولیدل اوپه دی ترڅ کی یی غوښتنه وکړه
چې دپښتونستان اوافغانستان پرسرحدی
پولودی دملگروملتودنظارت پوستی واچول
شی .
۳۰ مارچ - ۱۰ وری : دایران
دبهرنیوچاروزیر« ولایتی » روسیی ته
سفروکړترڅوروسیی مقاماتوسره
دافغانستان پرمسئلی خبری وکړی .
اپریل :
٤ اپریل - ۱۵ وری : دکابل رژیم
دبهرنیوچاروزیرعبدالوکیل دامنیت
شورادمشر« الیگزنیدمیلونوگوف » په نوم یو
خط ولیږه چې په کښی غوښتنه شوی وه
باید دامنیت شورادافغانستان مسئلی په اړه
سمدستی خپله غونډه دائره کړی .
۵ اپریل - ۱٦ وری : دپاکستان
دبهرنیوچاروزارت ویندوی دیوه
مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی دامنیت
شورادمشر« میلونوگوف » څخه وکیل
داغوښتنه چې دافغانستان مسئلی په اړه
دی سمدستی غونډه راوبولی ردکړه اووی
ویل :
ضرورت نه لیدل کیږی چې داسی غونډه
دې جوړه شی .
٦ اپریل - ۱۷ وری : دروسیی
مشرگورباچوف انگلستان ته سفروکړاوملته
ئی دروسیی په سفارت کی د« تاچری »
سره دافغانستان مسئلی په اړه خبری
وکړی .
٦ اپریل - ۱۷ وری : دامریکا
جمهوررئیس « بش » دمجاهدینو لپاره
دسفیر په رتبه دیوه خاص استازی
دلیږلوفیصله وکړه ددی دندی لپاره «
پیترتامسن » انتخاب شو .
۸ اپریل - ۱۹ وری : دپاکستان دبهرنیو
چارو وزیر یعقوب خان دامنیت
شورادمشرپه نوم یو خط ولیږه چې په
کښی دکابل رژیم داغوښتنه ردشوی وه
چې دامنیت شورادی دافغانستان مسئلی
په اړه غونډه راوبولی .
۹ اپریل - ۲۰ وری :
وروړحکمتیاردعبوری حکومت
دبهرنیوچاروزیردبنگله دیش ته سفروکړ
اوهلته ئی دهغه هیوادله جمهوررئیس
حسین محمد ارشادسره ولیدل .
۱۰ اپریل - ۲۱ وری : دشوروی
دبهرنیو چارو وزیرشورنادزی په ماسکوکی
دپاکستان دصدراعظمی بی
نظیربوټوسیاسی سلاکار« یحیی بختیار

سره وليدل اودافغانستان دمسئلي په هره ئي ورسره خبري وکړي .

۱۷ اپريل ـ ۲۸ وری : دپاکستان دبهرنيوچاروو‌زيريعقوب خان دبهرنيوچاروو‌زارت په دفترکی دمجاهدينو مشران مـلمانه گړل چی په کښی مجددی ، سياف اودعبورحکومت دکابينی نوروغړوهم گډون کړی وء .

۱۸ اپريل ـ ۹ وری : دعبوری حکومت مشرمجددی اوصدراعظم استادسياف په اسلام آبادکی دپاکستان جمهوررئيس غلام اسحق خان ، دبهرنيوچاروو‌زير يعقوب خان ، دصوبه سرحد اعلی وزيرآفتاب احمدشيرپاوسره وليدل اودافغانستان مسئلي پرروانوحالاتوئی ورسره خبری وکړی .

۱۹ اپريل ـ ۳۰ وری : دعبوری حکومت صدراعظم « سياف » دملگروملتو دمشرگوئيارپه نوم خط وليږلوچی په کښی غوښتل شوی وو‌ملگری ملتونه بايد دکابل رژيم پرځای دمجاهدينودحکومت په جوړيدوکی مرسته وکړی .

۱۹ اپريل ـ ۳۰ وری : دمجاهدينو يو هيئت داستادربانی په مشری ايران ته لاړترڅوپه ايران کی ميشته احزاب عبوری حکومت کی گډون ته راوبولي .

۲۲ اپريل ـ ۲ غوايی : ورورحکمتياردعبوری حکومت دبهرنيو چاروو‌زير دځينو هيوادونو ته ترسفرورو‌سته راستون شو .

۲۳ اپريل ـ ۳ غوايی : دعبوری حکومت مشر مجددی دپاکستان صدراعظمی بی نظيربوټوسره هغی په سکرتريت کی وليدل اودافغانستان مسئلي پرروانو حالاتو ئې خبری وکړی .

۲۶ اپريل ـ ٤ غوايی : دپاکستان جمهوررئيس غلام اسحق خان په اسلام آبادکی دامريکا سفير«اوکلي» سره وليدل اودافغانستان مسئلي په اړه ئی ورسره خبری وکړی .

۲۷ اپريل ـ ۷ غوايی : دايران جمهوررئيس خامنهای دمجاهدينو دعبوری حکومت دبياآبادولو وزير(ربانی) سره چی ديوه هيئت په مشری ايران ته سفرکړی وء وليدل ددی ليدنی په ترځ کی خامنه ای وويل : دافغانستان مسئله ايران ته زيات ارزښ لری موږبه هيڅکله ديوکتونکی په توګه دی مسئلي ته ونه گورو .

۲۷ اپريل ـ ۷ غوايی : دامنيت شوراغونډه چی دکابل رژيم په بلنه راغوښتل شوی وه دکومی نتيجی پرته پای ته ورسيده .

۲۸ اپريل ـ ۸ غوايی : دپاکستان صدراعظمی بی نظيربوټود« ډيلی ستيتمن » ورځپانی سره په مرکه کی وويل : په افغانستان کی ديوه پراخ بنسټيزه حکومت په جوړيدوسره امنيت راتلی شی .

می :

۹ می ـ ۱۹ غوايی : په ملگروملتو کی دپاکستان سفيرشاه نوازدملگروملتو مشرپريزدکوئيارسره وليدل اودهغه سره ئی دافغانستان مسئلي پرروانوحالاتوخبری وکړی .

۲۰ می ـ ۳۰ غوايی : په ايران اوپاکستان کی دميشته ائتلافونو مشرانو داتحادپه دفترکی دری ساعته پرله پسی خبری وکړی .

۲۳ می ـ ۲ غبرگولی : دپاکستان صدراعظمی بی نظير بوټودواشنگټن پوسټ ورځپانی سره په مرکه کی وويل : د پاکستان پخوانی حکومت غوښتل دافغانستان مسئله دنظامی لاری حل کړی خوزه به اوس ددی هلی ځلی وکړم چی دامسئله دسياسی لاری حل شی .

۲۵ می ـ ٤ غبرگولی :دپاکستان دپوځ داستخباراتی اداری مشرجنرال حميدگل چی دمجاهدينو کلك ملاتړکوونکی وء دخپلی دندی نه ايسته کړای شواوپرځای يی « شمس الرحمن کلو» ددی اداری مشروټاکلی شو .

۳۱ می ـ ۱۰ غبرگولی : دجماعت اسلامی پاکستان مشرقاضی حسين احمدديوی وينا په ترځ کی وويل دعبوری حکومت دپه رسميت پيژندلوپه خاطرپه يوعوامی تحريك پيل کړم .

جون :

٤ جون ـ ۱٤ غبرگولی : دپاکستان صدراعظمی بی نظيربوټو امريکاته سفروکړترڅوهلته دامريکا ئی مقاماتو سره دافغانستان مسئلي په اړه خبری وکړی .

٦ جون ـ ۱٦ غبرگولی : دمجاهدينواوروسانوهيئت په اسلام آبادکی دبنديانو تبادلي په خاطر سره بيا خبری پيل کړی .

٦ جون ـ ۱٦ غبرگولی : دپاکستان

صدراعظمې بې نظیر بوټو دامریکا
دجمهوررئیس « بش» سره په « وائټ
هاوس » کې ولیدل اوډافغانستان مسئلې
په اړه ئې دیوه بل سره خبرې وکړې .

۷ جون – ۱۷ غبرگولی : دپاکستان
دبهرنیوچاروووزارت ویندوی دیوی وینا په
ترخ کې داتورچې گواکې یعقوب خان
دافغانستان مخلوع پاچاظاهرشاه سره
لیدلی ردکړ.

۱۰ جون – ۲۰ غبرگولی : دپاکستان
صدراعظمې بې نظیربوټو دملگروملتو
دمشرکوئیارسره ولیدل اوډافغانستان
دمسئلې پرروانو حالاتوئې ورسره خبرې
وکړې .

۱۳ جون – ۲۳ غبرگولی :
وروره حکمتیاردحزب اسلامی امیرسعودی
عربستان ته سفروکړترڅودهغه هیوادله
مقاماتو سره پروانوحالاتو خبرې وکړې .

۱۸جون – ۲۸ غبرگولی : دروسیې
بندیانودخلاصولوپه خاطردهغوی
دمیندویوهیئت اسلام آبادته راورسید ترڅو
په دې باب دمجاهدینو سره وگورې .

۱۹ جون – ۲۹ غبرگولی : دحزب
اسلامې امیر وروره حکمتیارپه اسلام آبادکې
دپاکستان دبهرنیوچاروووزیریعقوب خان
سره ولیدل

۱۹ جون – ۲۹ غبرگولی : دایران
دبهرنیو چاروووزیروولایتې دلنډې دورې
لپاره اسلام آبادته راغې ترڅو پاکستانې
مقاماتو اودمجاهدینومشرانو سره
دافغانستان دراتلونکې په باب خبرې
وکړې .

۲۰ جون – ۳۰ غبرگولی : دایران
دپارلمان ویندوی « رفسنجانې » روسیې ته
سفروکړاوهلته یې دروسیې مقاماتو سره
دافغانستان مسئلې په اړه خبرې وکړې .

۲۱ جون – ۳۱ غبرگولی : دمجاهدینو
ځینو مشرانو وروره حکمتیار، گیلانې،
مجددې دهغه روسې هیئت سره لیدل
چې دروسیې بندیانو دخلاصولو په
خاطراسلام آبادته راغلی وء ولیدل

۲۱ جون – ۳۱ غبرگولی : امریکا
دمجاهدینولپاره خپل خاص استازې وټاکه
هغه په همدې ورځ دخپلې دندې
مسئوولیت په غاړه واخست ددې دندې
لپاره « تامسن » وټاکل شوی .

۲۲ جون – چنگاښ : دایران دپارلمان
ویندوی رفسنجانې اودروسیې
دبهرنیوچاروووزیرشورنادزې په ماسکوکې
سره ولیدل اوډافغانستان مسئلې پرروانو
حالاتوئې خبرې وکړې .

۲۳ جون – ۲ چنگاښ : روسیې
اوایران په ماسکوکې روسیې ته
درفسنجانې ترسفروروسته اعلان وکړچې په
گډه به ددې هلې ځلې وکړې
ترڅوډافغانستان مسئله په صلح آمیزه توگه
حل کړې .

۲٤ جون – ۳ چنگاښ : وروره حکمتیارپه
اسلام آبادکې دفلسطین دآزادې بښونکې
سازمان مشر یاسرعرفات سره ولیدل په
دې لیدنې کې بې نظیربوټو هم گډون
درلود .

۲٤ جون – ۳ چنگاښ : دروسیې
دبهرنیوچاروووزیرشوأرنادزې اودکابل
دبهرنیوچاروووزیر وکیل سره ولیدل
اوډافغانستان مسئلې پرروانو حالاتوئې
خبرې وکړې .

۳۰ جون – ۹ چنگاښ : دفلسطین
دآزادې بښوونکې سازمان دمشرخاص
استازې کابل ته ورسید ترڅو هلته دړژیم
مقاماتو سره دیاسرعرفات پروړاندې شوی
طرحې خبرې وکړې .

(نوربیا)

په اسلام کي دتفاهم اومشوري اصل

استاد شیرعلم "حقمل"

دماموریتو تپت بستونه اودرجی له څونه شروع کیږي اوپورته یی کومي دي څرنګه ترفیع کوي او څوک یی دمقرري حق لري او .... ؟
په دي موضوعاتو کی په مشرلازمه ده چی دولس له نمایندګانو نه نظرواخلی او دهغوی دنظرمطابق عمل وکړی .
یوه مهمه نقطه چی دهرمسلمان لپاره دهغی پوهیدل ضروری دی هغه داده چی په اسلام کی دغربی دیموکراسی په خلاف سیادت او حاکمیت دشرعی حق دی دولس حق نه دی خوداسلام تطبیق او هغه په چوکاټ کی دژوند اصول او مقررات ټاکل دولس حق دی هیڅوک یی دغصبولو حق نه لري او نه ولس تري محرومولای شي .
داسلام له نظره انسان دشارع مقام نه لري چی هرڅه یی زړه وغواړی هغه وکړی او نه دنورو حیواناتو غوندی بی ارادی موجودی چی څه پري کیږي قبلوي به یی بلکه قانون خدای (ج) ورته جوړکړی او دتطبیق مسئولیت اووظیفه یی ده ته وربه غاړه کړی که له ځانه شارع جوړکړی له چتی ووزی او که دمیږو درمی غوندی هرڅه ومنی دانسانیت مقام له لاسه ورکوی او له چارپایانو سره مشابه کیږی .
کله داسی هم پیښیدلای شي چی منصوص قطعی موضوع دنه معلومات له کبله شوری ته وړاندی شی خو وروسته بیا ثابتیږی چی په دی باره کی نص موجوددی نوبیا شوری پریښوول کیږی او په نص عمل کیږی ، لکه په هغه مشهوره

(په تیرپسي)

پیښه کی چی حضرت عمر(رض) له خپلو ملګروسره مشوره وکړه چی ایازه اوملګری می شام ته ننوزو حال داچی هلته دوبا اوطاعون مرض ګډدی ؟ نوابوعبیده بن الجراح ورته وویل : مناسب نه بولم چی بیرته وګرځئ ته داسی کارته تلونکی یی چی نفاذیی حتمی دی آیاموږدخدای (ج) له قضاڅخه تښتو؟ خونوورونه ټګ مفیدباله ورته ویی ویل ای امیرالمومنینه له خپلو ملګروسره یو ځای بیرته وګرځه دي وبا ته یی مه ورولمه ځکه ځان او ملګری له خطر سره مخامخ کوي نو حضرت عمر(رض) له مهاجرینو او انصاروسره مشوره وکړه دوونفروهم دبیرته تګ په باره کی مخالف نظرورنکړ ، نوده ابوعبیدبن الجراح ته وویل « نفرمن قضاء الله الی قضاء الله » دخدای ج له قضاء څخه دخدای قضاء ته تښتوکله چی عبدالرحمن ابن عوف چی په دی وخت کی حاضرنه و له جریان څخه خبرشونوهغه وویل چی دی باره کی له ماسره دپیغمبر دخولی معلومات شته چی فرمایی « اذاوقع الطاعون بارض فلاتدخلوهاولا تخرجو امنها» کله چی په کومه مځکه کی طاعون اووبا پیښه شي نومه ورننوزی او مه تری وزی . که چیرته حضرت عمراو حضرت عبیده(رض) ته داحدیث معلوم وای نونه به یی مشوره کړیوه اونه به یی مخالف نظرورکړی و .

دڅلورمي پوښتني ځواب :
(دشوری فیصلی په اکثریت کیږی اوکه اتفاق شرط دی او که فیصله مشرکوی دشوری مجلس یی حق نه لري ؟ دشوری فیصله الزامی ده که اعلام بلل کیږی اوبالاخره په مشر لازمی دی چی مشوره وکړی او که مستحب ؟)
علماء په دی موردکی په دریو ډلوویشل شوي یوه ډله وایي چی دشوری نظرملزم نده ،معلم دی ، چی پریکره امیرکوي دهیچا دنظر او پریکړی په منلو مکلف ندی او نه په ده حتمی ده چی خامخا به په عامو اموروکی ولس ته رجوع کوي او ددوی پریکره به له ځانه سره اخلی .
بله ډله وایی چی دشوری نظرملزم دی مشرمکلف دی چی ولس ته رجوع وکړی

د شورئ د اکثریت په پریکړو عمل وکړي . ددوی
دریمه ډله وایي چې په مشر باندې
د شورئ الزام او نه الزام دولس په رایې
پورې اړه لري که ولس وغواړي چې
مشرته مطلقه اختیارورکړي ورکولی یې شي
او که ولس داکثریت پریکړه لازمي وبولي
مشر په هغو مقیدولای شي ځکه مشر
ددوی نایب دی منیب چې څومره واک
وغواړي نایب ته یې ورکولای شي .
داولې ډلې دلایل :
۱ـ قرآن کریم فرمایي « وشاورهم في الامرفاذا عزمت فتوکل علی الله » په دې آیت کې دشورئ نسبت مسلمانانو ته شوی دی چې شورئ ورسره وکړه او دعزم نسبت چې آخریني پریکړې ته ویل کیږي پیغمبرته شوی نوداخریني پریکړې حقداراو څښتن مشردی نه ولس .
ب : ابوبکرصدیق (رض) دمرتدینودقتال په باره کې له خلکو سره مشوره وکړه ، زیات خلک یې دجنګ مخالف وو دوی ورته ویل څرنګه له هغه چاسره وجنګیږو چې خدای جل جلاله یو بولي او ... الله علیه وسلم ... رسول ... نو ابوبکرصدیق په ځواب کې وفرمایل « والله لاقاتلن من فرق بین الصلاة والزکاة فان الزکاة حق المال والله لو منعوني عقالا کانوایؤدونه لرسول الله لقاتلتهم علیه » قسم په الله (ج) خامخا به جنګیږم له هغه چاسره چې لمونځ او زکاة یې سره جداکړي ځکه زکات دمال حق دی قسم په الله که یوه ګونډه (دپوری وره تړوته چې اوښان پرې ګونډه کیږي) رانکړي چې پیغمبرته یې ورکوله خامخا به ورسره پرې وجنګیږم .
دلته دجنګ فیصله پخپله ابوبکرصدیق (رض)وکړه داکثریت رایې ته یې غاړه کینښوده نو دوی خپله رایه پریښوده دده درایې مطابق وجنګیدل .
ج : رسول الله ډیرځله خپله رایه عملي کړې دنوروراییي ته یې اهمیت نه دی ورکړی لکه دبنوقریظه وه په جګړه کې اوحدیبیې په سوله کې .
د : په اکثریت سره پریکړه اوحکم کول اسلامي نظام نه بلکې غربي دیموکراسي نظام دی هغه کسان داکثریت په پریکړو عمل لازم بولي چې له غربي نظام څخه متاثرشوي وي .
ه : که چیرې داکثریت دپریکړوالزام په اسلامي شریعت کې ځای نیولی و اصولي مقررات به یې توضیح کړی وه مګرفقهاوو داکار ندی کړی .
و : کثرت په قرآن کریم کې په بده یادشوی : « ومااکثرالناس ولو حرصت بمومنین » که ته زیات کوشش هم وکړې زیات خلک ایمان نه راوړي نو اکثریت نه تنها داچې ملزم ندی بلکه قبیح هم دی
دی دلایلو ته په حیر (دقت) سره کتل
۱ـ د « وشاورهم في الامرفاذاعزمت فتوکل علی الله » له آیت څخه دشورئ الزام او وجوب معلومیږي نه استحباب ځکه « شاور» امردی امردوجوب لپاره وي خدای پاک(ج) وایي مشوره ورسره وکړه چې نهایي قرارته ورسیږي نوبیا په خدای توکل وکړه ، شك او ترددمه کوه ددې معنی دانده چې نهایي قراربه دپیغمبر (ص)خپله رایه وي بلکې دلته مناسبه داده چې نهایي قراردشورئ رایه وبلل شي ځکه څوك پخپله رایه کې دومره شك او ترددنکوي څومره چې دنوروراییه ومنی نوکله شك او تردد ورته پیداکیږي .
پاك الله پیغمبر(ص)ته وایي چې له قراره وروسته شك او ترددمه کوه په خدای باوراو اعتمادوکړه عملي اقدام ته ملاوتړه .
درسول الله عمل داحد په غزاکې ددې آیت ښه مصداق ګرځیدلای شي په دې غزاکې دده رایه داوه چې له مدینې څخه دفاع وکړې خوداکثریت رایه داوه چې له مدینې څخه ورو وځي نوداکثریت خبرېي ومنله . صحابه ودارشول چې مبادا پیغمبر(ص) مویه وتلومجبورکړي وي او حال داچې دی به یې بدبولي نوورته وې ویل چې موږله خپلې رایې تیریږو ستادرایي سره سم به له ځانو او مدینې څخه دفاع وکړو . ده ورته وویل چې نده روانبې ته چې دجنګ کالي ، له اغوستلووروستنه ، وباسي ترڅو چې خدای پاك دده اوددده ددښمن ترمنځ فیصله وکړي .
ب : داګومان چې حضرت ابوبکر(رض) په خپله رایه عمل کړی او نوروصحابه و دده خبره بې قناعته منلې بالکل غلطه خبرده ځکه حضرت عمر وایي « فوالله مارایت ان الله شرح صدرابی بکر للقتال حتی علمت انه الحق » نو قسم په الله مافکرنه کاوه چې خدای پاك دابوبکر سینه قتال ته خلاصه کړې (خدای پاك ده ته حق الهام

... زده پوه شوم چې ... الحق
دی .
کله چې اصحابو داحدیث له عبدالله بن عمرڅخه واورېده « امرت ان اقتال الناس حتی یشهدوان لااله الاالله وان محمداً رسول الله و یقیمو الصلاه ویوء تو الزکاة فان ذا.ذلك عصموا منی دماء هم واموالهم الا بحقها وحسابهم علی الله » مامورشوی یم چې وجنګیږم له خلکوسره ترهغه وخته پورې چې شاهدی وواییې چې بی له الله بل معبود نشته اومحمدٌ دخدای رسول دی او لمونځو نه اداکړی اوزکاتونه ورکړی نوکه داکارونه یې وکړل نو له مانه یې خپل وینې او مالونه وساتل مګر په حق سره (لکه قصاص، زکات)او حساب یې په خدای دی، نو متیقن شول چې په خوله مسلمانان دحقیقی مسلمانانو له توروڅخه نشي په امن کیدلای خو دایمان راوړلو په شان لمونځ او زکات هم اداکړي .
که فرضاً قتال ددوی په نظر شرعاً حرام وی بی قناعته دابوبکرصدیق په امر جنګیدلی وی نو ددی حدیث په مقتضی « لاطاعه لمخلوق فی معصیه الخالق » تول ګناه تاریږی آیاداصحابوپه باره کی داسی حکم صحیح دی؟ نه بالکل نه . ددی غلطی سبب په حکم کی عجله او په ظاهری شیانو باندی ددلیل ګمان کول دی حال داچی دلیل نه وی .
ج : رسول الله دحدیبی معاهده او دبنوقریظه وء جنګ دوحی په اساس کړی نه دشوری په اساس . دحدیبی په صلحه کی رسول الله (ص)دصلحی مخالفینو ته وایی « انه ربی ولن یضیعنی » بې شکه هغه زمارب دی هیڅکله به می ضایع نکړی . دبنی قریظه وء دجنګ په باره کی امام بخاری (رح) وایی چې حضرت جبرئیل له ماسپښین څخه مخکی حضرت پیغمبرته راغی اوورته وی فرمایل : « ان ربك یامرك ان تخرج الی بنی قریظه» بې شکه ستا پروردګار امردرته کوی چې دبنی قریظ و جنګ ته ورووزه .
رسول الله په ټولنه پوری مربوط عام کارونه یاپه وحی کوی او یا په شوری نو بل چاته هم په عادی حالاتو کی بی حده او اندازی واك نشی ورکول کیدلای .
د : داچې ویل کیږي چې داکثریت په نظرعمل کول غربی نظام دی له اسلامی نظام سره تضادلری؟ بالله خبره داشکه له یولوری داخبرضرری نده چې هرڅه په غربی نظام کی راغلی وی هغه به خامخا له اسلام سره تضادلري مثلاً هلته راغلي چې له مشرڅخه باید ولس راضي وي که مشرخیانت وکړي ولس یې عزل کولای شي، داخوله اسلام سره تضاد نه لري . داسی موضوعات او احکام له اسلام څخه په دی دلیل چې ددیموکراسی جزء ګرځیدلی نه شی لری کیدلای .
له بل لوری کله چې حضرت عمرته ولس اختیارورکړچې خپل نایب تعین کړه ده په اول ممانعت وکړوروسته یې ومنله شپږکسان یې دخلافت دمقام لپاره کاندیدکړل خپل زوی عبدالله یې هم ورسره کړداسی یی ورته وویل چې له تاسو څخه که څلورو په یو نفر اتفاق وکړ هغه خلیفه بلل کیږي دنوروم‌خالفت کوم تاثیرنه لري او که دری دری شوئ نوعبدالله بن عمر چې هرلورته رایه ورکړه هغه خلیفه ګرځي ، ټولواصحابوداومنله او ده ته یې ونه ویل چې داکارله اسلامه وتلی بدعتی عمل دی .
له دی واقعي څخه معلومیږي چې په اسلام کی هم تعددشته ، هم اکثریت او هم درای ګیری نظام .
ه : داخبره چې که عدداورای ګیري داسلامی نظام جزء وي نو په فقهي کتابوکي به راغلی وه،دنه راتګ دلیل یی دا دی په دی چې عدداو رای ګیري په اسلام کی نشته داخبره هم صحیح نده ځکه حضرت عمرهم عددتعین کړی او هم رای ګیری ورته ښودلی چې په شپږونفروکي په اکثریت سره خلیفه تعین کړی .
حضرت ابوبکر صدیق هم انصاروته دسقیفی په ورځ وویل چې « ان العرب لاتجتمع الاعلی هذاالحی من قریش» یعنی زیات عرب په قریشو راټولیږی په انصارو نه راټولیږی نوقریشی باید مشرشي ځکه اکثریت ورسره دی .
که فرضاً ومنو چې فقهی کتابو داموضوع نده ذکرکړې نو دادددی دلیل کیدلای شی چې مشروعیت نه لري؟ نه هیڅکله نه! ځکه دسیرت او حدیثو کتابونه ترې ډك دي .

پاتې په (۲۲) مخ کي

(په تیرپسې)

دبدرغزا

ژباړن : عبدالمالک "رحماني"

جګړه ورو ورو تودیده ، دسعدبن العاص زوی عبیده چې خپل ټول وجود یې داوسپنې په لباس پوښلی وله خپل صف نه راووت په چلنج سره یې وویل : زه ابوکرش یم که څوك زماسیال وي نوراودې وځي، نن به هیڅوك زماله لاسه ژوندی لاړنشي ، دعبیده په دغه چلنج سره حضرت زبیر(رض) له صف نه رابهرشو، دعبیده له سترګوپرته نورټول وجودپه اوسپینه پوښلی شوی و دواړلپاره یې هیڅ ځای نه ووپریښی ، خو حضرت زبیر(رض) په ډیره چالاکی اوګیرکی سره په برچې سره واروکړ چې نیغه دعبیده په سترګو ولګیده ، اوله وارسره سم په ځمکه راپرېوت . برچه په دومره زور دعبیده په سترګوکې ننوتلې وه چې حضرت زبیر دپښې په مرسته په سختۍ سره هغه راوایسته ، په اسلامي تاریخ کې دغه برچه دیادګارپه حیث یادیږي . دغه برچه حضرت زبیر(رض) له رسول (ص) څخه غوښتې وه چې هغه (ص) ورته بخشش کړيوه چې وروسته بیا څلوروارو خلفاوته انتقال شوه .

دحضرت زبیر(رض) له دغې بریالی بریدوروسته عمومي جګړه پیل شوه اودواړو خواووپرېږي ... وکړې ، کفارد خپلو متوپه زور، پوځۍ وسلو اوافرادی قوت باندې ډیر غره اود طاقت غروراوتکبر په نشه مست وو . پداسې حال کې چې رسول الله (ص) اودهغه فداکارملګري پرخدای (ج) توکل درلود پرهغه ذات یې توکل درلود چې دهماغه پاك نوم په خاطر یې خپل سرپه لاس کې نیولی و .

په هغوورځوکې چې په مکه کې مسلمانان دقریشو دظلم له لاسه ډیرپه تنګ وو هلته دابوجهل نوم ډیریادیده اودیـ مشهورشوی، و، په همدې لحاظ معوذ ومعاذ چې دوه ورونه وو له خپل ځان سره یې عهدکړی وچې، دغه ظالم ، فاسق اوشقي انسان به جهنم ته لیږي .

حضرت عبدالرحمن بن عوف چې دبدرپه غزاکې یې برخه درلوده قصه کوي چې زه په صف کې ولاړوم چې ناڅاپه مې ښې خواته دوه زلمیان راپیداشول یوه یې په غوږکې پوښتنه رانه وکړه چې ابوجهل چیرته دی ، ماورته وویل تاسې ابوجهل څه کوی ؟ هغو وویل «زه به یاهغه ووژنم اویابه پخپله ووژل شم» دهغه بل ملګری هم دغه ټکی بیان کړ .

هغه (رض) زیاتوی چې کله ماورته وویل چې ابوجهل هغه دی مخامخ ولاړدی نودغودواروزلمیانو دعقاب په شان پرابوجهل حمله وکړه ، دکفاروپه لښکرکې دابوجهل زوی عکرمه چې کله دخپل پلارحالت ولید نودمرستې لپاره یې هڅه وکړه عکرمه دشاله خوا راغې اومعاذیې په چپ ولی داسې په توره وواهه چې دهغې په وجه دمعاذ (رض) چپ ولی دومره غوځ شو چې فقط یوه تسمه پاتې شوه ، خوپه دې حالت کې هم معاذ(رض) عکرمه تعقیب کړخوهغه په یوچل ځان ترې خلاص کړ. حضرت معاذ(رض) تر آخره په ځریدلی لاس په جګړه کې په میړانه وجنګیده .

دبدرپه جګړه کې درسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې

اوله‌پربد دښمن امیه بن خلف
هم ګوون کړی و، چې وښوایی
په ډېرو ځایوکې رسول اکرم
صلی الله علیه وسلم ځورولی و،
خو اتفاقاً حضرت عبدالرحمن
بن عوف له هغه سره کوم
وخت داسې وعده کړې وه
چې که الله هغه مدینې ته راغی
نودی به دهغه دځان ساتلو
ضامن وي اوس چې که څه هم
دبدر په میدان کې دخدای
ددغه دښمن نه دانتقام اخستو
موقع وه خو بیاهم حضرت
عبدالرحمن په عهدوفا ټرهرڅه
وړاندې وبلله ځکه چې اسلام
پرعهد دوفا درس ورکوي .
عبدالرحمن بن عوف هڅه کوله
چې دامیه بن خلف سره خپل
عهد پوره کړي او په یوه شکل
یې وساتي، نو په همدې
حاضروي ن ځان سرة شرته
بوتلو، خوله بده مرغه حضرت
بلال (رض) داهرڅه ولیدل او په
همغه وخت کې یې انصاروته
دهیښې اطلاع ورکړه ، چې
اوس داسلام اوحضرت
محمد (ص) دلوی‌بد دښمن
اوخونخوارلپاره قصداً دتیښتې
لاره برابرول کیږي ، هغه په
ډېرقهرداميه زوی ونیو او په
قتل یې ورساوه بیاامیه خواته
ورلنډشو، خوځرنګه چې
حضرت عبدالرحمن بن عوف
ته عهد ډېرمحترم ونوامیه ته یې
وویل چې په ځمکه پریوزي ،
کله چې هغه ځان وغورځاوه
نو عبدالرحمن بن عوف ځان
داسې پرې وغوړاوه چې
نوهلو ځای پاتې نه شو،
خوانصار چې ډېرپه قهراوغصه
وونوله لاندې یې لاسونه
وراوړده کړل اوامیه یې ووژه ،
په دغه کشمکش کې دحضرت
عبدالرحمن بن عوف (رض)
یوه پښه هم ټپي شوه چې
ترډېره وخته یې پرهارپاتې شو .

کله چې دکفاروستر ستر
لوډنامه مشران لکه ابوجهل ،
عتبه ، امیه اونوروووژل شول
نودنوروپوځ روحیه هم ماته شوه
دمقاومت تاب یې له لاسه ورکړ
اودلښکراسلامي میړنو ځوانانو
دزړورتیا په مقابله کې یې هیڅ
له لاسه نه کېدل نوهغوی خپل
خیرپه دې کې باله چې دتیښتې
لاره ولټوي خومسلمانانو مخکې
له مخکې دهغوی زیات
شمېرمغزز مشران ونیول چې په
هغوکې ، نوفل ، اسود ،
عامراوعبدالله بن زمعه هم
شامل وو .

په دې وخت کې حضرت
محمد (ص) خپلو ملګروته
حکم وکړ چې دکفاروترټولو
شر سرداراپوجهل احوال
راوړي چې هغه په څه حال کې
دی، په دې وجه حضرت
عبدالله بن سعود (رض)
دکفارو دمړو دجسدونو
دانبارپه لوررووان شو، له څه
پلټنې وروسته یې ابوجهل
ولید چې په زخمي حالت پروت
و، حضرت عبدالله دتصدیق
لپاره له هغه نه تپوس وکړ :«
آیا ته ابوجهل یې ؟» هغه
وویل پوښتې دې قوم وژلی
دی آیادادفخرخبره ده .
ابوجهل یوځل حضرت عبدالله
بن سعود پڑمخ باندې په
څپېړه وهلی و، نوهغه ته هم
اوس دانتقام ښه موقع په لاس
ورغلی وه . هغه (رض)
دابوجهل پرغاړه پښه کېښوده،
ابوجهل ورته وویل « ای
شپونه! وګوره چیرته دې پښه
ایښې ده » په دې خبرسره
حضرت عبدالله دابوجهل
سرغوڅ کړ اودرسو ل الله (ص
) حضورته یې راوړ.

دبدرله جنګ تاریخ دغه خبرې
وسائلو په حساب
ډېرحیرانوونکې وو واقعاً چې
یوه معجزه ده ، ۳۱۳ بې وسې
اوپلي انسانانو دتر زرو زیاتو
وسلوالو مقابله وکړه او بری یې
وموند په دې غزاکې دآسماني
تائید ډېرحیرانوونکې مناظر
ولیدل شول .

داخبره هم دیادولو وړ ده
چې دقریشو په لښکرکې اتفاق
اواتحاد هم موجودنه وو، مثلاً
عتبه دجګړې لپاره تیارنه و،
خودابوجهل دپیغورپه وجه
مجبورشو چې په جګړه کې
برخه واخلي ، په همدې شان
دزهري قبیل خلك هم
تربدرپورې راغلل اوبیرته
ګرځیدلي وو، بله وجه داهم وه
چې دجګړې له پیل نه لږمخکې
ډېرسخت باران واوریده چې
دهغې په وجه دقریشو دلیکو
ځای سخت چکړې شو.
یوه وجه داهم کیدای شي چې
دقریشو سردارانو دمسلمانانو
دشمیراندازه غلطه کړې وه ،
هغوی فکرکولو چې دمسلمانانو
پوځ ډېرزیات دی نوځکه
ډېروارخطا معلومیدل ، ان
ترد‌ې چې هغوی دمسلمانانو
شمېرد خپل پوځ څوچنده
تصورکړی و، دغه حالت د« ال
عمران» په سوره کې داسې
بیان شوی :
« دهغوی په سترګو کې
مسلمانان دځان دوه برابره
معلومیده »
سربیره پردې دقریشو دماتې
یوسبب داهم وچې په پوځ کې
یې نظم نه واونه یې خاص
هدف درلود، بلکې هرڅوك
دشخصي انتقام لپاره راوتلی
وو، دجګړې په میدان کې هم
دهغوی ترمنځ یووالی نه
معلومیده . خوبرعکس حضرت

محمد(ص) دخپل لښکرحضرت
حمزکړي وو، او دجګړې نه
بېړه شپه ځکه اسلامي لښکر
پوره خوب هم کړي وو اوکله چې
دجګړې ميدان ته لاړل
ټول پرتازه وو، په داسې حال
کې چې قريشو دبې نظمي اوبې
اطمينانۍ په وجه خوب هم نه
وکړي .
په دغه غزاکې خوارلس تنه
مسلمانان شهيدان شول چې
شپږيې مهاجراواتو انصار وو
خو بل پلوته دقريشو اصلي
زوروځوت ، دقريشو دقبيلو
مشران چې دخپل قوم
زړورسپاه سالاران تصورکيدل
ټول ووژل شول، په هغوکې
شيبه ، عتبه ، ابوجهل ،
ابوالخيري ، زمعه بن الاسود،
عاص بن هشام ، اوامية بن
خلف شامل وو، دقريشو نږدې
اوياتنه مړه اوپه همدې شمير
نور ټپيان شول .
پدې غزاکې دحضرت رسول
اکرم (ص) دستورداسې و
چې چيرته به هم کوم مړی
پيداکيده هغه به يې ښخاوه ،
خو څرنګه چې مړي ډيرزيات
شول اوځلاځلا ښخول يې ګران
وو، نو ټول لاشونه يې راټول
کړل اوپه يوه پراخه څاه کې
يې واچول خو دامية مړی چې
د نقل کولو ورنه و هغه يې
همله ترخاورولاندې کړ .
دجګړې په پای کې چې
دکفاروکوم بنديان مدينې ته
راوستل شول اودحضرت
محمد(ص) حضورته وړاندې
شول نوحضرت سوده (رض)
چې دحضرت محمد(ص) پاکه
مېرمن وه هلته موجوده وه ، په
هغو بنديانو کې دهغې
پردوست سهيل بن عمرو هم
و، کله چې دحضرت سودې
(رض) سترګې پرهغه ولګيدې

څو ورځې يې ويل ، ده غاصم
دښځوپه شان کړی په لاسوکې
اچولي ، که د ومره نراوزړور دوای
نودجګړې په ډګر کې به دې
ځان وژلی و، ددې خبرې په
اوريدوسره سهيل بن
عمروسترګې کښته واچولې .
دبدرد غزا بنديان صحابه
کرامو ددوه اوځلورځلورسره
ويشلي وو خو ورسره داحکم هم
ورته شوی وچې بايد بنديانوته
څه تکليف ونه رسيږي .
صحابه کرامو(رض) دحضرت
رسول اکرم صلی الله عليه وسلم
په دغه لارښوونه دزړه له کومې
عمل وکړ، خپل ځان به يې
وږی ساته خوهغوی به يې
مړول ، په بنديانو کې ابوعزيز
هم شامل وچې دمصعب بن
عمير وروركيده ، هغه وايي ،
زه چې دکوموانصاروسره بندي
وم، هغوی به ګهيځ اوبيګا
ډوډۍ راوړه زمامخې ته به يې
کيښوده، اوپخپله به يې
خرماوې خوړې، زه به ډير
شرميدم ، ډوډۍ به مې دوی
ته ورکوله خوهغوی به لاس هم
نه وروړ، اوپه ډيراصرار به يې
راته ويل چې ډوډۍ وخوره .
دانصارو دښه سلوک وجه
همداوه چې حضرت محمد(ص
) ورته لارښوونه کړې وه .
بنديانوکې يوډير فصيح
اللسانه شخص سهيل بن
عمير هم وچې په اکثر
غونډوکې به يې دحضرت
محمد(ص) پرخلاف وينا وې
کولې ، کله چې نوموړی بندي
شو نو حضرت عمر(رض)
پيشنهاد وکړ چې دوه
کوزغاښونه دې وايستل شي
چې بيانبه وينا ونشي کړای .
خو حضرت محمد(ص) ورته
وويل ! همرا که زه دهغه غړي
خراب کړم که څه هم چې زه

نبي يم خو خدای (ج) به په
جزاکې زما غړي همداسې
خراب کړي .
يوروايت داهم دی چې کله
حضرت محمد(ص) مدينې ته
ورسيد نو له صحابه کرامو سره
يې دبنديانو په باب مشوره
کوله . حضرت ابوبکر صديق
(رض) داسې تجويز وړاندې
کړ چې داټول زموږ خپلوان
اودوستان دي ، نو دفديې په
مقابل کې دې خوشې کړای
شي .
خوحضرت عمر(رض) داسې
نظرورکړ چې داسلام په مسئله
کې ددوست اودښمن ، خپل
اوپردي توپير روانه دی نوټول
بنديان دې ووژل شي
خوحضرت محمد(ص) دابوبکر
صديق (رض) پيشنهاد خوښ
کړ .
دبنديانو څخه يې څلورځلور
زره درهمه فديه واخسته ، هغه
چاچې دغربت په وجه پيسې
نه درلودې هغوی پرته له فديې
پريښودل شول اوچاچې ليکل
اولوستل کولای شوای هغوته
حکم وشو چې لس لس هلکانو
ته دې ليک لوست وروښيي نوبيا
به خوشې کړای شي ، حضرت
زيدبن ثابت چې مشهور
صحابي دی په همدې ډول
ليک لوست زده کړل .
انصاروورسول الله (ص) ته
وويل چې عباس زموږ خوريی
دی نږدهغه فديه دې معاف
کړای شي خومحمد(ص)
داسلامي عدالت اومساوات له
مخې داښه ونه بلله ، که څه هم
اصل فديه څلورځلورزره درهمه
وه خوله دولتمنو خلکو زياته
اخستل کيده په همدې لحاظ له
عباس نه هم زياته فديه
واخستل شوه .
هغه له رسول الله (ص) نه
شکايت وکړ، خو څه ورته

حکومت وهیڅوک چی په اسلامی
عدالت اومساوات کی دخپل
اوپردی ، خاص اوعام توپیر
توپیرونه ختم شوی . له یوه
پلوه وګوروچی داسلامی
عدالت له مخی حضرت
محمد(ص) دحضرت عباس
فدیه هم ورونه منله . خوله بل
پلوه که دمحبت
تقاضاوګورونوکله چی رسول الله
(ص) دحضرت عباس
زګیروی واوریدنوټوله شپه یی
آرام ونه کړ. کله چی خلکو
دهغه (عباس) غوټی خلاصی
کړی نوبیا رسول الله (ص)
لږڅه آرام شو .

په همدی ترتیب درسول الله
(ص) زوم ابوالعاص هم
دجګړی په بندیانوکی شامل
و؛ له هغه سره دفدیی پیسی
هم نه وی . حضرت محمد(ص
) خپلی لوربی بی زینب (رض)
ته چی دابوالعاص میرمن وه
اوپه مکه کی اوسیدله احوال
ولیږه چی دابوالعاص فدیه
راولیږی . حضرت زینب (رض
) دفدیی دپیسو ترڅنګ هغه
امیل هم محمدرسول الله (ص
) ته ورواستورو چی دواده
کیدوپه وخت کی حضرت بی
بی خدیجی (رض) هغی ته
دجهیز په توګه ورکړی و،کله
چی حضرت محمد(ص) هغه
امیل ولیدنود(۲۵) کلو پخوانی
محبت ورڅی ورپه یادشوی
اوبی اختیاره یی اوښکی راماتی
شوی ، اوصحابه کرامو ته یی
وفرمایل که ستاسی خوښه وي
نودلوریادګاره بیرته وروليږو »
.

ټولو صحابه وداخبرومنله
اوامیل یی بیرته واستوه ،
ابوالعاص خوشی شواوکله چی
مکی ته راغی نوحضرت زینب
یی مدینی ته واستوله .

ابوالعاص دپیرلوی تاجرو؛ له
دی پیښی څخه څوکاله وروسته
هغه دډیرمال سره دشام
(سوریی ؟ په تجارت روان شو
خوپه راګرځیدوکی دمال
اواسباب سره دمسلمانانو په
لاسوکی ولوید، دهغه تجارتی
مال اواسباب ټول په مجاهدینو
وویشل شول ، اودی په پټه
حضرت زینب ته ورغی هغی
پناه ورکړه، کله چی داخبر
حضرت محمد (ص) ته
ورسید، نو هغه (ص) خلکوته
وویل :

که مناسب بولی نوداابوالعاص
سامان بیرته ورکړی ، صحابه
وبیاهم داومنله اوټولو مجاهدینو
هرڅه بیرته راوړل ، خوداځل
ابوالعاص مکی ته په رسیدو
مسلمان شو دبدردغزا دویارمن
بری اوله هغه وروسته دجنګی
بندیانو سره دمسلمانانو ښه
چلند ډیرخلک متاثره کړل
اوډیرکفارداسلام په دایره کی
داخل شول، بی شکه چی
داخبره دخداوند متعال
سترزحمت و،چی یوموټی
مسلمانانو قوی کفاروته ماتی
ورکړه .

بل خواته کله چی مکی ته
دقریشودماتی خبرورسیدنودغم
چیغه پری ګډه شوه ښځوپه
لوړاوازژړل اوزړوسردارانوپه پټه
اوښکی تویولی .
خلکودکورونوچراغونه مړه کړل
. دقریشو سردارانو چی داله
غم اومایوسی ډک حال
ولیدنوپه چیغوییی خلکو ته ویل
چی مه ژاړئ :

په جګړه کی داسوددری زامن
هم وژل شوی وو، له غمه یی
زړه په چاودوخوله شرمه یی نه
شوای ژړلی ، ټولو هغو
خلکوچی خپلوان اودوستان یی
وژل شوی وو،سلګی اواوښکی
په زړه کی ساتلی . تصادفاً یوه
ورځ دکوم کورنه دژړا
آوازراوچت شو اسود
فکروکړچی ښایی سردارانو
دژړا اجازه ورکړی وی ، څکه
چی دکومی ښځی دژړا آواز
اوریدل کیږی . نودتصدیق
لپاره اسودخپل نوکرهلته
ورولیږه چی که ښځه په مړو
ژاړی چی زه هم دخپلو
دریوزامنو په مرګ اوښکی تویی
کړم . خوکله چی نوکربیرته
راغی وي ویل دهغی اوښ
ورک دی اوورپسی ژاړی ،
ددی خبری په اوریدوداسودله
خولی داشعرراووت :

«داوښ پروركیدو خوب نه
ورځی ژاړی
پراوښ مه ژاړه راشه
پربدرژاړه !
هلته چی قسمت دی کم لیك
شوی ،
که ژاړی نوپرعقیل وژاړه ،
اوپرحارث وژاړه
دهمدی په شان پرنوروزمریانو
وژاړه »

داسودپه شان داسلام یوبل
دښمن چی دعمیربن وهب په
نامه مشهوروهمداحالت درلود
یوه ورځ هغه اوصفوان بن امیه
په حجرمکی ناست وو
دبدرپرمقتولینویی ویرکاوه ،
صفوان ورته وویل : « په
خدای قسم چی اوس دژوند
خوند نشته دغه شرموونکی
ماتی زموږ سرونه ټیټ کړیدي
، زموږ ورمیږونه کاږه شویدی
، اوس په بازارکی هسك سرنه
شوګرځیدای ».

په ځواب کی عمیر ورته وویل
: « ته بیخی ربښتیا وایی ، که
پرماپورونه وای اوداولادغم
راسره نه وای نوپرآس سپریدم
نیغ مدینی ته ورتلم او(نعوذبالله
) حضرت محمد(ص) می واژه

، زمازوی هم دهغو سره بندی
دی ».

صفوان وویل : ته دپوراواولادفکرمه کوه ، دهغه مسئولیت زماپرغاړه ۰ زه به د تانه زیات هغه وپالم ، زه تاته دامشوره درکوم چی سملاسی خپل پروگرام عملی کړه اوروان شه .

دصفوان دغه مشوره دعمیرهم خوښه شوه کورته راغی توره یی په زهروولړله اومدینی ته یی ځان ورساوه . اتفاقاً دحضرت عمر(رض) سترگی پری ولیگدی اوپه نظرییی پوه شو نوترغاړې یی ونیو دحضرت محمد(ص) ... ورته یی راوست رسول الله (ص) ... وفرمایل : عمره! پریږده .

بیایی ... ... «ماته رانږدی شه »

کله چی هغه رانږدی شو نورسول الله (ص) پوښتنه تری وکړه . دڅه لپاره راغلی یی ؟

هغه وویل دخپل زوی دخلاصولو لپاره راغلی یم .

رسول الله پوښتنه وکړه داپه غاړه کی دی توره دڅه لپاره راوړی ؟

عمیر وویل ، آخرتوری په بدرکی څه په کارشوی ؟

رسول الله (ص) وفرمایل : ولی نه ، آیا تااوصفوان په حجر کی زمادقتل توطیه جوړه نه کړه ؟

درسول الله (ص) ددی خبری په اوریدوسره عمیرحیران شواوبی واکه یی وویل : محمد(صلی الله علیه وسلم) بی شکه ته پیغمبریی، په خدای قسم چی له دی پیښی نه له مااوصفوان پرته بل هیڅوك هم خبرنه وو.

څرنگه چی په مکه کی قریش دحضرت محمد(ص) دقتل دخبراوریدولپاره بی تابه وو. خودهغی په ځای یی چی کله دعمیر دمسلمانیدو خبرواوریدنودیره حیران اویه غصه شول .

حضرت عمیرلکه څومره چی دجاهلیت په زمانه کی له مسلمانانوسره عداوت درلوداوس داسلام په دوره کی داسلام ددښمنانو ستردښمن شو اوکله چی مکی ته ورسید نو نوروخلکوته یی هم داسلام دعوت ورکاندی کړاوډیرخلك یی داسلام دایری ته راداخل کړل .

دبدرغزاچی پرنورو غزاگانو کوم امتیاز لری هغه یوداهم دی چی خدای (ج) هغه په خپل پاك کلام کی په مفصل ډول ذکر کړیدی اودانفال سوره دبدردا حساناتو دتفصیل اوځینی مخصوصو مسائیلو لپاره مختص شویدی اوپه یوه ځای کی ارشادفرمایی :« بی شکه چی خدای په بدرکی ستاسی مرسته وکړه کله چی تاسی کمزوری وی نوله خدایه وویریږی اودهغه شکروباسی »
(آل عمران ۱۳)

دبدرغزا دکفراواسلام ترمنځ فیصله کوونکی غزا وه اوله دی وروسته داسلام په لوردخلکو بهیر رامات شو ډیرکافران مسلمانان شول کفار ورو ورو داسلام پرحقانیت پوهیدل اوله جهالت اوضدیت نه یی لاس اخسته ان تردی چی څوکاله وروسته ډیرهغه کسان چی په بدرکی داسلام اومسلمانانو په مقابله کی ولاړ وو داسلام په صف کی ودریدل اوداسلام په طرفداری یی توری وچلولی ، لکه دابوجهل زوی عکرمه ، ابوصفیان اونور ...

حقیقت شعایر

ازدیدگاه اسلام

مترجم : وحدتیار

شعایرجمع شعیره بوده که ازنظرمعنی برچیزی اطلاق می گرددکه دال برحقیقتی بوده مظهروعلامت آن باشد. به اصطلاح دین اسلام عبارت از آن مظاهرشریعت است که ازطرف خداورسولش برای شعورواحساس بخشیدن به یکعده حقایق معنوی بطورعلامت مقررگردیده اند.

اگرچه دربن مظاهرمقصودبالذات حقایقی می باشند که درآن مضمربوده این مظاهرحاوی آن می باشد؛ لاکن چونکه این مظاهر بذات خود از طرف خداورسولش معین گردیده اند، خودنیز قابل تقدیس می باشند.

بطورمثال: قربانی مظهرحقیقت اسلام است.

حقیقت اسلام اینست که بنده خودرا به تمام معنی به خدا بسپاردواز قربانی محبوب ترین چیزخود جلواودریغ نکند.

این حقیقت راحضرت ابراهیم علیه السلام باقربان نمودن پسرش حضرت اسماعیل علیه السلام به چنان کیفیتی تظاهر عمل بخشید که تاریخ انسانیت از ذکرنمودن نظیرآن عاجزاست.

روی همین علت است.که خداوند متعال برای یادبود این واقعه قربانی حیوانات رابحیث یك شعیره مقررنموده تابوسیله آن حقیقت اسلام دربین مردم برای همیشه زنده وجاوید بماند.

به همین ترتیب حجراسود نیز یك شعیره می باشد. این سنگ از زمان ابراهیم علیه السلام سمبول وعلامت تجدید عهد بندگی ومیثاق اطاعت باخدا بشمارمیرود. چنانچه دربعضی روایات ازآن به یمین الله نیز تعبیرگردیده است. به این معنی که بنده هنگامیکه بدست خود آنرالمس می کند گویابدست خدادست داده بااومجددا بیعت می کنند وزمانیکه آنرا بوسه می نماید گویا ازوفاداری وصحبت خود باخدا اظهارمیدارد.

همچنان جمره زدن نیز ازشعایرالله می باشد. این علامت وسمبول است برای اینکه حجاج باعمل برآن اظهاراین عزم واراده رامی نمایند که ازدشمنان بیت الله واسلام خواه ازنوع جن باشند یاازنوع انسان، اظهارنفرت وبرائت نموده برایشان نفرین ولعنت می فرستند وبرضد شان برای هرنوع جهاد جنگ آماده اند.

علی هذاالقیاس بیت الله نیزیك شعیره بلکه بزرگتر ازهمه شعایر می باشد که قبله ومرکز توحید تمام امت بشمامیرود.

مابا طواف اطراف آن وباقبله قراردادن آنرابرای همه نمازهاومساجدخویش این حقیقت رااظهارمیداریم که مابندگان خدائی هستیم که این خانه بنام اوتعمیرگردیده است صرف بسوی اورخ می کنیم فقط بندگی واطاعت ازاومی نماییم وبرشمع توحید او پروانه وارجان نثارایم.

به همین ترتیب صفاومروه نیز از شعایرالله می باشند. اگرچه بطورعموم چنان تصورمی گرددکه این شعایرعلامت وسمبول یادبودتگ ودوحضرت هاجره (رض) می باشد که برای پسرش حضرت اسماعیل علیه السلام آب تلاش می کرد. ولی نظرمحقق ومفکربزرگ مولاناحمید الدین فراهی اینست که اصل قربانگاه مروه می باشد درهمین مقام حضرت ابراهیم علیه السلام چنان به گرم جوشی به تعمیل حکم پروردگارش شتافت که خداوند برای یادبودآن این مقام راازشعایرالله قرارداد.

وسعی وتلاش والهانه اورا برای ابدمحفوظ نمود.

دررابطه به این شعایرچند مطالب اصولی واساسی رانباید فراموش کرد:

اول اینکه این شعایر ازطرف خداورسول
او مقررگردیده اند . احدی حق نداردکه
ازطرف خوددرین شعایرچیزی افزودنماید
ویاچیزی راازفهرست این شعایر خارج
نماید .

زیراازین نوع تصرفات بی مورد دروازه
شرك وبدعات دردین بازمیگردد

تاریخ گواه است براینکه اقوام ومللی که
ازطرف خود شعایرساخته اند بالاخره به
گرداب شرك وبدعات سقوط نموده اند .

دوم ازاینکه این شعایرازطرف خداورسول
او مقررگردیده اند، بنابرین حدود تعظیم
واحترام آن نیزازطرف خداورسول او
واضح گردیده اند . صورت وکیفیتی راکه
شریعت برای تعظیم هرشعیره معین نموده
است همان یگانه شکلی است برای
اظهارحقیقتی که درآن شعیره مضمرمی
باشد .

باسرموانحراف ازآن نه فقط انسان
ازحقیقت آن شعیره محروم می گردد، بلکه
خوف آن میرود که انسان دروادی شرك
وبدعات سرگردان گردد .

بطورمثال حجراسودیك شعیره است
کیفیت وصورت تعظیم آن اینست که
هنگام طواف ب... اده شود یابدست ها
لمس گردیده بعداً دست ...بوسه داده
شود ویا بطر... آن اشاره کرده شود،
این اشکال تعظیم آنرا خودپیامبراسلام
علیه السلام معین نموده اند . اگر کسی به
این اشکال وصورقناعت نکرده ازجوش
احساسات وجذبات جلوآن به زانو دراید
یابه او نذرانه پیش کند یابراوگل افشانی
نماید یا روی، اورا به چادرورداى زیبائی
بپوشاند یامثل آن کدام حرکت دیگر کند
به این گمان که وی تعظیم حجراسود را
بجاآورده است، وی نه تنها از حقیقتی
که درین شعیره مضمراست محروم می
گردد بلکه به شرك وبدعات مبتلاگردیده
بعوض کسب رضای خدا مستحق
قهروغضب خدا قرارخواهد گرفت .

سوم اینکه درین شعایراصلاً مطمع نظر
حقایقی می باشند که درآن مضمراند .

گویااین شعایربرای اظهاراین حقایق
حیثیت قالب وکالبدرا دارند . لذا رمز
زنده وجاوید ماندن ملت سلامي اینست
که این حقایق دردل ودماغ آن برای
همیشه تازه نگاه داشته شوند، اگراین
سعی وتلاش به رکود انجامد، روح دین
ازکالبداش برآمده صرف کالبدوقالب باقی
خواهد ماند که رفته رفته توجه مردم
بطرف این کالبدها وقالب ها
مرکوزگردیده درنتیجه دین به مجموعه از
رسوم تبدیل خواهد گردید .

زموږژوي هم ددښمن له بمباري نه په امان کي نه دي

مترجم " محمدمعروف "فروغگر"

د مسلمان وژلو جريمه

★ يو د بل پرضد د پروپاګندې او ناحقه دښمنۍ حرمت چې دوزخ ته د دخول موجب ګرځي:

امام احمد او طبراني په يو صحيح حديث کې له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله تعالى عنهما څخه روايت کړي چې هغه وويل:

رسول الله (صلى) فرمايلي دي:

(ومن خاصم في باطل وهو يعلمه لم يزل في سخط الله حتى ينزع ومن قال في مؤمن ماليس فيه اسكنه الله ردغة الخبال حتى يخرج مما قال وليس بخارج).

(يعني: هغه څوک چې په يو باطل او ناحق کار کې له چاسره دښمنې وکړي، په داسې حال کې چې پوهيږي - دا کارناحقه او باطل دي (د دښمنۍ او خصومت ارزښت نه لري) نو دى به ترهغه پورې د خداى (جل جلاله) تر همېشنى غضب لاندې وي - ترڅو له دې کارنه لاس واخلي، او هغه څوک چې د مؤمن په شان کې هغسې خبرې کوي چې په کې نه وي، الله (جل جلاله) هغه ته د دوزخيانو د زيړو اوبو او زوو په منځ کې ځاى ورکوي - تر هغه پورې چې د هغه څه ګناه څخه چې کړې يې دي ووځي، مګر نو له هغه څخه وتلاى نشي).

★ د قيامت په ورځ کې خورا ويروونکې پوښتنه:

نسايي په يو صحيح حديث کې داسې روايت کړي دي:

(يجئ الرجل اخذاً بيدالرجل فيقول: اي ربي! إن هذا قتلني فيقول الله لم قتلته؟ فيقول لتكون العزة لفلان فيقول إنها ليست لفلان فيبوء باثمه).

(يعني: د قيامت په ورځ کې يو سړى په داسې حال کې خداى (جل جلاله) ته حاضريږي چې د يو بل سړي لاس يې په لاس کې نيولى وي او وايي: اې زما خدايه! دغه سړي وژلى يم الله (جل جلاله) له هغه (قاتل) نه پوښتنه کوي: ولې دې - دى ووژه؟ قاتل ځواب ورکوي: د دې لپاره چې عزت فلاني سړي ته ورکړ الله (جل جلاله) ورته په ځواب کې وايي: عزت د هغه فلان نه دى او دا سړى د قتل د جرم بار پر اوږه وړي):

او په همدې شان دى حال د هغه چاچې ځان صرف د دې لپاره د دوزخ د اور مستحق ګرځوي چې فلانى دې د يو ياڅو کالو لپاره د مځکې د يوې دړې توټې حکمران شي!! څومره بې ارزښته او بابېزه دي دغه اريانوونکې دليل او دا قاتل؛ لکه چې ابن مبارك رحمة الله تعالى عليه وايي: دا کار له ډېرو لويدلو کارونو څخه هم لويدلي دي: "له ابن مبارك څخه چا پوښتنه وکړه: څوک بادشاهان دي÷ ويې ويل: زاهدان! پوښتنه ترې وشوه: احمقان څوک دي؟ ويې ويل: هغه کسان چې خپل دين د ژوند ژواك وسيله ګرځوي بيا پوښتنه ترې وشوه په احمقانو کې ډېراحمق کسان کوم دي؟ ويې ويل: هغه کسان چې د نورو دنيا د خپل دين د ورانولو په بيه آبادوي!

★ د مسلمان په وژلو باندې خوښي ښکاره کول:

ځينې هغه بدبخته کسان چې د مسلمانانو پرضد حملو کې ګډون کوي، له بيرته ستېندونه وروسته په ډېرې وياړ منې لهجې سره وايي: ما نن له مقابل لورې نه دوه درې کسان د ماشيندار په ګوليو والوزاوله!..

نه يواځې دا؛ بلکې هغه کسان چې په داسې جنګونو کې ګډون هم نه کوي خو مقابل لورې په جبن او کمزورۍ متهم کوي او پيغورونه ورکوي او د مسلمانانو وژل شجاعت او زړورتيا بولي!!

دا کسان بايد د رسول الله (صلى) دغه احاديث په غور سره ولولي، چې فرمايي:

(١) - ابوداؤود او ضياء په "المختاره" کې له عبادة بن الصامت رضي الله تعالى عنه څخه روايت کړي چې هغه وويل: قال رسول الله (صلى):

(من قتل مؤمناً فاغتبط بقتله لم يقبل الله منه صرفا ولا عدلا).

(یعني: رسول الله (صلی) وفرمایل: څوك چي کوم مسلمان ووژني او په وژلويي خوښ شي، خداي (جل جلاله) د هغه سړي فرضي او نفلي عبادات نه قبلوي).

(۲) ترمذي په یو صحیح حدیث کي له رسول الله (صلی) څخه روایت کوي چي ویې فرمایل:

(لوأن أهل السماء والأرض اشترکوا في دم مؤمن لکبهم الله عزوجل في النار).

(یعني: که د ځمکي او آسمانونو اوسیدونکي د یو مؤمن په وینه تویولو کي شریك شي (په ګډه سره هغه ووژني) خداي عزوجل ـ هغوي ټول په دوزخ کي نسکور غورځوي).

★ هغه جنګړي د حزبي او قبیلوي انګرنو پربنسټ مینځ ته راغلي وي:

شیخانو (بخاري او مسلم) له ابوهریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت کړی دي چي وي ویل:

قال رسول الله (صلی):

(من قاتل تحت رایة عمیة یغضب لعصبیة أو یدعو لعصبیة أوینصر عصبیة فقتل فقتلته جاهلیة ومن خرج علی أمتي یضرب برها وفاجرها ولایتحاشا من مؤمن ولا یفی لذي عهد عهده فلیس مني ولست منه).

(یعني: څوك چي د جهالت ترتوغ لاندي وجنګیږي په دي تلصبل چي د عصبیت (قومیت او نشنالیزم په ننګه کي) په ... لپاره بلنه ورکړي (خلك دعوت کړي) او د قومیت لپاره مرسته وکړي (د هغه ملاتړ وکړي) او په دي لاره کي ووژل شي، د ده دا وژل کیدل جاهلي دي، او هغه څوك چي زما پرامت باندي ودځي (پرهغه مسلمانه اقدام وکړي اویا بغاوت تري وکړي) د هغه ښه سړي او بد سړي ووهي (ووژني) او د مؤمن له قتل نه ځان ونه ساتي او په هغه وعده باندي چي له چاسره یي کړي وفا ونکړي، هغه زما څخه نه دي او زه د هغه نه یم).

خضرت پیغمبر (صلی) له قبیلو او قومي تعصب نه په شدت سره منعه کړي، فرمایلي یي دي:

(دعوها فانها متنة).

(یعني: تعصب پریږدي ځکه چي بدبویه دي).

او په بل ځاي کي یي فرمایلي دي:

(لینتهین أقوام یفتخرون بآبائهم الذین ماتوا انماهم فحم جهنم أولیکونن أهون علی الله من الجعل الذي یدهده الخرء بانفه إن الله أذهب عنکم عبیة الجاهلیة وفخرها بالآباء، إنما هو مؤمن تقی أو فاجر شقی، الناس کلهم بنو آدم وآدم خلق من التراب).

(یعني: هغه ګامونه چي پر خپل هغو پلرونو باندي چه مره شوي دي ویاړي او فخر پري کوي چي د دوزخ سکاره دی باید له خپل دي کار څخه ایسار شي (او که چیري دوي داسي ونکړي) خداي (جل جلاله) ته به هغه ګونګوټي څخه هم بي ارزښته دي چي مرداري په خپل پزه باندي مخکي ټیل وهي بي له شکه الله (جل جلاله) تاسونه د جاهلیت لوړتیا غوښتنه، او ویاړنه ستاسي ستاسي پلرونو اونیکونو چه د زماني خواست ولري کړي دي انسان یا متقي مسلمان دي یا بدکار او بدبخته، ټول خلك د ادم علیه السلام او لاد دي او ادم علیه اسلام له خاورو پیدا شوي دي).

PROPERTY ACKU

پیام راستین به مجاهدافغان

عزیز"چوپان"

مجاهدافغان بتوباشد هزارسلام
مابعدبتوابلاغ میشود چنین پیام
چندنکته نویسم که درذهن توباشد
مبنی برحقیقت است به تایید واهتمام
آن دشمن پلید که درامحای توبوده
روس لعین وپرچم وخلقند سگ وغلام
روسها که چندقرن درتلاش بوده اند
درخانه توراهی بیابند برمرام
درقرن بیست به مطلب ناپاك خودرسید
دست پلید یافت درآشیانه اسلام
کردعقد شیطنت درانکشاف مملکت
درامر سیاسی بنوشت عهد احترام
حکام کورمغزرامسخربه سحر کرد
مجال سوء ظن به ضمانت شده ارقام
باسازوبرگ کذب وبرنام دوستی
قباله مخفی گرفت ازرهبربدنام
روس هاکه بهرجاه نمودست چنین عقد
عقدش عوض بدشمنی گردید درانجام
آن طاغوت شرقی که بارمان خودرسید
ناسوردلش یافت بیك بارالتیام
آغازکردبکارخود باطرح وبه تدبیر
حزبی بیك هدف نمودتشکیل بادونام
نظم وامان تغییر کردبه غوغاوهرج ومرج
تظاهروجلوس مسلسل نمود دوام
مسندنشین غول به غروربودغرق عیش
این عنصرپلید که دیوانه بود بنام
فرجام شد چنین که تدبیررفت زدست
توهین برعدالت وشعایر اسلام
قدرت رسیدبدست غلامان روس پرست
شد جشن وسروربه کرملین نواین پیام
روس خبیث که یافت زمینه به تاخت وتاز
بالشکر وحشی نمودبه سوق الجیش اقدام
دادند آزمون دوستانه راچنان
شام وسحرنموده به ده سال قتل عام
چون سنگ سخره گشت فتوحات روس سگ
تا همچوشیر کردی درمقابلش قیام
کاری بکن که فخربه اخلاف توباشد
روحت حیات باشد ونامت به صبح وشام
ازصدق دل بکن پیروی دین خدا
بردشمن ملحدش دایم توبکن قیام
یابی زصدق وعشق جهادت براه حق
ترا که درکلام خداخوانی صبح وشام
فایق به مقصدت بشوی از صفاو عشق
حق است وعده های ذوالجلال والاکرام
ثابت قدم درعهد خودت باش هرزمان
عهدیکه درازل به خدا(ج) دادی التزام
تاگردن عدوی خدارا نبریدی
هرگز منهی تیغ جهاد ت را به نیام
پاداش پاسداری ات از سنگر اسلام
هفتادسال زهدو نماز است هم صیام
باتیغ اجل قطره اول که رود خون
حوران بکشد برسر زانو سرت مدام
باشیوه های نازو پر از مهر و محبت
گویند مبارك بتو بار بار این مقام
گرلذت پر کیف شهادت بچشیدی
خواهی توحی وموت بی شمارمستدام
این است پیام من بتوای جانباز حق
جانت بده بحق ، رسی تابه اوج کام

PROPERTY OF ACKU

نه، دی بزرګ نه، بلکي
نجیب الله دی. اوس دی د
اسلام له پاره کارکوي.
ZAHOOR.
د فرنټیر پوسټ په شکریه